ډالۍ

ټولو هغو مؤمنو ملتپالو او هېوادپالو ته، چې په هېوادنۍ رغاونه يې ملت ته هوساينه او آرامي بخښلې ده.

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مننه

د امریکا د متحده ایالتونو د سولې له انسټيټيوټ څخه د زړۀ له تله مننه کوو، چې د دې کتاب په خپرنې او چاپ کې يې له موږ سره مالي او تخنيکي مرسته کړې ده.

د دې کتاب د منځپانګې مسووليت د ليکوالانو په غاړه دی او په هيڅ ډول د انسټيټيوټ د پاليسيو استازيتوب نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم: د وطن معماران دويم ټوک

لـيکـوالان: شاه محمود مياخېل، څېړنوال عبدالقيوم مشوانۍ

کـمـپـــــوز: مشوانۍ

برېښناليکونه:

smiakhel@gmail.com - mashwanay۲@gmail.com

د پښتۍ ډيـــــزايـن:

چاپ شـمېر: ۲۰۰۰ټوکه

چاپ نـېـټـــه : ۱۳۹۵ل

چـاپـځــی : - کابل، افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ليکلړ


۱. سریزه ........................الف ـ و
۲. محمدهاشم میوندوال................................۱
۳. نوراحمد اعتمادي.................................۱۷
۴. محمد نعیم خان.................................۲۷
۵. عبدالصمد حامد.................................۴۳
۶. کبرا نورزۍ.......................................۴۹
۷. ډاکټر عبدالقیوم.................................۵۶
۸. معصومه عصمتي.................................۶۴
۹. عبدالواحد سرابي.................................۷۳
۱۰. سهیلا صدیق.......................................۷۹
۱۱. وزیر غلام فاروق ...............................۸۵
۱۲. عزیز الله واصفي.................................۹۰
۱۳. صالحه فاروق اعتمادي.........................۱۰۶
۱۴. میراحمد مولایي...............................۱۱۶
۱۵. عبدالحکیم کټوازی...........................۱۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library




١٦. عبدالحکیم طبیبي.................................١۴٢

١٧. لطیف کبیر سراج..................................١۴٧

١٨. علي احمد جلالي...................................١۵۵

١٩. محمدرحیم شیدا....................................١٧۴

٢٠. عبدالقادر قاضي.....................................١٨٠

٢١. بهاؤالدین مجروح...................................٢٠٣

٢٢. روشندل خان........................................٢١۴

٢٣. عبدالهادي خلیلزی..................................٢٢٨

٢٤.جنرال خاتول.........................................٢۴٠

٢٥. حمید هلمندی.........................................٢۴٨

٢٦. حلیمه خزان..........................................٢٧٠

٢٧. مستوره شال.........................................٢٧٩

٢٨. ماخذونه..............................................٢٨٩

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سر ځو خبري

د وطن معماران دويم ټوک چې ستاسې په لاس کې دی، د افغانستان د مهمو او مؤثرو اشخاصو د كارونو او خدمتونو تذكره ده. هركتاب چې چاپيږي، يو څه نيمگړتياوې لري؛ نو په دې توگه دا او هم مخكنی ټوک له دې قاعدې نه مستثنی نهٔ دي. موږ كوشش كړی چې دويم ټوک د لومړي ټوک په پرتله ښه كړو.

د وطن معمارانو په لومړې ټوک كې تر ټولو لويه نيمگړتيا دا راپه گوته شوې وه، چې له ښځينه و پكې څوک نه وې انتخاب شوې. ډېرو ښځو دا فكر كاوه چې گوندې موږ په قصدي ډول دا كار كړی دی. پر دې سربېره پر لومړي ټوک دوه نورې نيوكې هم وې، چې يوه يې د جمهور رئيس د فرهنگي سلاكار، اسدالله غضنفر صاحب له خوا د مشورې په توگه داسې وه:

((د كتاب كاغذ ډېر ښكلی دی؛ خو د دې ترڅنگ ډېر دروند دی، كه د دې په عوض متوسط وزن كاغذ انتخاب شوی وای نو زياتې كاپۍ به يې چاپ شوې او زياتو كسانو به ترې گټه اخيستلې وای.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم موږ په لومړی ټوک څلور زره کاپۍ (دوه زره پښتو او دوه زره دري) چاپ کړی و؛ خو بیا هم هغه څلور زره کاپۍ ډېر ژر خلاصې شوې؛ نو د غضنفر صاحب دا نیوکه او مشوره سمه وه چې موږ باید تر دې هم زیات ټوکونه چاپ کړي وای؛ البته موږ دا اټکل نه شو کولای، چې دا کتاب به دومره زیات مینه وال ولري.

د کتاب د مخکتنې په ورځ د اطلاعاتو او فرهنګ د وزیر محترم عبدالباري جهاني صاحب جدي نیوکه دا وه، چې ولې له موږ "د وطن معماران" په تذکره کې د پوهاند عبدالحی حبیبي او بېنوا صاحب په څېر مهم شخصیتونه هېر شوي دي.

د جهاني صیب ګیله او نیوکه پر خپل ځای؛ خو موږ غوښتل د هغو پخوانیو دولتي چارواکو په اړه څېړنې وکړو، چې د افغانستان په فزیکي ابادۍ کې برخه درلودلې ده او د هغوی زیاترو په اړه ډېرې کمې لیکنې شوي او یا هیڅ نه دي شوي؛ نو باید د هغوی کارنامې ثبتې شي.

د هغو کسانو په اړه چې پخپله هم ډېر اثار لري او هم پرې نورو ډېرې لیکنې کړې دي؛ فکر نه کوم چې د هغوی په اړه دې موږ نوي څه درنو لوستونکو او په ځانګړي ډول ځوانانو ته وړاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړای شو. د دغو مهمو کسانو په لېست کې د پوهاند عبدالحي حبیبي تر څنګ ډېر نور مشران لکه رښتین صاحب، خادم صاحب او په لس ګونو نور مهم لیکوال، شاعران او مؤرخین شامل دي، چې په اړه یې ښه مفصل معلومات وړاندې شوي او چاپ شوي دي.

په دې ټوک کې پر پاتې نرینه معمارانو سربېره د څو مهمو ښځینه و پېژندګلوۍ او کارنامې هم خوندي شوې دي. امېد دی چې دا سلسله دوام پیدا کړي او ډېر نور مستحق کسان، چې د افغانستان په ابادۍ او سوکالۍ کې یې په صداقت سره فعاله ونډه درلودلې ده، هم معرفي او په راتلونکې کې چاپ کړی شو. په دې دواړو ټوکونو کې چې د کومونو کسانو په اړه موږ معلومات راټول کړي او چاپ ته سپارلي دي، دا مشت نمونه خروار په توګه دي. ډېر نور شخصیتونه هم شته؛ خو د ټولو په اړه همزمان تحقیق او د هغه د چاپ اسانتیاوې امکان نه لري. زموږ هدف دا و او دی، چې خپل ولس او ځوانانو ته د خپل هېواد په ابادۍ کې د برخې اخیستنې لپاره د ښو کارونو او اشخاصو یو څو نمونې وړاندې کړو. په دویم ټوک کې بل نوښت دا دی، چې د څو ژوندیو نومیالیو پېژندګلوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم په کې راغلې ده. دا ځکه چې د چا په مړینې د هغه یادونه کوو او کارونه یې ستایو نو په ژوندونې یې هم باید خیال وساتو او د هر چا ښو کارونو ته ښه ووایو، چې په دې توګه زموږ په ټولنه کې د ټولو وګړو تر منځ یو مثبت رقابت رامنځ ته شي او خپله انرژي په مثبتو کارونو مصرف کړو.

لکه چې د لومړي ټوک په سریزه کې مې هم لیکلي وو، دې کسانو ښایي په خپل ژوند او کارونو کې تېروتنې هم کړې؛ خو ځوک چې کار کوي نو هرومرو تېروتنې هم کوي او ځوک، چې کار نه کوي نو بیا خو تېروتنې هم نه رامنځ ته کېږي. موږ باید همېشه په ټولنه کې د هغو اشخاصو او حکومتي چارواکو ښه کارونه تمثیل کړو، چې نورو ته د تشویق لامل وګرځي.

په افغاني ټولنه کې زموږ یوه لویه تېروتنه دا ده چې موږ یوازې د هر کس په منفي اړخ ډېر فکر کوو؛ خو مثبتو اړخونو ته یې کمه توجه کوو.

هسې اسانه غوندې برېښي؛ خو څېړنیزه لیکنه پراخ امکانات او پراخه سینه غواړي. داسې مه انګېرئ، چې دا کتابګوټی هم د څو کتابونو له پاڼو د یوه کتاب په بڼه رامنځ ته شوی دی. په دې کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر داسې کسان هم شته چې نه يې په اړه په تذکرو او کتابونو کې څه شته او نه يې د ټولنې اکثریت په ځانګړي ډول ځوانان له نامه سره اشنا دي.

دا کتاب نوي نسل ته دا په ډاګه کوي، چې که څه هم تېرو نظامونو ډېرې نیمګړتیاوې درلودې؛ خو د دې ترڅنګ يې د افغانستان استعدادونه روزل، د هغوی د رشد او پرمختګ لپاره يې لاره هواروله او اکثره کسان د خپل استعداد، لیاقت، پاکۍ او له خپل وطن او خلکو سره د مینې په اساس دغو لوړو پوستونو ته رسېدلي وو؛ نه د اوس په څېر په نورو اړیکو. که تاسې د دغو شخصیتونو ژوند، زده کړو او زحمت ته وګورئ؛ نو دا مسأله ډېره پکې ځلیږي؛ نو هیڅوک د اوس په څېر په پراشوټې توګه داسې لوړو موقفونو او چوکیو ته نه وو رسېدلي.

که څه هم ما د دې کتاب د اشخاصو په انتخاب، ماخذونو او فارمېټ کې زیاته برخه درلودلې ده؛ خو د تذکرې په اړه زیات ریسرچ او څېړنه عبدالقیوم زاهد مشوانی او عزیزالله "مبارز" کړې ده؛ نو زه له دوی نه مننددوی یم، چې په سختو شرایطو کې د افغانستان ګوټ ګوټ ته تللي دي. که د دوی مرسته او زحمت نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وای؛ نو ما په ځانګړې توګه نه شو کولای چې دا تذکره بشپړه او چاپ ته چمتو کړم. د دې کتاب زیات کریډټ مشوانی صاحب ته دی، چې تذکره یې ایډېټ کړې او هم یې دري ژبې ته ژباړلې ده.

په اخر کې له ټولو هغه دوستانو نه د زړه د کومي مننه کوم، چې موږ ته یې د دې شخصیتونو د غوره کولو او کتاب غني کولو په اړه لازمې مشورې راکړي دي؛ لکه پروفیسر علي احمد جلالي او کاوون کاکړ صاحب.

د خپل دفتر له همکارانواحمدطارق بهیج، عطاءالله علي زاده، عبدالوحید صبري او رفیع الله جواد نه هم مننه کوم، چې د دې کتاب په چاپولو کې یې مرسته کړې ده.

د یوهٔ متحد او سوکاله افغانستان په هیله

شاه محمود "میاخېل"

په افغانستان کې د امریکا د متحده ایالاتو د سولې د انستیټیوټ رئیس

۲۳مارچ/۲۰۱۷

وزیر اکبرخان، کابل- افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library





پــه ظــاهر لبــاس د هیچــا مــه غــولېږه
منځ يې گوره چې چغزي دی کـه متـاک

هغه په ناڅاپي ډول او د اړيکو په مټ لوړو څوکيو ته ونه رسېدۀ، هغه دولتي دنده له عادي ماموريته پيل کړه. کورنۍ يې هم په دولت کې هغسې اثر رسوخ نه درلود، چې د هغه په برکت راڅلېدلای وای. خپله پوهه، ځيرکي، زيارايستنه، صداقت او ديانت د هغه د پرمختگ او راڅلېدا تر ټولو غوره واسطې او رابطې وې. همدغه معنوي واسطې او رابطې وې، چې د منځني پوړ يو کس يې هم د عظمی صدارت تر څوکۍ ورساوه. دا شخص **محمدهاشم** نومېده او په **ميوندوال** مشهور شو.

محمدهاشم د حاجي عبدالحليم زوی پر۱۳۹۸ل=۱۹۱۹م کال د غزني په مقر کې زوکړی دی. ميوندوال تر دولسم ټولگي پورې په حبيبيه لېسه کې زده کړې وکړې. تر فراغت وروسته پر ۱۳۲۱ل د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مطبوعاتو په مستقل رياست کې مقرر شو او ډېر ژر د انيس جريدې د مدير په توګه وګومارل شو. د خپل ماموريت په لومړيو کې يې "پرديس" تخلص کاوۀ. بيا په هرات کې د اتفاق اسلام ورځپاڼې مدير وګومارل شو. څه موده وروسته کابل ته راغی لومړی ځل د دايرة المعارف عمومي مدير او بيا د انيس ورځپاڼې مدير مقرر شو.

د محمدداؤدخان د صدارت په پيل کې د مطبوعاتو د خپلواک رئيس په توګه په کابينه کې شامل شو. د مطبوعاتو تر مستقل رياست وروسته د پاچا مطبوعاتي مشاور شو؛ خو يو کال وروسته يو ځل بيا د مطبوعاتو د مستقل رئيس په توګه وګومارل شو.

په بهرنيو چارو وزارت کې د سياسي معين په توګه او بيا په پاکستان کې د افغانستان د لوی سفير او د دولت د فوق العاده استازي په توګه وټاکل شو. څه وخت وروسته په لندن کې د افغانستان د لوی سفير او فوق العاده استازي په توګه او له هغه ځايه د امريکا په متحده اياﻻتو کې د افغانستان د لوی سفير او فوق العاده استازي په توګه وګومارل شو؛ خو څه وخت وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو ځل بيا په پاکستان کې د افغانستان د لوی سفير او فوق العاده استازي په توگه وگومارل شو.

د ډاکټر محمديوسف په لومړۍ او دويمه کابينه کې د مطبوعاتو د وزير په تو گه مقرر شو. د ډاکټر يوسف تر استعفی وروسته د ۱۳۴۴ل د لړم په اوومه= ۱۹۶۵اکتوبر ۲۹مه د پاچا له خوا د کابينې په جوړولو وگومارل شو.

ميوندوال د اوږدۀ وخت لپاره د سردار داؤدخان او په ځانگړي ډول د هغه د ورور محمدنعيم خان ډېر نږدې ملگری و. پاچا د دۀ په گومارنې سره غوښتل چې له داؤدخان سره خپلې اړيکي بيا جوړې کړي. ميوندوال خپله کابينه په دې ډول اعلان کړه:

نور احمد اعتمادي د صدارت لومړی مرستيال او د بهرنيو چارو وزير.

عبدالستار شاليزی د صدارت دويم مرستيال.

جنرال خان محمد خان د دفاع وزير.

انجينر احمدالله د کورنيو چارو وزير، وروروسته عبدالستار شاليزی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالله يفتلي د ماليې وزير، وروسته عبدالکريم حکيمي.
ډاکټر محمدعثمان انوري د پوهنې وزير.
محمدحسين مسا د فوايد عامې وزير، وروسته انجينر احمدالله.
انجينر عبدالصمد سليم د کانونو او صنايعو وزير.
مير محمداکبر رضا د کرنې وزير.
محمدعثمان صدقي د اطلاعاتو او کولتور وزير، وروسته عبدالرؤف بېنوا.
ډاکټر نورعلي د سوداګرۍ وزير.
عبدالحکيم ضيايي د پلان وزير وروسته عبدالله يفتلي.
محمدعثمان انوري د عامې روغتيا وزير، وروسته پېغله کبرا نورزۍ.
ډاکټر محمدحيدر د مخابراتو وزير، وروسته عبدالکريم حکيمي.
عبدالله يفتلی مشاور وزير.
محمدخالد روښان د قبايلو مستقل رئيس.
عبدالغفور روان فرهادي د وزيرانو شورا منشي.

ميوندوال په خپله دوره کې د اساسي قانون تسويدوونکو هيڅ يوه ته مهمه دولتي دنده ورنه کړه. ډاکټر محمديوسف يې په بن

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې سفیر وټاکه. سید شمس الدین یو کال وروسته په قاهره کې سفیر شو. رشتیا وزګار پاتې شو، شفیق او عبدالصمد حمید ته داسې پستونه ورکړی شول، چې د هېواد په ورځنیو چارو کې یې لاسوهنه نه شوه کولای.

خلیل الله خلیلي یې د۱۳۴۵ل=۱۹۶۶م په مارچ کې په سعودي عربستان کې سفیر وټاکه. خلیلي د ډاکټر یوسف د حکومت په راپرځولو کې عمده نقش درلود، دا وخت یې د حکومت د یوه مخالف دریځ خپل کړی و او میوندوال ته ترې د ستونزو راولاړولو وېره موجوده وه.



میوندوال له پاچا محمدظاهرخان سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



میوندوال د صدارت د دندې تر پیل یوه میاشت وروسته لیږې پرتو سیمو ته په چورلکې کې سفرونه پیل کړل. دا پروګرام یې " خلکو ته ورځم" ونوماوه. هغه غوښتل له دې لارې له خلکو سره نیغ په نیغه خبرې اترې وشي او د هغو غوښتنې او نظریات په حکومت کې منعکس شي.

میوندوال د خپلې دورې په پیل کې اعلان وکړ، چې کابینه یې لېواله ده په افغانستان کې د نویو افکارو او نظریاتو استازیتوب او د خلکو د مدني حقونو په ورکړه کې مرسته وکړي. په همدې دوره کې د احزابو قانون طرح شو. مطبوعاتو په نسبي ډول خپلواکي ومونده، د دولت له چوکاټه بهر په لومړي ځل ځینې مطبوعات راوځلېدل. په١٣٤٥ل= ١٩٦٦م کې "پیام امروز" د لومړنۍ خصوصي ورځپاڼې په توګه خپره شوه. "وحدت" ورځپاڼې هم په خپرېدو پیل وکړ چې معتدل افکار یې خپرول.

د میوندوال په دوره کې تر ټولو مهمه هماغه د ١٣٤۴ل د لړم د ٣مې نېټې پر مظاهره چیانو د ډزو مسأله وه، چې باید حل شوې وای. د دغې پېښې د پلټنو لپاره د کورنیو چارو وزارت وګومارل شو. په پلټنو کې څرګنده شوه چې عبدالولي د ډزو قومانده ورکړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده؛ خو د کمېسیون رپوټ هیڅکله خپور نه شو. دې لړۍ دوام وموند او چې محصلینو له حکومته د ځینو نورو امتیازاتو غوښتنه کوله؛ لکه کامیابي دې له ٪ ۶۵څخه ٪۵۰ ته راټیټه شي، په ټولګي کې دې حاضري اجباري نه وي، ناکامانو ته دې د ازموینې دریم چانس او محصلینو ته دې د اتحادیو جوړولو اجازه ورکړې شي.



میوندوال د ۱۳۴۵ل کال د مرغومي په ۱۲مه د لغمان د سرخکانو پله پرانیسته کوي، ښي اړخ ته یې د ولسي جرګې رئیس "ډاکټر عبدالظاهر "هم لیدل کېږي.

میوندوال ته له پخواني حکومته داسې ستونزې ورپاتې وې، چې دهٔ ته یې د خپلو پروګرامونو د پلي کولو چانس ورنه کړ. دوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې په سياسي شخړو، لانجو، د محصلينو په مظاهرو، د ازادو جريدو په شور او ځوږ تېره شوه.

په هغه تور ولگول شو چې هغه او د حکومت ځينې وزيران يې له سي آی ای (CIA) سازمان سره همکاري لري. ميوندوال هڅه وکړه چې له دې تورونو ځان سپين کړي؛ خو د صديق فرهنگ په شمول مخالفينو يې هغه تر پای پورې په دې تور کړاوه. چپيان د هغه سخت مخالف وو، کله چې هغه په څرگنده د روغتيايي ستونزو له امله استعفا وکړه، چپيان ډېر خوشحاله وو، ځکه که چېرې هغه بريالی شوی وای له شک پرته چې د کمونستانو پلانونه يې خنثی کول.

په۱۳٤۸ل= ۱۹۶۹م کې يې د ملي شورا د ټاکنو په ۱۳مه دوره کې ځان ونوماوه؛ خو د حکومت د لاسوهنو له امله بريالی نه شو.

هغه په افغانستان کې د مترقي ډيموکراټ گوند بنسټ کېښود. د دې گوند مرامنامه د۱۳٤۵ل= ۱۹۶۶م په اگست کې له افغانستان راډيو څخه اعلان شوه.د دې مرامنامې بنسټ په غربي ټيپه سوسيال ډيموکراسۍ ولاړ و. اصلي سيال يې د خلق ډيموکراټيک گوند گڼل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېده. مترقي ډیموکراټ ګوند د مساوات په نامه خپرونه درلوده. دې ګوند، مشروطه پاچاهي، سوسیالیزم، ملیتوب او ولسواکي غوښته. هغه نظام چې دې ګوند غوښته باید د اسلام د سپېڅلي دین له قوانینو او مقرراتو سره یې سمون درلوداى. میوندوال یو فرهنګي انقلاب غوښتۀ؛ خو د دې انقلاب بنسټ باید مترقي او ډیموکراټه عقیده واى.

د میوندوال یوه پالیسي دا وه، چې ولس او حکومت سره نږدې کړي، ولس په حکومت باور وکړي او د هغو په ملاتړ او مرسته د هېواد د ترقۍ او سوکالۍ لپاره کار وکړي. د همدې موخې لپاره میوندوال په هېواد کې دننه نږدې ټولو ولایتونو ته سفرونه وکړل. له ولسونو سره یې ولیدل، د پاچا پیغامونه او سلامونه یې ورورسول او د هغوی ستونزې او عرضونه یې واورېدل. دا سفرونه پرلپسې وو او ان له یوه ولایته به یې هماغسې بل ولایت ته سفر کاوۀ. ځینې کورنې سفرونه یې دا وو:

د ۱۳۴۴ل د جدي په ۸ مه ننګرهار ته لاړ، هلته یې د فارم پر کتلو او لاربشوونو سربېره په ریګ شامردخان کې د جلال آباد ښار د پراختیا نقشه وکتله او لازمې لارښوونې یې وکړې. د همدغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال د قوس په ۱۹مه لغمان ته لاړ. د ۱۳۴۴ل په حوت کې پکتیا ته لاړ، په همدغې نېټې خوست ته لاړ او هلته یې د خوست د مېخانیکي مکتب معاینه کړ. د حوت په ۱۹مه د ځاځیو ولسوالۍ ته لاړ او په بېرته راتګ کې یې په سیدکرم کې د مچلغو بند هم له نږدې وکوت. د حوت په ۲۰ مه یې ارګون، زرمت او ګومل ته سفر وکړ.

د ۱۳۴۵ل د وري په لومړۍ نېټه سمنګانو ته ورسېد او هلته یې په ځانګړي ډول د پوهنې حالت وارزاوه. د وري پر دویمه بلخ ولایت ته لاړ او هلته یې د نورو ادارو پر جاجولو سربېره د خواجه ګوګردک او یتیم تاق د ګاز د تصفیه خونې د بنسټ ډبره کېښوده. په همدې سفر کې یې په مزارشریف کې د شادیان پارک پرانیسته وکړه. د وري په درېیمه فاریاب ته لاړ. د وري په پنځمه یې د مزار په کلفت کې د ګاز د پایپلاین د غځېدنګ معاینه وکړه او بیا کندز ته روان شو. هلته یې د دوشي- شېرخان بندر د سړک ډمبرولو کار له نږدې وکوت او د مؤظفینو توضیحات یې واورېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۱۳۴۵ل د وري په اتمه کندهار ته وخوځېد. په دې سفر کې يې ارزګان، زابل، چخانسور، هلمند او فراه ولايتونه وليدل.

د ۱۳۴۵ل د غوايي په ۲۰مه د کونړ په لور وخوځېد. د ۱۳۴۵ل د جوزا په ۱۱مه د بغلان پلخمري ته لاړ. د جوزا په ۲۰ مه د کابل-کندهار سرک د ډمبرولو د کار کتنې لپاره غزني ته لاړ. د ۱۳۴۵ل د سرطان په ۱۶مه د وازې خوا ولسوالۍ او مقر ته لاړ. د سرطان په ۱۷مه جاغوريو او مالستان ولسواليو ته لاړ او په جاغوريو کې يې د يوه پله د رغاونې د بنسټ ډبره کېښوده. د سرطان په ۱۸مه ناور ولسوالۍ ته لاړ. په دې ډول ميوندوال د هېواد بېلابېلو سيمو ته زيات سفرونه وکړل.

پر کورنيو سفرونو سربېره هغه ډېرو هېوادونو ته هم سفرونه وکړل او غوښتل يې چې له نړيوالې ټولنې سره د افغانستان اړيکې ټينګ او د هېواد د پرمختګ لپاره ورڅخه ګټه واخلي.

د ۱۳۴۴ل د مرغومي په ۲۱مه په سيمينار کې د ګډون لپاره تاشکند ته لاړ. هند ته د هند د صدراعظم لال بهادرشاه شاستري د مړي سوځولو په مراسمو کې د ګډون لپاره لاړ. ټاکل شوې وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې شاستري له تاشکنده د یوې ورځې لپاره افغانستان ته راشي؛ خو په هماغې ټاکلې ورځې ومړ.

د ۱۳۴۴ل کال د سلواغې په ۱۲مه پخواني شوروي اتحاد ته لاړ.

د ۱۳۴۵ل د وري په ۲۱مه یې د ترکیې د صدراعظم "سلیمان دیمیرل" په بلنه ترکیې ته سفر وکړ او د ترکیې له جمهور رئیس ښاغلی "جودت سونای" سره یې هم ولیدل. د ۱۳۴۵ل د وري په ۲۴ مه یې متحده عربي جمهوریت ته سفر وکړ. په دې سفر کې یې د متحده عربي جمهوریت له ولسمشر "جمال عبدالناصر" سره هم ولیدل.



ښاغلی میوندوال له "جمال عبدالناصر" سره په کتنه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۱۳۴۶ل د وري په درېيمه يې د امريکا د جمهور رئيس "ليندن جانسن" په بلنه امريکا ته سفر وکړ او د وري په ۷مه يې له هغه سره وليدل.

د ۱۳۴۶ل د وري په ۱۹مه يې فرانسې ته سفر وکړ او د هغه هېواد له صدراعظم او جمهور رئيس"جنرال دوګول" سره پر ليدنه سربېره يې د يونسکو له عمومې مدير "روني ماهو" سره هم وليدل.

په همدې ډول د ميوندوال په حکومت کې د نړۍ د مهمو هېوادونو صدراعظمان او جمهور رئيسان افغانستان ته راغلل. د ۱۳۴۴ل د مرغومي په ۱۱مه د پاکستان ولسمشر جنرال ايوب خان کابل ته راغی. د ميوندوال په بلنه د شوروي اتحاد صدراعظم "الکسي کاسګين" د ۱۳۴۴ل د مرغومي په ۲۴مه کابل ته راغی. تر دې د مخه د ۱۳۳۴ل په وږي کې هم هغه کابل ته راغلی و. د ۱۳۴۶ل د وري په ۲۶ مه د ملګرو ملتونو سرمنشي "اوتانت" کابل ته راغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ملګرو ملتونو سرمنشي" اوتانت" افغانستان ته د خپل سفر پر مهال د افغانستان له صدراعظم ښاغلي میوندوال سره په لیدنه کې ۱۳۴۶ د وري ۲۶مه

د چنګاښ تر کودتا نږدې دوه نیمې میاشتې وروسته شپه مهال د۱۳۵۲ل= ۱۹۷۳م د سپتمر په۲۴مه له کابل راډیو اعلان وشو، چې محمدهاشم میوندوال، خان محمدخان مرستیال، ډګر جنرال عبدالرزاق خان، د هوایي ځواکونو افسر سیدامیر، ډګروال زرغونشاه، ډګروال کواټ خان، ډګرمن مهرعلي، عارف شینواری او یو شمېر نورو د یوه بل هېواد په مرسته غوښتل چې د جمهوریت پر ضد یوه توطیه وکړي، نو هغوی ټول ونیول شول او د هغوی دا خیانت به ډېر ژر رسوا شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوولس ورځې وروسته یعنې د۱۳۵۲ل= ۱۹۷۳م کال د اکتوبر په لومړۍ نېټه بیا هم د راډیو له لارې اعلان وشو، چې میوندوال په زندان کې په خپله نکټايي ځان له مرۍ راځوړند کړی او وژلی دی.

محمدهاشم میوندوال له سلطانې میوندوال سره واده کړی؛ خو اولادونه یې نه درلودل.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- پوهه، ځيرکي، زيارايستنه، صداقت او ديانت ورته تر ټولو غوره واسطې او رابطې وې.
- ملي ګټو ورته لومړيتوب درلود، ځکه خو يې د وصيت له مخې خپله شتمني تر مړينې وروسته دولت ته وبخښله.
- فکر يې نه محصوراوه او نه يې واژه، بلکې فکر ته يې وده ورکوله.
- له ولس سره يې د حکومت د نږدې کولو ښې او غوره لارې چارې خپلې کړې وې.

❋❋❋

❋❋❋

(c) ketabton.com: The Digital Library





د دیموکراسۍ لسیزه د افغانستان په معاصر تاریخ کې د سیاسي بدلونونو له پلوه ډېره مهمه ګڼل کېږي. په دې لسیزه کې څو لومړي وزیران وټاکل او ګوښه شول. که څه هم د دې لسیزې ټول لومړی وزیران د هېواد مهمې علمي او سیاسي څېرې وې؛ خو د هغه مهال ځینې ګډوډیو او د ملت د پوهنیزې کچې ټیټوالي نږدې ټولو ته موقع ور نه کړه، چې خپلې دورې بشپړې کړي او تاریخ د هغوی د دورو په پای کې د هغو په خدمتونو او پرمختګونو بشپړ قضاوت وکړی شي؛ په دغو څېرو کې یو هم **نوراحمد اعتمادي** دی.

نوراحمد اعتمادي د غلام محمد زوی او د اعتمادالدوله عبدالقدوس خان لمسی و. اعتمادالدوله د امان الله خان په واکمنۍ کې د صدراعظم حیثیت درلود. اعتمادي هم له محمدزي کورنۍ او د سردار محمدداؤدخان له کلکو پلویانو څخه و. هغه په ۱۳۲۵ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې له سردار محمدنعیم خان سره په لندن کې د افغان سفارت د سرکاتب د کفیل په توګه دنده درلوده.

کله چې د محمدداؤدخان او محمدظاهرخان تر منځ زړه بداوی رامنځ ته شو؛ نو اعتمادي هڅه کوله چې هغوی سره پخلا کړي؛ خو څرنګه چې د دواړو تر منځ حالات ډېر خړپړ شوي وو؛ نو اعتمادي په دې کار بریالی نه شو.

کله چې محمدهاشم میوندوال تر ۱۸ورځې کم دوه کاله صدارت وروسته له چوکۍ څخه استعفی ورکړه؛ پاچا محمدظاهر د ۱۳۴۶ل د لړم په ۹ نېټه نور احمد اعتمادي د کابینې پر جوړولو وګومارۀ. هغه د لړم په ۲۳مه له ملي شورا رایه واخیسته او خپله کابینه یې په دې ډول اعلان کړه:

نوراحمد اعتمادي صدراعظم.

عبدالله یفتلي د صدارت لومړی مرستیال.

ډاکټر عبدالقیوم د صدارت دویم مرستیال او د پوهنې وزیر.

ستر جنرال خان محمدخان د ملي دفاع وزیر.

انجینر محمدبشیر لودین د کورنیو چارو وزیر.

عبدالصمد حمید د پلان وزیر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر محمدامان د مالیې وزیر.

ډاکټر محمداکبر عمر د سوداگرۍ وزیر.

انجنیر محمدیعقوب لعلی د ټولګټو وزیر.

ډاکټر محمود حبیبي د اطلاعاتو او کولتور وزیر.

انجنیر عظیم ګران د مخابراتو وزیر.

پوهاند ابراهیم سراج د عامې روغتیا وزیر.

امان الله منصوري د کانونو او صنایعو وزیر.

عبدالحکیم د کرنې وزیر.

مېرمن شفیقه ضیایي مشاوره وزیره.

پوهندوی غلام علي امین مشاور وزیر.

پوهنیار سید مسعود د مطبوعاتو مستقل رئیس.

(c) ketabton.com: The Digital Library





نور احمد اعتمادي په ولسي جرگه کې

د اعتمادي د صدارات پر مهال يو ځل بيا د زده کوونکو او محصلينو مظاهرو زور واخيست او لمنه يې له کابله ان ولايتونو ته هم وغځېده. د کابل مهمو ښوونځيو او تحصيلي ادارو يو شمېر سختې غوښتنې اعلان کړې او هغه يې د اعتمادي حکومت ته راولېږلې، چې ځينې مهمې يې دا وې:

- د پوليسو کړه بايد وغندل شي.
- مسوول کسان بايد مجازات شي.
- هغو کسانو ته دې تاوان ورکړي، چې مالونه يې چور شوي يا تپي شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





نوراحمد اعتمادي او د کابينې غړي د اعتماد رایو تر اخیستلو وروسته، له پاچا محمدظاهرخان سره په دلکشا ماڼۍ کې

- د پوهنتون په چارو کې د حکومت د نه لاسوهنې تضمین دې وشي.
- د پوهنتون په انګړ کې دې سیاسي فعالیتونو ته اجازه ورکړل شي او نیول شوي شاګردان دې پرېښودل شي.

څرنګه چې حکومت دا غوښتنې ونه منلې؛ نو مظاهرې شپږ میاشتې اوږدې شوې. حکومت پوهنتون رخصت کړ، لیلیه یې وتړل شوه او لږ وخت وروسته د پوهنې وزیر هم د مظاهرو د دوام له امله د لیلیو تړلو اعلان وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library





اولین جلسه کابینهٔ جدید ښاغلی نوراحمد اعتمادی صدراعظم در قصر صدارت

صدراعظم هم د دې مظاهرو پر وړاندې سخته وينا وکړه او هڅوونکو ته يې د جزا ورکولو ګواښ وکړ؛ خو يوازې دا نه چې کمې نه شوې، لا زياتې شوې او محصلين او شاګردان هم ټولګيو ته نه حاضرېدل. دا مظاهرې ان د ډاکټر عبدالظاهر تر صدارته روانې وې. د ډاکټر ظاهر په دوره کې حکومت د مظاهره چيانو غوښتنو ته غاړه کېښوده او په پايله کې د پوهنتون شورا او د پوهنې وزير استعفى وکړه؛ نو په دې ډول چيپان په خپلو غوښتنو کې بريالي شول.

د اعتمادي په دوره کې څلور نړيوال سيمينارونه جوړ شول:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خطي نسخو د ننداري نړیوال سیمینار ۹/۵/۱۳۴۵، د کوشاني ځېړنو نړیوال سیمینار۲۲/۲/۱۳۴۹، د خوشحال خان خټک نړیوال سیمینار۲۴/۵/۱۳۴۹ او د امریکا د متحده ایالتونو د نړیوال انکشاف د اداري په همکارۍ- د اوبو لګونې نړیوال سیمینار.


همدا رنګه د ملګرو ملتونو د اړوندو مؤسساتو د تخنیکي مرستو لومړنی پلاوی په ۱۳۴۹ل کې افغانستان ته راغی.

ویل کېږي، چې اعتمادي د چپیانو پلوي او له پرچم ډلې سره یې اړیکي درلودل. د هغه په دوره کې چپیانو زور وموند، چې د لینن د کلیزې په مناسبت د پرچم په جریده کې د هغه لوی انځور چاپ او پر هغه درود ویل شوی و؛ نو له همدې امله ملایانو او روحانینو سختې نیوکې او اعتصابونه کول. په پل خشتي جومات کې شاوخوا درې زره کسان راټول شوي وو، چې د حکومت له خوا په زوره له هغه ځایه پورته او په بسونو کې خپلو سیمو ته ولېږدول شول. بسونو ته د خېژولو پر مهال یې د مرګ پر کمونستانو، مرګ پر لینن، مرګ پر اعتمادي، مرګ پر سرداروليي او داسې نور شعارونه ورکول. د دې کار پر وړاندې حکومت یوازې د پرچم جریدې پر مصادره کولو بسنه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه مهال د ولسي جرگې دوره درې کلنه وه د يوې دورې وخت پای ته رسېدلی او د بلې د ټاکلو وخت رارسېدلی و؛ خو د دغو دواړو دورو وکيلان له گوتو په شمېر کسانو پرته نالوستي وو او يوازې د خپل زور او زر په وسيله ټاکل شوي وو. وايي چې د اوسني پارلمان په څېر هغه مهال هم د هغو زياتره وخت د وزيرانو



صدراعظم نوراحمدي اعتمادي له "الکسي کاسگين" سره په ليدنه کې

په احضارولو، خپل ځواک ښودلو او بې ځايه مناقشو او جنجالونو تېرېدهٔ. همدې اوضاع اعتمادي په ارواييي ستونزو اخته کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پاچا له ځانګړي ډاکټر عبدالفتاح نجم سره د درملنې لپاره فرانسې ته لاړ. درملنه يې هم وشوه؛ خو د حکومتوالۍ جرأت يې له لاسه ورکړی و.

کله چې يې له خپلې کابينې سره په ولسي جرګه کې د وکيلانو پوښتنو ته له ځواب ورکولو ډډه وکړه او له خپلې کابينې سره د جرګې له غونډې ووت. وکيلانو پرېکړه وکړه چې له حکومت څخه د اعتماد رايه بېرته واخلي، خو پاچا نه غوښتل چې د بې اعتمادۍ له امله دې اعتمادي لېرې شي؛ نو په پټه موافقه وشوه چې اعتمادي دې پاچا ته استعفا وړاندې کړي. په پای کې۱۳۵۰ل= ۱۹۷۱د مۍ په۱۶مه نېټه اعتمادي د استعفی له لارې د عظمی صدارت چوکۍ پرېښووده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- د ملګرو ملتونو د اړوندو مؤسساتو د تخنیکي مرستو لومړنی پلاوی د همده په دوره کې افغانستان ته راغی.
- د طب پوهنځي په تأسیس سره د ننګرهار پوهنتون بنسټ ایښودل.
- د کوشاني څېړنو د نړیوال مرکز تأسیسول.

❋❋❋

❋❋❋

(c) ketabton.com: The Digital Library





که د انسانانو څېرې سره بېلابېلې دي؛ نو يې ورټياوې، مزاجونه، خويونه، نظريات او ښه بد ګڼل هم سره بېلابېل دي. نه به سل په سلو کې د دوه کسو څېرې سره يو ډول پيدا کړی شو او نه به يې نظريات. د ډېرو مشهورو افغاني څېرو په اړه هم ښايي نظريات بېلابېل وي؛ خو قضاوت د ټولنې په اکثريت کېږي. يو له هغو مشهورو څېرو او اشخاصو، چې افغاني ټولنه ورته په ډېره درنه سترګه ګوري؛ سردار **محمدنعيم خان** دی.

محمدنعيم خان(۱۹۱۱اپريل۲۷مه- ۱۹۷۸م=) د محمد عزيزخان دويم زوی او د محمدداؤدخان کشر ورور دی. دا دواړه د پاچا "محمدظاهر خان" د تره زامن دي. سردار محمدنعيم خان پر ۱۲۹۰ل= ۱۹۱۱م کال اپريل، د کابل ښار په ده افغانانو کې زېږېدلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نعیم خان لومړنۍ او دویمنۍ او عدادیه زده کړې په حبیبیه او اماني لېسو کې تر هغه وخته وکړې، چې د کلکاني په اړ و دوړ کې ټول ښوونځي وتړل شول. په همدغه اړ و دوړ کې د کورنۍ له ځینو غړیو سره یو ځای په ارگ کې بندي و. د هېواد تر نجات وروسته د خپل تره محمدنادر په لارښوونه د ترور له زوی سردار اسدالله سراج سره چې دواړه په زندان کې شکنجه شوي وو، د روغتیایي معایناتو او پامبدلۍ لپاره د لومړي ځل لپاره له هېواده باندې برتانوي هند ته په ۱۳۰۸ل= ۱۹۲۹م کې سفر کوي.

له سفره تر راستنېدو وروسته په ۱۳۰۹ل= اکتوبر۱۹۳۰م کې په بهرنیو چارو وزارت کې د عمومي سیاسي مدیر په توگه وگومارل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





سردار نعیم خان له "انور سادات" سره

بیا پر ۱۳۱۱ل= ۱۹۳۲م د ایټالیا په روم کې د افغانستان مختار وزیر په توګه وګومارل شو.

په ۱۳۱۳ل= ۱۹۳۴م کې د بهرنیو چارو وزارت د کفیل معین و.

په ۱۳۱۴ل= ۱۹۳۵م د بهرنیو چارو وزارت کفیل او لومړی سیاسي معین و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۳۱۵ل= ۱۹۳۶م کې د سردار فیض محمدخان زکریا په غیابت کې چې اروپا ته تللی و، د وزارت د کفالت دنده يې پر غاړه وه او ورسره د عبدالمجید خان زابلي په غیاب کې چې هغه هم اروپا ته تللی و، د افغان ملي بانک اجرایه آمر هم و.

په ۱۳۱۶ل= ۱۹۳۷م کې يې د پوهنې د وزیر په توگه کابینې ته لاره ومونده. اووه کاله پرلپسې د پوهنې وزیر و؛ خو تر څنگ يې څه وخت د عظمی صدارت مرستیال هم و.

په ۱۳۲۴- ۱۳۲۵ل کې په لندن کې د پاچا فوق العاده استازی او مختار وزیر شو. په ۱۳۲۷- ۱۳۲۸ل کې په واشنگټن کې د پاچا لوی سفیر شو.

له ۱۳۳۲ل تر ۱۳۴۲ل پورې د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر و.

سردار محمدنعیم خان لا د ځوانۍ په وخت کې د هغې وړتیا او لیاقت له مخې چې درلوده يې، د بهرینو چارو په وزارت کې په مهمو پستونو د هېواد دننه او د باندې کار وکړ.

هغه خپله ټولنه او خلک ښه مطالعه کړي او پېژندلي وو او همدا رنگه په نړیوالو سیاستونو او نیتونو به بشپړ ډول خبر شخص

(c) ketabton.com: The Digital Library



و؛ نو ځکه په هېواد کې د غوره او تجربه کار ډيپلومات شخص په توگه را څرگند شو.



سردار محمدنعيم خان په تهران کې د ايران له پاچا سره

کانديد اکاډميسين داکتر محمديعقوب "واحدی" د نعيم خان د شخصيت په اړه وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library





((سردار نعیم خان در تأسیس انجمن تاریخ و تقویت آن همچنان در تأسیس پښتو ټولنه و پوهنځی علوم اجتماعی پوهنتون کابل نقش مهم و کلیدي داشت. وزیر معارف بود، در گسترش معارف و تکمیل نمودن دائرة المعارف کارهای مهم و بارز را انجام داده است. ادم نرم و حلیم بود، اما جدی در کارهای دولتی. در دفاتر بروکراسی را خوش نداشت و طرفدار سرعت و صداقت در امور حکومتداری بود.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه په دوره کې پوهنې ته ډېر خدمتونه وشول. د نويو علمي مؤسساتو تأسيسولو ته يې ځانګړې پاملرنه وه، د ساينس، حقوقو او سياسي علومو او ادبياتو پوهنځي يو په بل پسې د هغه په دوره کې تأسيس شول.

په ۱۳۲۹ل کې يې د حقوقو او سياسي علومو د پوهنځي تر تأسيس د مخه د بهرنيو چارو وزارت، پوهنې وزارت او ځينو نورو ادارو د مامورينو د علمي سويې او ځنګيزو معلوماتو د لوړولو لپاره د مطبوعاتو مستقل رياست د علومو اکاډمۍ په نامه د پوهنې وزارت په ودانۍ کې تأسيس کړ، چې درسونه يې په خپله خوښه او د مازيګر تر رخصتۍ وروسته وو. د ترکي يوه مشهور استاد محمدعلی"داغيبونار" چې د بهرنيو چارو وزارت حقوقي مشاور و، د دې ادارې د څارنې او تدريس چارې پر غاړه درلودې. نور استادان يې عبدالحی خان عزيز چې په فرانسه کې يې زده کړې کړې وې، استاد شرشايق، د فقهې عالم استاد عبدالکريم خان او نور پوهان وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه مهال چې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی جوړ شو، د دې اکاډمۍ یو شمېر شاملین د سویې تر سختې ازموینې ورکولو او بریالیتوب وروسته په دغه پوهنځي کې شامل شول.

د سردار محمدنعیم خان د پوهنې د وزارت په دوره کې "پښتو ټولنه" جوړه شوه، چې په هېواد کې یې د علم او فرهنګ لپاره ډېر خدمت وکړ او ډېر شمېر څېړنیز پښتو او دري علمي آثار یې ټولنې ته و ړاندې کړل.

د همده په دوره کې په ۱۳۲۲ل کې په نصاب کې د پښتو ژبې تدریس شامل شو. د دولت پر ټولو مامورینو د پښتو ژبې کورسونه لازمي شول؛ خو د مسلکي ښوونکو د نه شتون له امله څه وخت وروسته دا کورسونه بند شول.

د سردار نعیم خان په دوره کې ښځینه ښوونځي یو په بل پسې تأسیس شول. په دې دوره کې له پوهنې وزارت سره د لوستو او تحصیل کړو همکاري د پراختیایي پلانونو په پرمخبیولو کې د پاملرنې وړ وه.

دارالمعلمینونو هر کال مسلکي ښوونکي فارغول، چې فارغان به یې د ښوونکو او د ښوونځیو د امیرانو په توګه ولایاتو ته لېږل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدل. له پلان سره سم په ولایتونو کې هم ښوونځي یو په بل پسې جوړېدل.

سردار محمدنعیم خان له خپلې ورتیا او تجربې تل مثبته ګټه اخیستله، کله چې هغه د بهرنیو چارو وزیر وګومارل شو، په دې وزارت کې یې هم نوښتونه وکړل؛ په خپله یې د وزارت له پخوانیو مامورینو څخه د سویې ازموینه واخیستله. کوم کسان چې په ازموینه کې بریالي نه شول، هغه یې نورو وزارتو او ادارو ته ورولېږل او تر ازموینې وروسته په بهرنیو چارو وزارت کې لوستي او تحصیل کړي مامورین د دیپلوماتانو په توګه په دندو وګومارل شول.

په بهرنیو چارو وزارت کې به د بهرنیو پستونو لپاره د وزیر په حضور کې ازموینه اخیستل کېده او بریالي کسان به ګومارل کېدل. سردار نعیم خان د بهرني سیاست په چارو کې پر بشپړې پوهې او تجربې سربېره له ځان سره ښه کاري ډله درلوده او په تصمیم نیولو کې به یې د هغو پر مشورو عمل کاوه.

د پښتونستان موضوع، د افغانستان دودیز مثبت ناپېیلتوب، د ناپېیلو هېوادونو په سازمان کې غړیتوب او ان د هغو له بنسټوالو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښخه شمېرل کېدل، د افغانستان د هغه مهال د شاهي دولت نظر او سیاسي ډیپلوماسۍ پلي کېدل، د دې مدبر وزیر له تجربو او نظریاتو ښخه ګڼل کېږي. ټولې پالیسۍ معقولې او په سالمه بنه تر سره کېدې. افغانستان په بین المللي غونډو کې د غورې ونډې ښښتن شوی و. نعیم خان د خدمت په موده کې هر کال د بهرنیو چارو د وزیر، پاچا، د دولت او حکومت د استازي په توګه د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلۍ په کلنیو غونډو کې له خپلو لوړ پوړو چارواکو سره ونډه اخیسته.

د ناپېیلي هېواد په توګه افغانستان هغه مهال ځانګړی نړیوال شهرت تر لاسه کړ. په متحابه هېوادونو کې مختار وزارتونه لویو سفارتونو ته لوړ شول. د دوستو هېوادونو بلا عوضه مرستې د انکشافي پلانونو په عملي کولو کې ډېرې اغېزناکې وې.

د سردار محمدنعیم خان زوی عزیزنعیم هم زموږ د هېواد له مهمو مؤرخینو او پېژندل شویو ښېرو ښخه و.

عزیزنعیم په ۱۳۱۷ ل کال په کابل ښار شاهي کورنۍ کې دې نړۍ ته سترګې وغړولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عزیزنعیم لومړنۍ زده کړې په شاهي دربار او وروسته په استقلال لیسه کې تر سره کړې. بیا یې د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځۍ ولوست. عزیزنعیم په کابل پوهنتون کې د حقوقو له پوهنځي څخه تر فارغېدو وروسته د نورو لوړو زده کړو لپاره امریکا او انګلیستان ته لاړ.

سردار عزیزنعیم په بهر کې تر لوړو زده کړو وروسته سمدلاسه هېواد ته راستون شو او د کابل پوهنتون په حقوقو پوهنځي کې یې د تاریخ د استاد په توګه په کار پیل وکړ. دغه دنده یې ښه په مینه پر مخ بیوله.

استاد عزیزنعیم په ۱۳۵٦ل کال په لندن کې د افغانستان د سفارت سکرتر وټاکل شو؛ نو هلته لاړ. کله چې په ۱۳۵۷ل کال د غوایي خونړۍ کودتا وشوه او په لومړي سر کې د محمدداؤد خان ټوله کورنۍ شهیده کړای شوه. عزیزنعیم د شهید محمدداؤد خان د کورنۍ یوازینی شخص دی چې د غوایي په کودتا کې له غوبل څخه ژوندی پاتې شو. د غويي له کودتا وروسته یې له دندې لاس واخیست او هلته په لندن کې جلاوطنه پاتې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار عزیزنعیم په جلا وطنۍ کې ارام کښېناست، بلکې خپلو ملي ازادي غوښتونکو مبارزو ته يې دوام ورکړ.له هېواده د بهر خپرېدونکو مطبوعاتو له لارې يې خپله مبارزه توده وساتله؛ په مجاهد ولس او نورو خپرونو کې يې وخت پر وخت لیکنې راغلې، نړیوالو مطبوعاتو ته يې د افغانستان د حالاتو د روښانولو په اړه وخت پر وخت لیکنې کولې او په مرکو او تبصرو يې دغه لړۍ توده ساتله.

استاد عزیزنعیم په خپله یوه وروستۍ مرکه کې چې له اسمایي مجلې سره يې کړې، افغانستان د حالاتو په اړه خپل ملي دریځ داسې روښانه کوي:



آنچه که به نام دولت اسلامی یاد می گردید پیش از این که تشکیل شود و هنگامیکه "دولت اسلامي" صرف به نام بر قسمت اعظم خاك افغانستان حاکمیت داشت، به جای شوراهای قلابی

(c) ketabton.com: The Digital Library



"اهل حل و عقد" و "هرات" برای بقای خویش، باید به اساس تقسیم اوقات قبلاً تعیین شده، بعد از مدت چهار ماه می گذاشت که حکومت مؤقت زمینه را برای سازماندهی آیندهٔ افغانستان مساعد سازد. برعلاوه، منسوبین دولت اسلامی حتی الامکان کوشیدند تا اختلافات نژادی، قومی، زبانی و مذهبی را دامن زنند. اینان همچنان نتوانستند حاکمیت سرتاسری را نه تنها در افغانستان تأمین کنند، بلکه پایتخت نیز در نتیجه به چندین حوزه بین تنظیم های رقیب تقسیم گردید، ظهور طالبان در حقیقت عکس العمل در برابر همچو بی سر و سامانی بود!

...

با این بررسی با کمال تأسف باید گفت که در نتیجه واقعات اخیر در کوتاه مدت، میان مدت و دراز مدت، افغانستان عزیز ما شاهد بحرانهای دوامدار و خلای قدرت مرکزی خواهد بود و کشور ما را در مصیبت های مزید غوطه ورخواهد ساخت!

ولی با ایمان خلل ناپذیر به این واقعیت تاریخي که افغانستان هرگز نمی میرد، هر چند که مؤقتاً در خریطهٔ دنیا از نظر پنهان می شود، یقیناً در آینده فرزندانی در کشور ما ظهور خواهند کرد که

(c) ketabton.com: The Digital Library



مانند میرویس نیکه و احمده شاه بابا باز افغانستان را زنده خواهند ساخت.



له ښي خوا مومند، ډاکټر کریم باز، سردار نادرنعیم او مشواني

رښتیا چې استاد عزیزنعیم پر افغانستان [خلل ناپذیر] باور درلود، خو ارمان چې دغه هیله یې ترسره نه شوه؛ مخکې له دې چې د میرویس نیکه او احمد شاه بابا په څېر شاه زلمیان د هېواد د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابادۍ ډګر ته راووځي او افغانستان یو ځل بیا د نړۍ پر نقشه هغسې راوځلوي، استاد عزیزنعیم له دې نړۍ سترګې پټې کړې.

هو! د میرویس نیکه او احمدشاه بابا په څېر ملتپال او هېوادپال مېړني به پیدا شي او زموږ ولس او هېواد به له دغو غمیزو څخه وژغوري.

استاد عزیزنعیم د وریښېنې ناروغۍ له امله د۱۳۸۰ل کال د غبرګولي په ۲۶مه د یکشنبې په ورځ په لندن کې له دې نړۍ سترګې پټې کړې.

د استاد عزیزنعیم جنازه کابل ته راوړل او د مرنجان غونډۍ په هدیره کې خاورو ته وسپارل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- نوښتګر انسان و، په هره اداره کې چې مقررېده، نوښتونه يې په کې کول.
- ديپلوماتان يې په رڼه او شفافه توګه د وړتيا او لياقت له مخې مقررول.
- د پښتو ټولنې په جوړېدو سره يې د هېوادوالو لوی علمي خدمت وکړ.
- په تعليمي نصاب کې يې د پښتو په تدريس سره د پښتو علمي حيثيت پر ځای کړ.

***

***

(c) ketabton.com: The Digital Library





کله چې د طالبانو سرټمبګیو او ناسمو سیاستونو په شعوري او یا ناشعوري توګه د شوروي تر۱۴ کلن یرغل۱۴ کاله وروسته د نړۍ نورو ځواکمنو واکمنو ته د یرغل جواز په لاس ورکړ، نو اوس مې هم ښه یادېږي، چې په افغانستان کې د لومړۍ پوځې الوتکې په کوزېدو سره په هماغه ورځ هغه اروابناد په ساه نیولې بڼه له یوې بهرنۍ نړیوالې راډیو سره په پښتو مرکه کې داسې وویل:

(( له همدې لحظې وروسته زه افغانستان ته یو خپلواک هېواد نه شم ویلای...))

ښایي همدا نظر یا په اوسنۍ مروجې اصطلاح تېروتنه وه، چې په دې وروستیو وېشونو او وندو کې هغه سکیره له پامه غورځېدلی و؛ خو ډاکټر **عبدالصمد حامد** د هېوادني تاریخ په حافظه کې خوندي دی او خوندي به وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر عبدالصمد حامد د ۱۳۰۸ل= ۱۹۲۹م د جنوري په اتمه د ننگرهار په جلال اباد ښار کې د عبدالرزاق خان محمدزي کره زېږېدلی دی. د خوگیانو د کرېږ بازار له پاسه د سورمې په نامه ځای کې د دهٔ کورني اوسېدله، چې اوس هم د سردارانو په نامه مشهوره ده.

عبدالصمد حامد ثانوي زده کړې په نجات لېسه کې پر ۱۳۲۸ل کال پای ته ورسولې او د لوړو زده کړو لپاره سویس ته ولېږل شو. هلته په ۱۳۳۶ل= ۱۹۵۷م کې د قانون په څانگه کې د ډاکټرۍ د ډیپلوم په تر لاسه کولو بریالی شو. بیا په ۱۳۳۶ل کې د لیندۍ په ۱۵ مه د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو په پوهنځي کې استاد مقرر شو. په ۱۳۳۷ل کې د کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې د لوی مدیر په توگه وټاکل شو. په ۱۳۳۹ل کې د ثانوي تدریساتو د مرستیال په توگه او په۱۳۴۰ل کې د پوهنتون رئیس په توگه وگومارل شو.

په ۱۳۴۲ل کې د پروان د والي او په ۱۳۴۳ل کې یې د کابل پوهنتون د رئیس په توگه دندې اجرا کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په۱۳۴۴ل کې د پلان وزير وټاکل شو. په ۱۳۴۶ل کې د افغاني سرې مياشتې سکرټرجنرل وټاکل شو او د همدغې دندې په ساتلو يو ځل بيا په همدغه کال د پلان د وزير په توګه وټاکل شو او د ۱۳۴۸ل د تلې تر۲۲مې د دغې دندې متکفل و.

ارواښاد عبدالصمد حامد پر بېلابېلو لوړو پستونو کار کړی دی. په۱۳۴۳ل= ۱۹٦٤م کې د اساسي قانون د تسويد د کمېټې غړی و. د غوايي تر کودتا وروسته په ۱۳۵۷ل= ۱۹۷۸م کال کې بندي شو، په۱۳۵۹ل= ۱۹۸۰م له بنده ازاد او اروپا ته مهاجر شو.

عبدالصمد حامد د ډاکټر عبدالظاهر د حکومت پر مهال د صدارت باصلاحيته لومړی مرستيال و. پر لوړو دولتي څوکيو له کار کولو او صلاحيتونو سره سره ارواښاد حامد ته د نيوکې ګوته نه شي نيول کېدای. هغه له هېواد او هېوادوالو سره هيڅکله خيانت نه دی کړی، هغه په جهاد او هجرت سوداګري نه ده کړې، ځکه خو هنرپالو د خپلو هنري پنځونو انتسابونه هم په وياړ سره د هغه په نامه کړي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## انتساب

د هغه چا په نوم چې په هجرت او جهاد يې تجارت نه دى کړى؛

د هغه چا په نوم چې د آزادۍ په لاره کې يې قربانۍ ورکړې دي؛ د هغه چا په نوم چې د مهاجرينو او مجاهدينو مال يې نه دى لوټ کړى؛

د هغه چا په نوم چې د اقتدار له هوسه يې ځان پاک ساتلى دى؛

د هغه چا په نوم چې ذهن او فکر؛ قلم او ژبو يې په جهاد کې د تورو نه زيات کار کاوۀ؛

د هغه چا په نوم چې د ملي تقوا له برکته پرې نوي او زاړه وختونه فخر کوي؛

د هغه چا په نوم چې تر اوسه پرې ناحقه تور هم نه دى ويل شوى؛

د هغه چا په نوم چې د وطن ګټې له نورو ګټو مقدسې ګڼي؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه چا په نوم چې بېگانه پرستي ورته کفر ښکاري؛ د هغو په نوم چې ملي غرور او خود داري پرې ناز کوي؛

د هغو په نوم چې د خلکو په زړونو کې ځای لري؛ گرانو لوستونکو دا کسان مو وپېژندل؟!

دا څوک دي؟ دا د افغاني هجرت د کاروان هغه ځلېدونکي ستوري دي، چې يو ته سيد شمس الدين مجروح وايي او بل ته دوکتور عبدالصمد حامد.

ارواښاد عبدالصمد حامد په ۱۳۹۱/۱۰/۱۱ل نېټه له دې فاني نړۍ د هېواد له پستې او خوږې غېږې ليرې ساه ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- د افغانستان د ډيپلوماسۍ د ډګر يوه ياده او مشهوره څېره ده.
- په هېواد او ملت مين کارپوه، عالم او سپېڅلی شخص و.
- په جهادي دوره کې يې خپله رښتينولي، صداقت او ديانت ثبوت کړل او په جهاد او هجرت يې هم سوداګري ونه کړه.
- په حقيقي معنی يې د هېواد او ملت خپلواکي غوښتله؛ خو له بده مرغه چې دغه سپېڅلی ارمان يې له ځانه سره ګور ته يوړ.

***

***

(c) ketabton.com: The Digital Library





په معاصر افغانستان کې د ښځینه و نقش د تاریخ یو جلا خو خورا مهم څپرکی دی، چې له بده مرغه په دې اړه تر اوسه هیڅ کار نه دی شوی. که چېرې دا څپرکی بشپړ شي؛ نو څرگنده ده، چې د ښځمنو د پرمختگ لپاره به خورا ارزښتمن وي.

د معاصر افغانستان په بېلابېلو تاریخي پړاوونو کې بېلابېلو ښځمنو د ژوندانه او حکومتدارۍ په بېلابېلو ډگرونو کې د یادونې او پاملرنې وړ خدمتونه کړي دي. د گوهرشادبېگم نازو انا، زرغونې انا،، مېرمن عینو، سپینې ادې، غازي ادې، ملالې او په لسگونو نورو نومیالیو مېرمنو کارنامې، ځانگړنې، وړتیاوې، خدمتونه، نصیحتونه او نور که د معاصر تاریخ د یوه زرین څپرکي په توگه راټول او ولس ته وړاندې شي؛ نو د هېواد د پرمختگ او تلپاتې سولې په لاره کې به یو ستر گام وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کبرا نورزۍ** هم په همدغه ځپرکي کې د ځانګړې يادونې وړ ده. نورزۍ هغه نوم دی، چې هېوادوال به پرې تل وياړي. نورزۍ هغه نوم دی، چې هېوادوال يې تر اوسه تل په نېکو او ښو صفاتو سره يادوي. نورزۍ د افغانستان په معاصر تاريخ کې لومړنۍ ښځينه وزيره وه. همدارنګه د عامې روغتيا لومړنۍ ښځينه وزيره وه.

کبرا نورزۍ د ارواښاد بسم‌الله‌خان لور پر۱۳۱۱ل = ۱۹۳۲م د کابل ښار په باغبان کوڅه کې زوکړې ده. هغوی پنځه خويندې او درې وروڼه وو. کوچنيتوب يې په باغبان کوڅه کې تېر شو او بيا په دريېمه او څلورمه کارته کې واوسېده.

خپلې لومړنۍ او ثانوي زده کړې يې په ملالۍ لېسه کې وکړې او بيا په ساينس پوهنځي کې شامله او پر۱۳۳۲ل= ۱۹۵۳م له دغې څانګې په ممتازه درجه فارغه شوه. تر فراغت وروسته د ملالۍ لېسې د مرستيالې په توګه وګومارل شوه او بيا يې د هغې لېسې د لومړنۍ افغانې مديرې په توګه دنده ترسره کړه. تر هغې د مخه د ملالۍ لېسې مديريت د فرانسوي استادانو پر غاړه و. د نورزۍ د مديريت پر مهال ملالۍ لېسې د پام وړ پرمختګ وکړ او د افغانستان د يوې تر ټولو غوره ښځينه لېسې په توګه وپېژندل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کبرا نورزۍ د لیسې کتابتون غني کړ، د فزیک او کیمیا لابراتوارونه یې د هغه مهال په تجهیزاتو سره مجهز کړل.

له۱۳۳۲ل- ۱۳۳۷پورې د لیسې پر مدیریت سربېره د نسوانو مؤسسې رئیسه و گومارل شوه. په ۱۳۳۷ل= ۱۹۵۸م کې د نسوانو مؤسسه د اساسنامې او موخو په درلودو سره د یوه مستقل سازمان په توگه «د مېرمنو ټولنه» په نامه ثبت شوه. له دې سره د ښځو نهضت او په چارو کې د هغو ونډې ته پاملرنه زیاته شوه.

کبرا نورزۍ په۱۳۳۷ل= ۱۹۵۸م کې د لوړو زده کړو د ادامې لپاره د پاریس (سوربون) پوهنتون ته لاړه. د زده کړو تر بشپړولو وروسته په کابل پوهنتون کې د تدبیر منزل پوهنځي د رئیسې په توگه وگومارل شوه. په ۱۳۴۳ل= ۱۹۶۴م کې یې د اساسي قانون د تدقیق د مشورتي کمېسیون غړیتوب تر لاسه کړ. دا کمېسیون له ۲۳ غړیو څخه جوړ و. دوه کسه ښځینه غړې یې کبرا نورزۍ او معصومه عصمتي وردگ وې، چې دواړه د نسوانو د نهضت مخکښانې او له گوتو په شمېر تحصیل کړیو مېرمنو څخه وې.

کبرا نورزۍ له (۱۳۴۴ل= ۱۹۶۵- ۱۳۴۸ل= ۱۹۶۹م) پورې د عامې روغتیا د وزیرې په توگه دنده ترسره کړه. د عامې روغتیا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزیرې په توګه د نورزۍ تر ټولو مهم او ارزښتناک کارونه په هېواد کې د یو شمېر روغتونونو او کلینیکونو رامنځ ته کول، د جنریک درملو د قانون تصویبول او په کابل او ولایتونو کې د کورنیو د لارښوونې د ټولنو رامنځ ته کول وو. هغې د روغتیا د وزیرې په توګه په ډېره زړورتیا او کاري وړتیا سره د افغانستان تر ټولو لیرې پرتو سیمو ته سفرونه وکړل، چې له هغې جملې څخه د پروان، لوګر، کندز، هرات، چخانسور، بلخ، هلمند، کونړ، ننګرهار، لغمان او بدخشان نومونه یادولای شو. هغې د ځایي مامورینو او منسوبینو په همکارۍ سره د روغتیایي مرکزونو پرانیستو ته لا ښکلا وبخښله.

کبرا نورزۍ سره له دې چې د طب ډاکټره نه وه؛ خو د هغې د مسوولیت پر مهال روغتیایي خدمتونه ډېر پراخ او ښه شول او د هېواد روغتیایي تاریخ هغه د مدبرې او بریالۍ وزیرې په نامه له ځان سره خوندي کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library





کبرا نورزۍ د جمهوریت پر مهال په ۱۳۵۲ل= ۱۹۷۳م کې یو ځل بیا د نسوانو مؤسسې یا "د مېرمنو ټولنې" د رئیسې په توګه وګومارل شوه. په مېرمنو ټولنه کې د هغې مهم کارونه دا وو: د سواد زده کړې د پروګرامونو پراختیا او پرمختیا، په مرکز او ولایتونو کې د ورکتونونو او د ښځمنو د مسلکي ښوونځي رامنځ ته کول.

کبرا نورزۍ په ۱۳۵۶ل= ۱۹۷۷م کې د کابل د اوومې ناحیې انتخابي وکیله شوه او د لویې جرګې د غړې په توګه یې په دغه کال کې د نوي اساسي قانون په تصویب کې ونډه واخیسته.

نورزۍ د شعر ویلو وړتیا او قریحه درلوده، چې شعرونه یې هم راپاتې دي. هغې واده نه و کړی او د خپل عمر خواږه کلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې د هېواد او هېوادوالو په خدمت کې تېر کړل. نورزۍ د هېواد په وروستيو کړکېچونو او ستونزو کې هم هېواد پرېنښود، په داسې حال کې چې اړه شوه خويندې او وروڼه هېواد پرېښودو ته وهڅوي؛ خو په خپله له خپلې مور او کشرې خور سره د عمر تر پای په کابل کې پاتې شوه.

کبرا نورزۍ په ۵۴کلنۍ کې د وطن په غېږ کې د ۱۳۶۵ل=۱۹۸۶م د جنورۍ پر ۳۰ د درېيمې کارتې په سيمه کې په خپل کور کې الهي امانت خپل الله ته وسپاره او په شهدای صالحين هديره کې خاورو ته وسپارل شوه.

کبرا نورزۍ د شلمې پېړۍ په ۶۰ - ۷۰ م کلونو کې د افغانستان له مخکښو ښځمنو څخه وه، چې نوم يې د افغانستان د ښځمنو وياړ او د افغانستان په معاصر تاريخ کې خوندي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- د ملالۍ لیسې لومړنۍ افغانه مدیره او د ښځینه مدني خوځښت له مخکښانو څخه یوه وه.
- د افغانستان په معاصر تاریخ کې لومړنۍ وزیره وه.
- د افغانستان د عامې روغتیا لومړنۍ ښځینه وزیره وه.
- د ټولو دندو پر مهال یې له ځانه ورتیاوې او نوښتونه ښودلي دي.
- د هېواد غېږه ورته دومره محبوبه وه، چې د تر وروستۍ سلګۍ په کې پاتې شوه.

***

***

(c) ketabton.com: The Digital Library





وايي:

د باز له ځالي باز او د تپوس له ځالي تپوس الوځي؛

د شين لغمان علمي او فرهنګي چاپېريال د افغانستان په علمي، فرهنګي او سياسي تاريخ کې خورا ستره او د يادولو وړ ونډه درلودلې ده. ځينې داسې څېرې يې د هېواد او هېوادوالو د خدمت لپاره وړاندې کړې دي، چې د هر يوهٔ نوم د لغمان نه بلکې د ټول افغان ملت لپاره وياړ دی.

د شنه لغمان د مرکز په ده بغلک کې ميرزا عبدالقادر هغه څېره وه، چې تر ځان وروسته يې هم خپل هېواد او هېوادوالو ته د حساب وړ اشخاص وړاندې کړل. له دغو اشخاصو څخه يو هم **ډاکټر عبدالقيوم** د ميرزا عبدالقادر ابراهيم خېل زوی دی.

ډاکټر عبدالقيوم په ۱۲۹۷ل. د لغمان د مرکز په ده بغلک کې زېږېدلی دی. لکه چې له نامه څخه يې څرګندېږي، پلار يې ميرزا

(c) ketabton.com: The Digital Library



و. میرزاتوب د هغه مهال د دودیزو زده کړو لوړه درجه وه. میرزا عبدالقادر په خپله هم دوه دورې د افغانستان د ولسي جرګې غړی و.

ډاکټر عبدالقیوم د کابل له حبیبیې لېسې څخه د بکلوریا سند اخیستی دی. د B.A دیپلوم یې د امریکا له ایلونایز(Illinose) پوهنتون څخه، د M.A دیپلوم یې له شیکاګو پوهنتون او د ډاکټرۍ دیپلوم یې د امریکا له دینور(Denver) پوهنتون څخه تر لاسه کړی دی. د ماسترۍ بل دیپلوم یې هم د شیکاګو له پوهنتون څخه تر لاسه کړی دی.

ارواښاد ډاکټر عبدالقیوم هېواد ته تر راستنېدو وروسته د ۱۳۲۷ل په مرغومي کې د پوهنې وزارت د مسلکي تدریساتو د ریاست غړی مقرر شو. د ۱۳۲۸ل په مرغومي کې د دارالمعلمینونو د ریاست کفیل مقرر شو.

د ۱۳۳۱ل په لیندۍ کې د هلمند ناوې د عمومي ریاست کفیل مقرر شو او د همدې کال په مرغومي کې د هلمند ناوې د رئیس په توګه مقرر شو. د ۱۳۳۹ل په لیندۍ کې د هلمند ناوې پر ریاست سربېره د ګرشک د اعلی حکومت د وکیل په توګه وټاکل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۱۳۴۱ل په کب کې د عظمی صدارت د فرمان پر بنسټ د مخابراتو وزارت د کفیل په توګه مقرر شو. د ۱۳۴۲ل په غبرګولي کې د عظمی صدارت د فرمان پر بنسټ تبدیلاً د کورنیو چارو وزارت کفیل وټاکل شو. یو مهال د عامې روغتیا وزارت معین هم و.

ډاکټر عبدالقیوم د نوراحمد اعتمادي په کابینه کې د صدارت دویم مرستیال او د پوهنې وزیر مقرر شو. د پوهنې وزارت د وزیر په توګه یې د افغانستان پوهنې ته خورا ښه خدمتونه کړي دي. د دهٔ په دوره کې په ټول افغانستان کې ښوونځیو ته ارتقا ورکړی شوه. نوي ښوونځي رامنځ ته شول او د پوهنې په ډګر کې یو لوی مثبت بدلون راغی.

په دې اړه څېړنپوه نصرالله ناصر وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library





ښېرڼپوه نصرالله ناصر له ښېرڼوال عبدالظاهر سره د مرکې پر مهال

(( ارواښاد ډاکټر عبدالقيوم چې پخوا د پوهنې وزير و، ما په خپله نه و ليدلی؛ خو د خلکو له خولې مې اورېدلي دي، چې د هغه په وخت کې د افغانستان په کچه ډېر ښوونځي او لېسې جوړې شوې دي. هغه وخت چې زه له نهمه لسم ټولګي ته کامیابېدم دا ١٣٤٨ل کال و او ډاکټر عبدالقيوم د پوهنې وزير و، په دغه کال کې د کرغيو متوسطه، لېسه شوه. د اليشنګ د ميا عبدالکريم متوسطه او د الينګار د سنګر د شيخ محمدعثمان متوسطه، لېسه شوه او هم د مرکز د نجونو متوسطه لېسه شوه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور هم ډېر ښوونځي جوړ شول؛ خو لکه مخکې مې چې وویل ډاکټر عبدالقیوم ته هم د ډاکټر ظاهر په څېر ټول افغانستان لغمان و؛ نو هغه د ټول افغانستان لپاره کار کاوۀ او کار یې کړی دی.

د ډاکټر ظاهر خبره مې په دې وکړه، چې وایي له لغمان څخه څه کسان ورغلي وو او د لغمان ستونزې یې ورته بیانولې، طبعاً به یې دا تمه درلوده چې د لغمان لپاره نو باید ځانګړی کار وکړي؛ خو هغه ورته ویلي و، چې تاسو کوم لغمان یادوئ؟ ماته خو ټول افغانستان لغمان دی. موخه یې دا وه چې پر ماټول افغانستان د لغمان په څېر ګران دی او ټول افغانستان ته خدمت کول غواړم.))

ډاکټر عبدالقیوم په انګلیسي ژبه د ډاکټرۍ او ماسټرۍ تېسزونه لیکلي دي.

په ۱۳۳۸ل کې درېیمه درجه تقدیرنامه ورکړې شوې ده. په ۱۳۴۱ل کې د پاچا له خوا د ستوري په درېیمه درجه نښان نازول شوی دی.

ایران، ترکیې جرمني، انګلستان، کاناډا او امریکا ته یې سفرونه کړي دي او د لوړو زده کړو یوولس کلنه دوره یې هم په امریکا کې تېره کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې کتاب لیکوال شاه محمود مېاخېل وايي:

ډاکټرعبدالقيوم مې له نږدې نه پېژانده او کله کله به مې په امریکا کې ورسره لیدل. ډاکټر عبدالقیوم له پادشاه نه خفه شو او امریکا ته لاړ؛ ډاکټر عبدالقیوم د افغانستان په اړه دومره معلومات درلودل، چې نورو لږو کسانو د دۀ په اندازه معلومات درلودل. یوه ورځ دوی په ویرجینیا کې د حاجي سید داؤد په کور کې د قوماندان عبدالحق او يو شمېر نورو کسانو سره مېلمانه وو، د شهید عبدالحق طرحه دا وه چې ده د افغانستان د بېلابېلو قومونو د مشــرانو سره تماسونه نیولي او خبرې يې کړي دي، ولس د لويې جرگې او د پادشاه د راتگ ملاتړ کوي. ولس حاضر دی چې د طالبانو پر ضد قیام وکړي او دی حاضر دی، چې دې موخې لپاره د افغانستان داخل ته لاړ شي. ډاکټر عبدالقيوم خان چې تر اخره پورې خبرو ته غوږ نیولی و؛ هیڅ يې ونه ویل، ما ترې پوښتنه وکړه چې ډاکټر صاحب تا خو هیڅ ونه ویل، نو ډاکټر صاحب وويل چې تاسې ټول د فیل په غوږ کې ویدۀ یاست، نننی افغانستان پخوانی افغانستان نه دی، چې د مشرانو په خوله قیام وکړي، هرڅوک چې غواړي افغانستان ته لاړ شي او يو ملي حرکت پر مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيايي، بايد شل زره مسلح ملاتړي او پوره امکانات ورسره موجود وي، ترڅو ولس يې ملاتړ وکړي. ليکوال يو ځل بيا د ډاکټر عبدالقيوم خان نه هم دا پوښتنه وکړه، چې تاسې ولې په خپل وخت کې يو معتدل ګوند او حرکت جوړ نه شو کړای؟ دهٔ په ځواب کې وويل چې پادشاه د معتدل ګوند او ډلې مخالف و، ځکه هغه داسې حرکت خپل قدرت ته خطر ګاڼه اما چپي او ښي اړخه حرکتونه يې خپل قدرت ته خطر نه ګڼل. هغه به ويل چې دوی د افغانستان د خلکو په منځ کې ريښې نه لري؛ نو په دې توګه يې تري ويره نه درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځانګړې کارنامې:**

- ټوله کورنۍ يې د هېوادني خدمت وياړ لري او په خپله هم په هېواد مين انسان و.
- د پوهنې د وزير په توګه يې ډېر زيات نوي ښوونځي تأسيس او پوهنه يې عامه کړې ده.
- د ملي ګټو ساتندوی، د ملي مفکورې څښتن او بې تعصبه انسان و.
- ټول هېواد يې خپل کور ګاڼۀ او د ټول افغانستان پوهنيز بهير ته يې وده او چټکتيا ورکړې ده.

***

***

(c) ketabton.com: The Digital Library





چې غوټې پسې وهې په لاس به درشي
چاویل چې په دریاب کې گوهر نشته

یو مهال ښځه په افغاني ټولنه کې ملکیت و او په ډېرو افغاني سیمو کې لا تر اوسه هم دی؛ خو د الله لورېینه ده، چې دغه حالت په ځانگړي ډول د رواني پېړۍ په اتمه لسیزه کې ډېر تغییر وکړ. ښځه راوځلېده، راولټېده، حق یې وغوښت، حق ورکړل شو او حق به ورکول کېږي.

ښځه او نر سره لازم و ملزوم دي، دا الهي قانون دی، الله تعالی وایي، چې ما هر شی جوړه جوړه پیدا کړی دی:

له ځو استثنأتو پرته که ښځه نه وي؛ نر نشته او که نر نه وي نو ښځه نشته. وایي حق اخیستل کېږي، ورکول کېږي نه. که د ښځې د حقوقو لپاره ښځې په خپله مبارزه ونه کړي، نو څرگنده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده، چې ډېر لږ خلک به يې حقوق تر پښو لاندې نه کړي؛ خو دا بايد ومنو چې ډېرې لږې ښځې په دې راز پوهېږي او د خپلو او خپلو همنوعو د حقونو لپاره مبارزه کوي؛

له دغو مبارزينو څخه يوه هم مېرمن **معصومه عصمتي** وردگ وه. عصمتي د مېرمنو ټولنې له بنسټگرو څخه هم وه، چې دغې ټولنې د ښځو د حقوقو لپاره رښتنيې بنسټيزه مبارزه وکړه. عصمتي د افغانستان د ښځو د حقوقو له سرسختو مدافعينو څخه وه او د مېرمنو ټولنې او د افغانستان د ښځو د سراسري شورا د رياست دندې يې هم پر غاړه درلودلې دي.

معصومه عصمتي وردگ د عبدالحق خان لور او په ۱۳۰۹ل په کابل کې زېږېدلې ده. لومړنۍ او ثانوي زده کړې يې د کابل په ملالۍ لېسه کې ترسره کړي دي. تر فراغت وروسته په همدغه ښوونځي کې د ښوونکې په توگه وگومارل شوه. بيا په ۱۳۲۸ل کې د کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې په پوهنځي کې شامله شوه او په ۱۳۳۲ل کې يې ترې د لسانس سند واخيست.

تر فراغت وروسته د يوه علمي بورس په ترڅ کې د نورو لوړو زده کړو لپاره امريکا ته لاړه او هلته يې د شيکاگو ايالت له

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشنل کالج څخه د ښوونې او روزنې په برخه کې د ماسټرۍ ډیپلوم تر لاسه کړ.

عصمتي هېواد ته تر راستنېدو وروسته د پوهنې وزارت د ښوونځیو د عمومي مفتشې په توګه وګومارل شوه، یو کال یې دغه دنده ترسره کړه. په ۱۳۳۷ل کې د زرغونې لېسې د مدیریت دنده وروسپارل شوه. په ۱۳۳۹ل کې د پوهنې وزارت د مرکز او ولایتونو د ښځینه ښوونځیو د عمومي آمرې په توګه وګومارل شوه. په همدې کال د " د نجونو روزل" مجلې مسوولیت هم وروسپارل شو، چې د پوهنې وزارت له خوا د مېرمنو او نجونو د پوهنیزې کچې لوړولو په موخه خپرېدله.

له۱۳۴۰- ۱۳۴۳ل پورې د ادبیاتو او اقتصاد پوهنځیو د جغرافیې استاده و. په ۱۳۴۳ل کې یې د اساسي قانون د مشورتي کمېسیون د غړې په توګه په لویه جرګه کې ګډون وکړ.

عصمتي په ۱۳۴۴ل کې د کندهار د معروف ولسوالۍ د استازې په توګه ملي شورا ته لاره ومونده او تر۱۳۴۸ل یې دغه دنده سرته ورسوله. په ۱۳۵۰ل کې د ملالۍ لېسې ښوونکې شوه او په ۱۳۵۸ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د سیدجمال الدین افغان د دارالمعلمین د استادې په توګه وګومارل شوه.

په ۱۳۵۹ل کې د افغانستان دعلومو اکاډمۍ په غړیتوب ومنل شوه او څو کاله یې په دغه لوړه علمي اداره کې علمي – څېړنیزې چارې ترسره کړې.

په ۱۳۶۶ل کې د ښځو د سراسري شورا د ریاست چارې وروسپارل شوې. په ۱۳۶۹ل کې د دولت په کابینه کې د پوهنې وزیره شوه. په ۱۳۷۱ل کې د بدو حالاتو له امله هېواد پرېښودو ته مجبوره شوه. فرانسې ته لاړه او د ژوند تر پای یې هلته د کډوالۍ شپې ورځې تېرې کړې.

عصمتي وردګ د افغانستان له لومړنیو ښځو څخه وه، چې په سختو شرایطو کې یې له نرینه و سره یو ځای په کابل پوهنتون کې زده کړې وکړې. هغه مهال په پوهنځی کې ښځینه محصلینې د ګوتو په شمېر وې.

د معصومې عصمتي په اړه څېړنوال حبیب الله رفیع وایي:

(( معصومه عصمتي یوه روزل شوې تعلیمیافته او د کار ښځه وه. یوه نمونه وه، ما ورسره د ځوانۍ له وخته پېژندل، هغه وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې چې ما نوی کار شروع کړی و، هغه وخت کې دا په پوهنې وزارت کې د نجونو د روزنې رئیسه وه، یوه مجله یې چاپوله چې "د نجونو روزنه" نومېده. زه د هغې مجلې همکار وم، مقالې به مې ورکولې. هغې ډېره هڅه کوله، چې د ښځو په برخه کې کار وکړي، په دې برخه کې یې ډېرې هڅې کولې، بهرني سفرونه یې درلودل، بهرني تړونونه یې کول؛ نو په دې برخه کې یې ډېر کار کړی دی.

پر دغو سربېره د شورا وکیله هم وه، په شورا کې یې د وکیلې په حیث د افغانستان د خلکو په نمایندګۍ د هغو په ګټه خبرې او پرېکړې کولې او خدمت یې کاوۀ.

کله چې کمونستي حکومت کمزوری شو او د رانسکورېدو په حال کې و، د کابینې لپاره یې غیرحزبي کسان ونیول، چې هغه هم په کې شامله وه. په پوهنې وزارت کې یې خدمت وکړ، په پوهنې وزارت کې یې سویه وګرځوله، تغییرات یې په کې راوستل او هڅه یې درلوده، چې کمونستي نخښې نښانې له تعلیمي نصابه وباسي او بېرته ملي ښوونه او روزنه په هېواد کې راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر دې سربېره يې څېړنې هم کړي دي، کتابونه يې ليکلي دي. د خوشحال خان خټک په اړه يې په پارسي ژبه يو کتاب ليکلی دی. د لنډيو په اړه يې يو پښتو کتاب ليکلی، چې لنډۍ يې څېړلي او په لنډيو کې يې د ښځو په ونډه خبرې کړي دي.))

معصومه عصمتي پر علمي- سياسي ژوندانه سربېره ليکواله، څېړونکې او فرهنګپاله مېرمن هم وه. له هېواده بهر يې هم په ډېرو علمي- څېړنيزو سيمينارونو کې فعاله ونډه اخيستې ده او د سياسي هلوځلو په اړه يې څېړنوال حبيب الله رفيع وايي:

((هغې يو مستقل حزب درلود، د ديموکراسۍ په لسيزه کې يې د "صدای عوام" په نامه يوه نشريه درلوده، چاپوله يې، دا د دې حزب مشره وه. ذبيح الله عصمتي چې ورور يې و، هغه ورسره و، اوښی يې( د خور مېړه) ډاکټر فرزان او نور کسان هم ورسره وو. دوی يوه ملي لاره درلوده او په ملي روحيه يې دغه اخبار چلاوه. اتلس ګڼې يې چاپ شوې او بيا له چاپه پاتې شو.))

وايي چې د هغې په بريالیتوب کې د پلار لوی لاس و. پلار به يې ډېر هڅوله چې ښځه هم په ټولنه کې لکه نرينه حق لري او بايد نرينه و په څېر ټولنې او هېواد ته خدمت وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عصمتي به پر افغان ملي اتلانو تل وياړل. هغې به تل ويل: له انسانه هغه وخت يو ښه شخصيت جوړېداى شي، چې د يوې پرهېزګارې ښځې په غېږ کې وروزل شي. د هغې پر خوله به تل د مېرمن نازو، ملالې، زرغونې انا، غازي ادې او نورو نکلونه وو.

په ۱۳۳۳ کال کې يې د آريانا جايزه وګټله. په۱۳۵۴ل= ۱۹۷۵م کې د هند د ښځو د ملي کمېسيون له خوا د سولې د بين المللي کال جايزه هم ورکړې شوه. د دغه کمېسيون رياست د ايندرا ګاندي پر غاړه و. عصمتي د ليکوالۍ په ډګر کې لنډ داستانونه هم ليکلي دي.

نور رامعلوم آثار يې دا دي:

۱- خوشحال خټک کيست؟ ۱۳۳۲ل.

۲- د مخ پر انکشافه هېوادونو اجتماعي، اقتصادي، سياسي او فرهنګي پرابلمونه.

۳- انکشاف موقف زنان از زمان احمدشاه ابدالی الی ختم سلطنت امير عبدالرحمن خان.

۴- موقف و نقش زنان افغانستان از آواخر قرن هژده الی قرن نوزده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا کتاب په ۱۳۶۵ل کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ټولنیزو علومو د مرکز له خوا چاپ شوی دی.

۵- د پښتنې پېغلې او مېرمنې د ژوندانه انځور او انعکاس په لنډیو کې.

۶- نقش و موقف زنان از زمان امیرحبیب الله خان الی ختم نهضت امانی(ناچاپ).

۷- ناموران زنان جهان در سراج الاخبار افغانیه، محمود طرزی، د عصمتې راټولونه،۱۳۶۶ل چاپ.

مېرمن معصومه عصمتي د ۱۳۸۶ل د لیندۍ په ۲۲مه د وریښې ناروغۍ له امله د ۷۷ کالو په عمر ومړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- له هغو لومړنيو ښځمنو ښځه وه، چې  سختو دوديزو زولنو يې هم لاس له قلم بند نه کړی شو.
- هغه د ولس له منځه راټوکېدلې ليکواله، سياستواله، فرهنګپاله، وکيله، مديره او وزيره وه.
- د خپل وزارت پر مهال يې له ښوونيز نصابه کمونستي نخښې نښانې وويستې او نصاب ته يې يو ځل بيا ملي او اسلامي بڼه ورکړه.
- يوه نمونه يي ښځه او د حساب مېرمن وه.

***

***

(c) ketabton.com: The Digital Library





افغانستان د افغانانو ګډ کور دی، دلته ټول قومونه د افغان په نامه کې ګډ دي. د هر قوم او هرې قبیلې ملي اشخاصو دې هېواد ته صادقانه او د ستاینې وړ خدمتونه کړي دي. د ولسمشر محمداشرف "غني" دا شعار چې( هیڅ افغان تر بل افغانه کم او هیڅ افغان تر بل افغان لوړ نه دی) د دې هېواد د روښانې ګاندې لپاره ډېر مهم دی. رښتیا دا دي، چې د دې هېواد د عمران او بیارغاونې لپاره د ټولو افغان قومونو ځینو مېړنیو بچیانو زیات خدمتونه کړي دي؛ له همدغو نومیالیو څخه یو هم ډاکټر **عبدالواحد سرابي** دی.

ډاکټر عبدالواحد سرابي د ۱۳۰۵ل د وري په ۱۲مه نېټه د غزني ولایت د جغتو ولسوالۍ په خواجه سراب کلي کې زېږېدلی.

لومړنۍ زده کړې یې د هغه مهال د معمول په څېر د کلي په جومات کې له ملا امام څخه کړي دي. په ۱۳۱۶ل کال د لیندۍ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹ د نجات( اوسنی اماني) ښوونځي په دويم ټولګي کې شامل شوی دی. په ۱۳۲۶ل کې له دغه ښوونځي څخه فارغ شوی دی.

د ۱۳۲۸ل په لړ کې په نجات لېسه کې تدريسي ژباړن او ښوونکی مقرر شو. په ۱۳۲۹ل کې د پوهنې وزارت له خوا د سوداګرۍ په څانګه کې د لوړو زده کړو لپاره اروپا ته ولېږل شو.

د۱۳۲۹ل = ۱۹۵۰م کال د اکتوبر په لومړۍ نېټه د اطريش د ويانا ښار د اقتصاد او سوداګريزو علومو په پوهنځي کې شامل شو. په ۱۳۳۳ل = ۱۹۵۴م کې له دغه پوهنتون څخه د اقتصاد په څانګه کې د ماسترۍ سند واخيست؛ خو په همدغه پوهنتون کې يې د نورو زده کړو لپاره ملا وتړله، چې په ۱۳۳۶ل= ۱۹۵۶م کې په همدغه څانګه کې د ډاکترۍ د عالي ډيپلوم پر اخيستلو بريالی شو.

هېواد ته تر راستنېدو وروسته د همدغه کال په زمري کې د کابل پوهنتون په اقتصاد پوهنځي کې تدريسي غړی مقرر شو.

په ۱۳۳۹ل کې د اقتصاد پوهنځي د رئيس په توګه وګومارل شو. په ۱۳۴۲ل کې يې د اقتصاد پوهنځي پر رياست او استادۍ سربېره د کابل پوهنتون د علمي مرستيالۍ دنده هم ترسره کوله. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا (محمدظاهر) په دوره کې د اساسي قانون د مشورتي شورا غړی او په ۱۳۴۳ل کې د لویې جرګې فعال غړی و.

د ۱۳۴۴ل له جدي د ۱۳۴۶ل تر لړم پورې د اقتصاد پوهنځي رئیس او استاد و.

د ۱۳۴۶ل په لړم کې د اعتمادي په لومړۍ کابینه کې مشاور وزیر او د کانونو وزارت سرپرست و.

د ۱۳۴۸ل په لیندۍ کې د ښاغلي اعتمادي په دویمه کابینه کې د پلان د وزیر په توګه وټاکل شو.

د ډاکټر عبدالظاهر په کابینه کې د پلان وزیر او د موسی شفیق په کابینه کې د پلان وزیر او د وزیرانو شورا منشي و.

د محمدداؤدخان تر کودتا وروسته له ۱۳۵۲- ۱۳۵۸ش پورې یې رسمي دنده نه درلوده. په ۱۳۵۸ کې په عدلیې وزارت کې اقتصادي مشاور مقرر شو. د ۱۳۵۸ل کال په سلواغې کې د پوهنتون د استادۍ د حقوقو په حفظ د لوړو او مسلکي زده کړو وزارت مشاور مقرر شو.

د سلطانعلي کشتمند په کابینه کې له نورو ناګوندیانو په کتار کې مشاور وزیر و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۱۳۶۸ل په سلواغې کې د لوړو او مسلکي زده کړو وزیر وګومارل شو.

په ۱۳۶۹ل کې د اقتصاد او خپرونو په برخه کې د ولسمشر مرستیال و. د خالقیار په کابینه کې د صدارت مرستیال او د پلان د وزیر په توګه مقرر شو.

د اسلامي دولت پر مهال د صبغت الله مجددي په دوره کې د حزب وحدت له خوا د کلیو د پراختیا د وزیر په توګه ونومول شو، خو سرابي صاحب د رسمي دندې له اخیستو معذرت وغوښت.

د اسلامي دولت پر مهال برهان الدین رباني په دوره کې د حزب وحدت له خوا د سوداګرۍ وزیر وټاکل شو، چې له دولت سره د نوموړي ګوند د اړیکو په پرې کېدو یې د کار رسمي دوره پای ته ورسېده.

سرابي د واک پر سر د کورنیو جنګونو تر پیلېدو وروسته اروپا ته تللی او تر اوسه د المان په رستک ښار کې اوسېږي.

سرابي د دولتي دندو تر څنګ علمي فرهنګي هڅې هم درلودلي دي، چې لیکنې یې په خپرونو کې خپرې شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه يې په داخل او خارج کې په ځينو علمي سيمينارونو او کنفرانسونو کې ګډون کړی او د المان په ځينو پوهنتونونو لکه هايدنبرګ، ارلنګن، رستک او د امريکا په پرستن کې يې ويناوې کړې دي.

ډاکټر عبدالواحد سرابي د پاچا محمدظاهر په دوره کې درې دريمه درجه ستاينليکونه اخيستي دي. هغه مهال يې د لويې جرګې مډال هم اخيستی دی. د خلق ډيموکراتيک ګوند د واکمنۍ پر مهال يې هم د خدمت او لياقت څو مډالونه او نښانونه اخيستي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- اوږد مهال يې په بېلابېلو ادارو کې د هېواد خدمت کړی دی.
- پر نورو ادارو سربېره يې په علمي ادارو کې هم د علمي شخص په توګه هېوادنی خدمت کړی دی.
- د ځينو نورو په څېر متعصب او محدود فکره شخص نه دی، ملي مفکوره لري.

***

***

(c) ketabton.com: The Digital Library





په انسان روزنه او انسان پالنه کې د چاپېریال له ستر رول څخه سترګې نه شي پټېدای، ځکه خو پښتو متل دی:

چې اوسې په خوی به د هغو سې

تجربو ښودلې ده، چې د غرنیو سیمو او کلیو کوچنیان په مدرسو، ښوونځیو او پوهنځیو کې زیاتره تر ښاري هغو ځیرکه او لایقه وي؛ خو دا هم څرګنده ده، چې د پوهانو، عالمانو او د بېلابېلو هنرونو د مسلکي کسانو شمېر تر درو، کلیو او باندېو په ښارونو کې ډېر دی. دلته کوم بل لامل په منځ کې نشته یوازینی لامل یې روزنیز چاپېریال دی. که په سیمو، کلیو او باندېو کې د ښار په څېر روزنیزې اسانتیاوې رامنځ ته شي، نو ښکاره ده چې هېواد به ډېر ژر د علومو په بېلابېلو ډګرونو کې د نوابغو تر کچې ډېر شمېر عالمان او پوهان ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که موږ په ښارونو کې یو شمېر مسلکي ښځینه پوړ لرو؛ نو برکت یې هماغه روزنیز چاپېریال دی. له دې چاپېریاله چې چا گټه اخیستې او بیا یې د دغه پور اداینې په نیت د هېواد روغتیا او سلامتیا ته ملا کلکه تړلې ده؛ یوه یې هم جنرال **سهیلا صدیق** ده.

سهیلا صدیق د سردار محمدصدیق خان لور په ۱۳۲۷ل کې د کابل د زاړهٔ ښار په نواب خان باغ کې زېږېدلې ده؛ خو له آره د کندهار د معروف ولسوالۍ له سردارانو څخه ده. سهیلا صدیق په ۱۳۴۳ل کې د کابل پوهنتون په طب پوهنځي کې شامله شوه. په ۱۳۴۵ل کې د یوه تحصیلي بورس په ترڅ کې د زده کړو بشپړولو لپاره د هغه مهال شوروي اتحاد ته لاړه او د مسکو د طب په لومړي انستیټیوټ کې شامله شوه.

په ۱۳۵۳ل کې یې په عالي نومرو سره په عمومي جراحۍ کې د Ph.D دیپلوم تر لاسه کړ. هېواد ته تر راستنېدو وروسته له اړتیا او لازم گڼنې سره سم د طبي علومو اکاډمۍ ته د خدمت لپاره معرفي شوه. صدیق هلته په رښتیا خپله وړتیا او صداقت وښود، چې د اکاډمۍ د رهبرۍ له خوا یې د دفاع وزارت له لارې له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اداري سره د دايمي کار غوښتنه وشوه او په پای کې له ملکي څخه پوځي رتبې ته په تعديل سره د جګتورنې په توګه مقرره شوه.

پر جنرال صديق خپل ټاټوبی دومره ګران دی، چې د کورنيو کرغېړنو جنګونو پر مهال هم هېوادنۍ مينې د هېواد پرېښودو اجازه ور نه کړه. د هېوادوالو ترخنګ پاتې شوه، د هغو په غمونو کې شريکه وه، د ټپي هېوادوالو پر ټپونو يې د مرهمو پټۍ اېښودې او د هغو ټوټې ټوټې جسدونه يې ورګنډل.

په خپل مسلک کې يې هېواد او ملت ته تر اوږدۀ خدمت وروسته د اسلامي جمهوري حکومت پر مهال د بريد جنرالۍ رتبه واخيسته. وروسته بيا د ډګر جنرالۍ رتبې ته لوړه شوه او اوسمهال د سيمې د هېوادونو په کچه په پوځ کې له دوه ښځينه ډګر جنرالانو څخه يوه ده.

د منځمهالې اداري پر مهال د عامې روغتيا وزيره وټاکل شوه او د انتقالي اداري په دوره کې په روغتيايي چارو کې د جمهوري رياست د مقام سلا کاره وه.

جنرال سهيلا صديق د عمومي جراحۍ د متخصصې په توګه د خپلې دندې په بهير کې تر ۲۰۰۰ په زياتو جراحي عملياتو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



فعاله ونډه اخیستې ده. د هغې ځانګړی مسلک د توري(طحال) ګنډل دي او په دې برخه کې بې سیاله پوخ لاس لري.

هغه په خپل مسلک ویاړي، وايي چې انسان له درد او کړاوه ژغورل عبادت ګڼم او په خپل کار کې سیاسي مسایلو، تعصب او تبعیض ته لېوالتیا نه لرم. وايي چې دا انګېزه مې اروانښاد پلار راکړې ده او تر اوسه مې په غوږونو کې انګازې کوي، چې د ټول افغانستان یاست، افغاني فکر وکړئ او افغاني چارې.

هغه له خپل مسلک سره بې کچې مینه لري، ځکه خو په زهیر ځان تر دې وروستیو پورې د طبي علومو د اکاډمۍ روغتون ته ورتلله او په عملیاتو کې یې مرسته کوله.

صدیق وايي اوس په ټولنه کې د ښځینه و درنښت زیات شوی، ښځې نازول کېږي، د رهبرۍ او تصمیم نیونو چارو ته یې لاره موندلې ده او دولت یې هم د ظرفیت لوړونې او پیاوړتیا په لټه کې دی. په پوځ کې هم ورته ښه په درنه سترګه کتل کېږي او د پرمختګ لارې یې هوارې شوې دي؛ نو باید افغان مېرمنې د ژوندانه په ټولو ډګرونو کې خپل رغنده رول ولوبوي او نور سخاوتمندانه مرستو ته سترګې په لاره پاتې نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې د خپلو غورو خدمتونو له امله د ستوري لومړی، دويمه او درېيمه درجه نښانونه، د ښه خدمت، شجاعت، سيدجمال الدين افغان او نور مډالونه هم تر لاسه کړي دي.

په پښتو، دري او روسي ژبو ښه تسلط لري. د هېواد زياترو ولايتونو ته يې سفرونه کړي او له خپل هېواد او هېوادوالو سره ښه اشنايي لري. همدا رنګه يې روسيې، د امريکا متحده اياﻻتو، چين، سعودي عربستان، ايران، اندونيزيا، آلمان او هنګري ته رسمي او تحصيلي سفرونه کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- د سيمې د هېوادونو په کچه له دوه ښځينه ډګر جنرالانو څخه يوه ده.
- په افغانستان کې د توري(طحال) تر ټولو ماهره او تجربه کاره جراحه ده.
- ، صادقه زيارکښه او لايقه ښځه ده، چې خپلې وړتيا او زيارکښۍ د وزارت تر چوکۍ ورسوله.
- مستغني او پر ځان بسيا ښځه ده.
- په رښتينې توګه يې د هېوادوالو خدمت کړی دی او په دې خدمت وياړي هم.

***

***

(c) ketabton.com: The Digital Library





مړهٔ هغه چې نه یې نوم نه یې نښان شته
تـل تـر تلـه پـه ژونـدون پـایي ښـاغلي

وو داسې شخصیتونه چې اوس یې د سر په سترګو نه وینو، ماڼۍ، شرکتونه، بڼونه، سرایونه او ځمکې یې نه وینو؛ خو نومونه یې ستایل کېږي، کارنامې یې یادېږي او دعاګانې ورته نذرانه کېږي. د نامه له یاد سره یې سپین ږیري سمدواره وایي: الله دې یې وبخښي. دغه ډول کسانو پیسې نه دي ګټلې، کیسې یې ګټلې او کیسو له خپلې ټولنې سره په معنوي ډول ژوندي ساتلي دي.

له هغو کسانو څخه یو هم **وزیر غلام فاروق** دی، چې له نامه سره یې په ځانګړي ډول د مشرقي ولایتونو سپین ږیري اشنا دي، ټول یې د کارونو ستاینه او د بخښنې غوښتنه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزیر غلام فاروق عثمان د افغانستان په بېلابېلو ولایتونو او زونونو کې د تنظیمیه رئیس ، والي او حاکم په توگه دندې ترسره کړې دي.

وزیر غلام فاروق له ۱۳۲۰- ۱۳۲۳ل پورې د کورنیو چارو د وزارت کفیل او د قطغن- بدخشان تنظیمیه رئیس و. په ۱۳۲۵ل کې د کورنیو چارو وزیر و.

په ختیځ زون کې تر اوسه هم بوډاگان د هغه نوم په ډېر درنښت یادوي، ځکه چې په دغه زون کې یې ډېر کارکړی دی. میا احمدشاه د میانواب شاه زوی د سره رود اوسېدونکی چې نږدې ۶۰ کاله یې د ننگرهار ولایت په اداره کې کار کړی دی، د ارواښاد غلام فاروق خان په اړه وایي:

((غلام فاروق خان د مشرقي نایب الحکومه و. هغه وخت مشرقي څلور حکومته درلودل: کونړ، شینواري، لغمان او ننگرهار. هغه پنځه شپږ کاله د مشرقي نایب الحکومه او پوځي واکدار و. غلام فاروق خان ډنگر، کوچنی او ټیټ قده سړی و. ډېر توندخویه او دکتاتور هم و؛ خو دا هر څه د قانون د تطبیق

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره وو. هغه قوت هم درلوده او صلاحیت هم، ځکه هغه له شاهي کورنۍ سره اړیکي درلودل او محمدزی و.

غلام فاروق خان ډېر فوق العاده مدیر و، ښه اداره یې درلوده. د هغه په وخت کې په ټول مشرقي کې ښه امن و، خوشحالي وه، غلا، قتل او نور ناقانونه کارونه چا نه شو کولای.

هغه داسې کار نه دی کړی، چې ولس ترې خواشینی وي. د هغه په دوره کې به خلکو سوکړک او روټه خوړل؛ خو ډېر به خوشحاله وو، ځکه چې امن و او قانون تطبیقېده.

هغه د اوسنیو والیانو او حاکمانو غوندې په دفتر کې نه اوسېدۀ، پر ولس گرځېدۀ، لغمان، کونړ او شینوارو ته به یې سفرونه کول. هغه خلک پوهنې او ترقۍ ته هڅول. په خپله به په رسمي وخت دفتر ته راته او تر پای به په دفتر کې اوسېده.

د ښځو نسبي آزادي هم د هغه په وخت کې رامنځ ته شوه او څه ناڅه ښځې لوڅ مخ په بازار کې ولیدل شوې؛ خو د کندهار پېښو دا آزادي هم تر سیوري لاندې راوسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د غلام فاروق خان په دوره کې د رغاونې چارې هم د هغه وخت له امکاناتو سره سمې په چټکۍ روانې وې. د هغه په وخت کې سختو ځایونو ته سرکونه وغځېدل لکه کامدېش سرک چې د هغه په دوره کې په ولسي بيگار سره وغځول شو.

هغه د جلال آباد د اوسني ښار په رغاونه کې هم ښه ونډه درلودلې او د چا خبره په اوسنۍ بڼه د دې ښار بنسټ هغه ايښودی دی. له پښتونستان واټه تر مستوفيت پورې دکانونه د هغه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت کې جوړ شول او پخواني هغه يې ويجاړ کړل. د اوسني راډيو ټلويزيون تر څنګ ځمکه يې واخيسته او دکانونه يې په کې جوړ کړل. له مخابراتو څلورلارې تر تالاشي څلور لارې پورې دکانونه هم د هغه په دوره کې جوړ شول.

د غلام فاروق خان تر راتګ د مخه په ننګرهار کې اوسنۍ عالي لېسه او د هډې نجم المدارس دارالعلوم موجود او د شاګردانو پر مخ د زده کړو لپاره خلاص وو. د اتحاد مشرقي جريده د هغه په وخت کې هم خپرېدله.

د غلام فاروق خان په دوره کې پر باجوړ جنګ وشو، خو هغه په دې جنګ کې بريا تر لاسه نه کړه؛ نو بيا وروسته جنرال خان محمدخان د نايب الحکومه په توګه مشرقي ته راولېږل شو.

د کونړ د پخواني اسمار ولسوالۍ د بارګام کلي اوسېدونکی غلجی د محمدجان زوی د وزير غلام فاروق خان په اړه وايي:

(( تر بريکوټ پورې سرک پخوا وهل شوی و. کامدېش او برګمټال ته سرک د وزير غلام فاروق په دوره کې ووهل شو. ميرزاګل په اسمار کې حاکم و. دانګام ته سرک هم هغه وهلی دی. سرک ولس

(c) ketabton.com: The Digital Library





په بېګاري ډول جوړاوه، ډوډۍ به يې هم خپله خوړه. د کار وسايل هم ساده وو، لکه جبل، ماتوړ او نور. پښتنو به سرنګان وهل او شېخانو(نورستانو) به تيږي اړولې. په تيږه کې به يو نيم فوټ سرنګ وهل کېده، يو اسماری و، هغه به د دورمې په کچ کوت، چې پوره به و؛ نو بيا به يې ډکاوۀ او ډز به يې په کې کاوۀ. سرک وهل ډېر سخت وو، څو کسان په کې مړه هم شول. هغه وخت موټرې کمې وې د پوستې په نامه به اول يو ټرک راته او بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته د پوستې په نامه بس راته. کله چې موږ د سرک له کاره رارخصت کېدو نو درې نيم منه غنم يې هر کس ته ورکړه.

وزير غلام فاروق ښايسته سړی و، سر يې سپين و او ږيره يې پاکه خرييلې وه.

يو بل ځل د کامدېش خلکو بغې کړې وه، حکومت پسې ولس لښکر ولېږۀ، مشري يې جلاله خان کوله. کله چې لښکر درې ته ننوت او کليو ته ورلنډ شو، نو د کليو خلک له ښځو سره د دوی مخې ته راووتل، ښځې مخکې وې او قرآنونه يې په سر وو. نرينه و شپېلۍ او چمبې وهلې. دا يې د ننواتې او تسليمۍ نخښه و. کله چې دا احوال وزير غلام فاروق ته راورسېدۀ، هغه په بريکوټ کې ناست و؛ نو امر يې وکړ چې نور راووځئ.

بل ځله د افغانستان حکومت د ښار له نواب سره وران شوی و. په نواب پسې يې لښکر راټول کړ، مشر يې جلاله خان و. خلکو وزير غلام فاروق ته عرض وکړ، چې موږ خو نه وسله لرو او نه نور د جنگ سامان نو په تشو لاسو به څنگه جنگ وکړو؟!
هغه له خلکو سره په پښتو آزادې خبرې کولې، ويل، لاړ به شئ او د ښاري (موخه يې د ښار نواب و) سر به په گټو وچقوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر توند خویه سړی و، هيڅ ډول خيانت يې نه مانهٔ. د قانون په پلي کولو کې يې ډېر سخت چلند کاوهٔ. يو ځل په بريکوټ کې يوه حکومتي وداني چا جوړه کړې وه. څه به په کې خراب نو وايي چې په هغه کې يې د پاشنگر وکيل چې ټېکه دار و، را څملاوهٔ او په لغتو يې وواههٔ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځانګړې کارنامې:**

- د هېواد ډېرو لیرې پرتو او ستغو سیمو ته یې د ولس په همکارۍ سړکونه وغځول.
- د حکومتوالۍ په چارو کې جدي؛ خو صادق انسان و، د قانون په عملي کولو کې یې د هیچا لحاظ نه کاوۀ.
- د خپل واک په سیمو کې یې ښه امنیت رامنځ ته کړی او ولسونه یې ډاډمن ساتلي وو.

***

***

(c) ketabton.com: The Digital Library





بهرنۍ نړۍ لیدلو ترې خپل کور -کلی او ټاټوبی هېر نه کړ؛ له بهرنۍ نړۍ یې الهام اخیسته؛ خو په رنګ یې نه رنګېده. هغه د هېواد او ملت پرمختګ غوښتۀ؛ خو په افغاني قالب کې. هغه له ګاونډیو سره د کلکو اړیکو ساتلو پلوي و؛ خو د خپلواکۍ د توغ راټیټولو په بیه نۀ. هغه د تکبر په نیلي سپرو جنرالانو او کرنلانو ته سر ټیټ نه کړ، خپل حیثیت او سر یې هسک وساتل او هسکه غړۍ یې له هېواد او هېوادوالو سره خدای په اماني وکړه، دا ښاغلی **عزیز الله واصفي** نومېدۀ.

عزیزالله واصفي د عبدالرشیدخان زوی او د عبدالرحمن خان الکوزي لمسی و. واصفي د کندهار ښار د دویمې ناحیې د الکوزو په کوڅه کې زیږېدلی دی. د کندهار ښار له مشرقي لېسې او بیا د کابل پوهنتون د ادبیاتو له پوهنځي څخه فارغ شوی دی. د کندهار په احمدشاه بابا لیسه کې د معلمۍ پر سپېڅلې دندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وگومارل شو. تر معلمۍ وروسته د کندهار ښاروالۍ منتخب مرستيال هم وټاکل شو.

د محمد ظاهر د پاچاهۍ پر مهال د ولسي جرگې په ۱۲مه دوره کې د خاکرېز او په ۱۳مه دوره کې د ارغنداب د خلکو استازی و. د نغلو د بند د جوړېدو په سر په رامنځ ته شوي اختلاف کې د ولسي جرگې له خوا د ستونزې د حل د کمېسيون مشر و.

د سردار محمدداؤد خان په جمهوريت کې د ننگرهار والي او بيا په ۱۳۵۴ل= ۱۹۷۵م کې د کرنې وزير وټاکل شو. همدا رنگه يې په ۱۳۵۵ل کې د لويې جرگې د رئيس په توگه هم دنده اجرا کړې ده.

واصفي د غوايي تر کودتا وروسته ونيول او د ببرک کارمل د دورې په وروستيو کې د نورو بنديانو په کتار کې له بنده راخوشې شو. واصفي ځيرک پښتون او ملي شخصيت و. د پښتونستان په موضوع کې ډېر جدي و او په رښتينې توگه يې د پښتنو حقوق غوښتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اروابناد واصفي د جهاد په دوران کې د مجاهدينو ملګرتيا وکړه او په وروستيو درېو لسيزو کې يې په هېواد کې د سولې او امنيت د رامنځ ته کولو لپاره هلې ځلې د هېرولو نه دي.

د ۱۳۶۹ل= ۱۹۸۰م په وروستيو کې يې د هېواد د ژغورنې لپاره "د افغانستان ملي اسلامي متحده جبهه" په نامه د يوه غورځنګ د تأسيس اعلان وکړ، چې موخه يې د ملت يو کول او تر يوې قوماندې لاندې راوستل وو. په کوټه کې جوړې شوې دغې جرګې ته د افغانستان له ټولو سيمو او ټولو قومونو څخه ۳۶۰۰۰ زره کسان راغلي وو.

کله چې په اروابناد واصفي باندې په پښتونخوا کې د پاکستان له خوا سياسي چاپېريال راتنګ شو؛ نو په ۱۳۶۲ل کې امريکا ته مهاجر شو.

اروابناد واصفي د يوه ځيرک سياستوال په توګه د طالبانو سرسخت مخالف و. هغه به ويل چې طالبان پر افغانستان د پاکستان مستقيم پوځي تېرى دى. څه شي ته چې مقاومت ويلاى شو؛ نو د طالبانو پر وړاندې رښتينى او نړيوال مقاومت تر ټولو زيات عزيزالله واصفي کړى دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکا ته تر مهاجرت وروسته يې له پخواني پاچا سره تل اړیکي ټینګ ساتل. وايي، چې د۱۳۸۰ل= ۲۰۰۱م کال د سپتمبر په ۳مه روم ته پاچا وغوښت. دغه مهال قوماندان عبدالحق هم په روم کې له پاچا سره و. ارواښاد واصفي، قوماندان عبدالحق او ځینو نورو منورو اشخاصو غوښتل چې د کندهار او ننګرهار له خواو د طالبانو پر ضد وسله والې مبارزې پیل کړي او په دې کار کې د پاچا ملاتړ تر لاسه کړي؛ خو پاچا وسله والې مبارزې ته چمتو نه و؛ نو ارواښاد قوماندان عبدالحق ترې همداسې راروان شو.

عزت الله واصفي وايي: د سپتمبر په ۹مه مسعود ترور شو او د سپتمبر په ۱۱مه په نیویارک کې له نړیوال سوداګریز مرکز سره الوتکې وجنګول شوې؛

(c) ketabton.com: The Digital Library





عزیزالله واصفي له امان الله امان سره د مرکې پر مهال

نو دا هرڅه تصادفي نه وو، بلکې مخکې له مخکې طرحه شوی پلان و، چې په پایله کې د طالبانو واکمنی له منځه لاړه او افغانستان ته د امریکا او متحدینو د ځواکونو د رانتوتلو لاره هواره شوه.

په افغانستان کې د طالبانو د واکمنۍ تر نړېدلو وروسته نوی نظام واکمن شو. ارواښاد واصفي هم د یوه ملي مشر په توګه د دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



درې کلونو په اوږدو کې د يوۀ سالم ملي افغاني نظام د جوړولو په نيت د هېواد چارواکو ته د مشورو ورکولو دريغ غوره کړ.

اروابناد واصفي ډېره قوي حافظه درلوده، زياتره به يې په خپلو خبرو اترو کې د عظيم الشان قرآن آياتونه، احاديث او يا د پارسي کلاسيک اشعار په ځانګړي ډول د بېدل او مولانا رومي بيتونه ويل. په اسلامي فقهي مسايلو کې يې هم خورا ښه معلومات درلودل.

استاد باتور خوګيانی د واصفي صاحب په اړه په لنډو ټکو کې داسې وايي:

((عزيزالله واصفي ډېر ځيرک او هوښيار انسان و. د ښه ژور سياسي تحليل خښتن و؛ په ياد مې نه دي، چې له کومې راډيو سره يې مرکه وه؛ خو کومه بهرنۍ راډيو وه. د هغو خلکو په ځواب کې چې وايي د هلمند اوبه د پاچا په پاچاهۍ او د موسی شفيق د

(c) ketabton.com: The Digital Library



صدارت په دوره کې په ایران پلورل شوي دي، داسې وویل:



استاد باتور خوګیانی له اسدالله ځل سره د مرکې پرمهال

هغه خلک چې دا چیغې سورې وهي، یوازې د شوروي اتحاد په اشاره غواړي، په افغانستان کې ګډوډي رامنځ ته کړي. په دې تړون کې اصلاً د ایران یادونه نه ده شوې، دغو کسانو نهٔ تړون لوستی او نهٔ پرې خبر دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تړون کې راغلي چې د هلمند په اوبو کې سیستان او بلوچستان حقابه لري؛ خو زه وایم چې سیستان او بلوچستان د ایران خاوره نۀ، بلکې دا زموږ د هېواد خاوره ده او چې هر وخت مو لاس ورسېږي او توان ولرو، دا به خپلوو.

نو د هلمند اوبه نه دي پلورل شوي، د سیاسي بصیرت په رڼا کې دا یو ښه سیاسي تړون دی. ایران په هغه صورت کې په دې اوبو کې حق لري، چې له ما زیاتې او ورروانې شي او یا هم د دې اوبو د سېلابونو او توپانو په وخت کې ایران ته زیان وراړوي، بیا په دې کې د نړیوالو حقوقو په رڼا کې برخه لري، له دې پرته زموږ په اوبو کې هیڅ حق نه لري))

عزت الله واصفي د اروانښاد واصفي زوی د هغه په اړه وایي:

(( اروانښاد واصفي لکه چې له پیله یو ښوونکی و، د ژوندانه په ټولو چارو کې که د کور وې او که د سیاست، که ټولنیزې وې او که علمي، هغه یو ښه لارښود و. که به یې په چا کې څه نیمګړتیاوې ولیدې؛ نو د هغو اصلاح به یې کوله. هغه له موږ سره د اندېوالۍ ژوند درلود، موږ ته یې په ډېره نرمه لهجه لارښوونه کوله. هغه یو معلم و او تل یې له اولادونو او ټولو خلکو سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلم په خبر چلند کاوهٔ او د ژوند تر پای همداسې پاتې و. هغه موږ ته د پلار تر څنګ د یوه ښه ښوونکي حیثیت درلود. هغه به ویل چې زه چې څوک ځېرم نو له هغه څخه څه زده کوم او له تاسو څخه هم زده کړه کوم.

ارواښاد واصفي په سیاسي چارو کې یو ځانګړی دریځ درلود. هغه د سیاست په برخه کې له خپل ور نیکه څخه الهام درلود. هغه ته له ور نیکونو څخه د مشروطیت نظر او دریځ راپاتې و، چې اوس ورته ډیموکراسي ویل کېږي. ارواښاد واصفي په سیاسي چارو کې تل د وارده ایډیالوژیو مخالف و. هغه تل هڅه کوله خلک دې ته وهڅوي، چې اینده نسلونه په خپله داخلي یا افغاني ایډیالوژۍ متکي سیاست وکړي. هغه په مذهبي او شرعي علومو کې ښه مطالعه درلوده، ښه پرې پوهېدهٔ. همدا رنګه یې ادبیات هم ډېر قوي وو، په پارسي پخوانیو متونو کې یې هم ښه مطالعه درلوده، په ځانګړي ډول د بېدل او مولانا رومي اشعار به یې تل په خپلو صحبتونو کې د مثال په ډول راوړل.

هغه به تل موږ ته ویل چې هوښیار سړی کښېني او اوري چې مشران څه وایي، له هغو برداشت کوي او زده کړه. دا متل به یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل کاوۀ چې "ښه خبره ښه ده لکن د نه کړې په سر نه ده" هر خبره خپل ځای لري؛ نو چې څوک کومه خبره کوي باید ځای یې وسنجوي، چې له هغه ځای سره موافق وي.

اروانښاد واصفي به تل په هغه څه نیوکه کوله چې د ټولنې له سیاسي او مذهبي شئوناتو سره به یې ټکر درلود، مثلاً د نغلو بند پر کار یې نیوکه وکړه، چې دلته درغلي شوې ده، بیا حکومت د دې موضوع د پلټنې د هیئت مشر هم دی وټاکه او چې درغلي یې ثابته کړه؛ نو هغه تللی مال روسانو او افغاني چارواکو بېرته بیت المال ته وسپارۀ.

دی داسې یو څوک و، چې موقف او څوکۍ ورته اهمیت نه درلود. دۀ ته خپل اصول ډېر مقدس تر وو، دی په خپل مسیر روان و، د دۀ سیاست یو افغاني زایده سیاست و، وارده سیاست نه و. دی په دې معتقد و چې واکداري باید د ولس په لاس کې وي او خدمات باید ولس عرضه کړي، نۀ یو پاچا. د دۀ سیاست د ځینو خلکو له سیاسته بېل و. ده د نامعقول سیاست په وړاندې هیڅکله سر نه دی ټیټ کړی. دی یو ملنګ سړی و، ده ته د خپل ملت ګټو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او خپل تاریخ اهمیت درلود او هیڅکله یې په دې اړه له چا سره ناسالم جوړ جاړی ونه کړ.

د افغانستان د جنګ د ختم په اړه د دۀ دریځ دا وه، چې دا جنګ یوازې د جرګې او تفاهم له لارې پای ته رسېدای شي. هغه خپل دا دریځ هر ځای په ډاګه او جرأت سره وایۀ. د هغه له همدې فلسفې څخه ډاکټر نجیب الله هم الهام واخیست او د جرګو جوړولو اقدام یې وکړ. بهرنیانو په ځانګړي ډول غربیانو د هغه دا دریځ سبوتاژ کاوۀ او نه یې پرېښودل چې د جرګې له لارې دې د افغانستان ستونزه حل شي؛ خو چې کله د سپتمبر د یوولسمې ټکان وخېل؛ نو هماغه غربیان بیا اړ شول چې د واصفي لاره ونیسي. د بن غونډه او نورې یې ادامه ده؛ نو د ارواښاد واصفي نظریات معقول، منطقي او د افغانستان او نړۍ په خیر وو او باید ګټه ترې واخیستل شي.))

ارواښاد واصفي د ۸۸ کالو په عمر د ۱۳۹۴ل د غوایي پر ۱۲مه د شنبې په ورځ د وریښې ناروغۍ له امله په کندهار کې د خپل زوی عزت الله واصفي په کور کې له دې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- يوازينی کس و، چې تر وروستي وخت پورې د بن پر پرېکړو ودرېدۀ او ناروا کړنو ته يې سر ټيټ نه کړ.
- هغه د ولس غوښتنو او پرېکړو ته درناوی درلود او د جنګ پای يې په تفاهم کې لټوله.
- د مهاجرت په سختو شرايطو کې يې هم د هېواد او ملت ګټې له پامه ونۀ غورځولې.
- د ملي تفاهم لپاره يې ډېر زيار وګاله؛ خو له بده مرغه چې دښمنان په خپل هوډ کې بريالي شول او هغه ارواښاد يو ځل بيا په خپل ژوندانه، متحد او يو موټی افغانستان ونه ليدۀ.

***

***

(c) ketabton.com: The Digital Library





په ۱۳۲۲ل کې د پاچا محمدظاهر د واک پرمهال د ښځو عالي مؤسسه چې شل کسه غړې یې درلودل، په کابل ښار کې تأسیس شوه. د ښځو عالي مؤسسه د ښځو د زده کړو او ذهني تنویر په موخه رامنځ ته شوه. د امان الله خان د خور مېرمن زینب په وړاندیز او تعقیبولو سره یوه ټوټه ځمکه دې مؤسسې ته ځانګړې شوه، چې په هغې کې ورکتون، ښوونځی، سینما او د کار دفترونه جوړ شول. د ښځو دا مؤسسه چې بیا " د مېرمنو ټولنه" په نامه ونومول شوه، په فني او حرفوي زده کړو پورې محدوده وه. څارنه یې د کار او ټولنیزو چارو وزارت کوله. بنسټیزه موخه یې په مهمو چارو کې د ښځو ونډه وه، چې په دې توګه په افغاني ټولنه کې د ښځو دریځ په سالم ډول لوړ کړي. دې سپېڅلې موخې ته د رسېدو یوه مخکښه هم **صالحه فاروق اعتمادي** وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې صالحه فاروق اعتمادي د مېرمنو ټولنې مدیره شوه، هغې د مېرمنو ټولنې مسلکي ښوونځي ته ځانگړې پاملرنه درلوده او له افغان نجونو سره یې په بهر کې د زده کړو کولو لپاره مرسته کوله.

صالحه فاروق اعتمادي د میر امام الدین خان لور پر ۱۳۱۰ل= ۱۷ اگست ۱۹۳۱م په کابل کې زېږېدلې ده. پر ۱۳۲۷ل کال یې له ملالۍ لېسې څخه په درېیمه دوره کې د بکلوریا سند اخیستی دی. له ۱۳۲۸ل- ۱۳۳۱ل پورې یې د کابل پوهنتون د ادبیاتو او اجتماعي علومو په پوهنځی کې لوړې زده کړې کړي او له دغه پوهنځي څخه یې د لسانس سند اخیستی دی. لومړۍ دنده یې په ملالۍ لېسه کې د ښوونکې په توگه وه. وروسته بیا د همدغې لېسې مرستیاله او په ۱۳۳۸ل کې د همدغې لېسې مدیره مقرره شوې ده. دولس کاله یې په ملالۍ لېسه کې دنده اجرا کړې ده.

صالحې فاروق اعتمادي په ۱۳۳۴ل کې له پروفیسور ډاکټر غلام فاروق اعتمادي سره واده وکړ. په ۱۳۴۰ل= ۱۹۶۱م کې په داسې حال کې چې د ملالۍ لېسې سرپرسته مدیره وه، ترڅنگ یې دوه کاله په ادبیاتو پوهنځي کې تدریس هم کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په۱۳۴۶ل کې صالحې فاروق اعتمادي ته د مېرمنو ټولنې ریاست ورروسپارل شو. په ۱۳۵۴ل کال کې گوښه شوه او وروسته يې پنځلس کاله رسمي دنده نه درلوده.

صالحې فاروق اعتمادي د ورکتونو، د رضاکارو مېرمنو د انجمن، د فاتحې اخیستنې د سالونونو، د مور او کوچني د ملاتړ د لومړني مرکز او د مور د صندوق په تأسیس کې ډېره لویه ونډه درلوده.

مېرمن اعتمادي زموږ د ټولنې یوه مخکښه روښاندې او د امانیه دورې له تحصیل کړیو ښځو څخه ده، چې د خپلې پوهې، ځیرکۍ او وړتیا له امله ورته د پاچا محمدظاهر په دوره کې د مېرمنو ټولنې ریاست ورکړی شو.

د ښځو د حقوقو، پرمختگ، زده کړو او روزنې لپاره د هغې هاند و هڅې په افغاني ټولنه کې د ځانگړې ستاینې وړ او نه هېرېدونکي دي. د هغې په وړاندیز او د شهید محمد هاشم میوندوال په منظورۍ د غبرگولي ۲۴ مه نېټه د مور د ورځې په نامه ونومول شوه. په دې ورځې به کارگرې، د دولت او خصوصي مؤسساتو مامورینې، ښوونکې او استادانې رسماً بامعاشه رخصت

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې. د دې ترځنګ به هغه مېرمنې په ګوته کېدې، چې غوره خدمات به يې ټولنې ته وړاندې کړي وو او د کال د غوره مېرمنې په نامه به د شاندارو مراسمو په ترڅ کې ستايل او نازول کېدې. دغه مراسم به د خپرونو له خوا خپرېدل او ملکې حمېرا به وروسته ډالۍ هم ورکولې، چې په دې توګه نورې ميندې هم وهڅېږي. د ساري په ډول د مور د ورځې د لومړني جشن لومړۍ ممتازه مېرمن ګلجان حبيب وه، چې پنځه اولادونه يې(ډاکټره شريفه حبيب، ډاکټره نجيبه حبيب، ډاکټره حبيبه حبيب او ډاکټر عبدالله حبيب د طب په څانګه کې او راحله حبيب يې هم د کوچنيانو په برخه کې د قاضۍ په توګه ټولنې ته وړاندې کړي وو.

صالحه فاروق اعتمادي د خپلې وړتيا او صداقت له مخې د وزارت تر چوکۍ ورسېده او د ډاکټر نجيب الله په دوره کې په ۱۳۶۹ل کې د ناپيلي شخص په توګه د کار او ټولنيزو چارو وزيره مقرره شوه.

د مېرمن اعتمادي بل لوی خدمت د رضاکارو مېرمنو د ټولنې تأسيس و. د هېواد دې منورو او بافرهنګه مېرمنو له بېوزلو کورنيو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره د هغو د ستونزو د حل په لاربنوونه کې مادي او معنوي مرستې کولې. نالوستو مېرمنو ته يې په ټولو دولتي او خصوصي ادارو او ان زندانونو کې د سواد زده کړې لپاره کورسونه جوړ کړل. په ځانګړو حالاتو لکه زلزلې يا سېلابونو کې به يې د سرې مياشتې له مؤسسې سره همکاري کوله.

کله چې په ۱۳۵۰ل کال کې په افغانستان کې په ځانګړي ډول په شمالي ولايتونو کې سخته وچکالي او قحطي راغله، اعتمادي د مرستو لپاره کمېټه جوړه کړه، چې د هېوادوالو او نړيوال پاملرنه يې دې موضوع ته راواړوله او په خپله د خپلو ځينو رضاکارو ملګرو په ملتيا د هېواد ليرې پرتو او ستغو سختو سيمو لکه غور، قادس، موريچاق، د بدخشان فيض آباد خندود، د پامير قلعه پنج، واخان، خواهان، حضرت سعيد، لعل و سرجنګل، دولتيار او نورو ته يې سفرونه وکړل او مرستې يې ورورسولې.

په دې سفرونو کې يې يو بشپړ رپوټ هم چمتو کړ، چې د هغه په وسيله هېوادوال او نړيوال د افغانانو له ستونزو خبر او مرستو ته چمتو شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



صالحې فاروق اعتمادي د هېواد بېلابېلو سیمو ته پر سفرونو او مرستو رسولو سربېره په سیمپوزیمونو، کنفرانسونو، سیمینارونو او غونډو کې د ګډون لپاره چین، ایران، پاکستان، هند، ترکیې، فرانسې، پخواني شوروي اتحاد، مصر، هالېنډ، سویس او نورو هېوادونو ته هم سفرونه کړي دي، چې ځینې یې دا دي:

په ۱۳۳۹ل= ۱۹۶۰م د یونسکو په عمومي غونډه کې ګډون.

په۱۳۴۶ل= ۱۹۶۷م کې په مسکو کې د ښځو په بین المللي سیمپوزیم کې ګډون.

په ۱۳۴۹ل= ۱۹۷۰م کې په ډهلي کې جوړ شوي د ځوانو سرپرستانو او مربیانو په بین المللي سیمپوزیم ګډون.

د ښځو د بین المللي شورا له خوا په بینکاک کې په جوړ شوي بین المللي کنفرانس کې ګډون.

په۱۳۵۱ل= ۱۹۷۲م کې د ملکې مېرمن دیبا او شاه زې شنهاز تر سرپرستۍ لاندې په تهران کې جوړ شوي د ځوانو سرپرستانو او مربیانو په بین المللي سیمپوزیم ګډون، چې مېرمن اعتمادي په کې د لومړۍ کمېټې د رئیسې په توګه وټاکل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښځو د بين المللي فدراسيون له خوا د بلغاريا په "وارنا" کې په جوړ شوي بين المللي سيمينار کې ګډون.

په ۱۳۶۶ل= ۱۹۸۷م کې د ښځو د بين المللي فدراسيون له خوا په مسکو کې په جوړ شوي بين المللي کنفرانس کې د ښځو د استازې په توګه ګډون.

پر(۱۳۶۹ل=۱۹۹۰م) په ژنيو کې د کار په بين المللي کنفرانس کې ګډون.

پر(۱۳۷۰ل=۱۹۹۱م) د دويم ځل لپاره په ژنيو کې د کار په بين المللي کنفرانس کې ګډون.

پر(۱۳۷۰ل=۱۹۹۱م) په چين کې د آسيا پسفيک هېوادونو د کار وزيرانو په دولسم کنفرانس کې ګډون.

پر(۱۳۷۰ل=۱۹۹۱م) په تونس کې د ناپيلو هېوادونو د کار د وزيرانو په څلورم کنفرانس کې ګډون.

د ۱۳۷۱ل= ۱۹۹۲م په فبرورۍ کې د ملکې فيبوله تر سرپرستۍ لاندې د کليوالو ښځو د اقتصادي او ټولنيز پرمختګ په اړه جوړ شوي د ښځو بين المللي کنفرانس کې ګډون.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په افغانستان کې د سولې لپاره د امریکا په متحده ایالاتو (۱۳۷۶ل=۱۹۹۷م) امستردام(۱۳۷۷ل=۱۹۹۸م)، بن(۱۳۷۷ل= ۱۹۹۸م) او (۱۳۷۹ل= ۲۰۰۰م) هامبورگ په جوړو شویو کنفرانسونو او سیمینارونو کې گډون.

صالحه فاروق اعتمادي د روسانو د یرغل او اوږدو کورنیو جنگونو پر مهال هم د هېواد له غېږې جلا نه شوه؛ خو د۱۳۷۲ل= ۱۹۹۳م د دسمبر په لسمه د خپلې ناروغۍ د درملنې لپاره ډهلي ته لاړه. د هغې په غیاب کې یې د کابل په شش درک کې د هغې پلرنی کور لوټ او بیا یې وسوځول شو. په وزیر اکبرخان مېنه کې د هغې شخصي کور هم دولت ضبط کړ؛ نو هغې ته هېواد ته راستنېدل خورا ستونزمن شول.

د خپل هېواد دوسته او مبارز مېرهٔ پوهاند ډاکټر اعتمادي تر مړینې(۱۳۷۴ل= ۱۴جون ۱۹۹۵) وروسته یې د سویس د ناپېیلي هېواد ویزه تر لاسه او هلته لاړه.

صالحه فاروق اعتمادي د خپل رښتیني او ارزښتناک خدمت په دوره کې د پوهنې، مینه پال او رښتین د سرو زرو په نښانو، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرانسې د پالم اکاډمیک په نښان او د جاپان د دوستۍ په نښان اخیستلو بریالۍ شوې او نازول شوې ده.

صالحه فاروق اعتمادي لا تر اوسه ژوندۍ ده او په سویس هېواد کې اوسېږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- په افغانستان کې د ښځینه مدني خوځښت له مخکښانو څخه وه.
- د عامه ګټو د ادارو لکه د رضاکارو مېرمنو ټولنه، د فاتحې د سالونونو، د مور او کوچني د ملاتړ د لومړني مرکز او د مور د صندوق په تأسیس کې یې فعاله ونډه درلوده.
- د غبرګولي ۲۴مه د هغې په وړاندیز او د میوندوال په منظورۍ د مور د ورځې په نامه ونومول شوه.
- د افغانستان په معاصر تاریخ کې د کار او ټولنیزو چارو لومړنۍ ښځینه وزیره وه.

***

***

(c) ketabton.com: The Digital Library





هېواد او هېوادوال د هغه چا درناوی کوي، چې خادم يې واوسي او د ملت جوړونې په پار خپل افغانيت او مليتوب ثابت کړي. د هېوادوالو په درد ودردېږي او په خوښيو يې خوښ شي.

غزنی زموږ د هېواد هغه مشهوره سيمه ده، چې د تاريخ په بېلابېلو پېړيو کې يې په علم، ادب، سياست، نظاميتابۀ او نورو ډګرونو کې داسې څېرې افغاني ټولنې ته وړاندې کړي، چې يوازې د يوه قوم او يوې سيمې وياړ نۀ بلکې د ټول ملت او هېواد وياړ ګرځېدلي دي.

خواجه عمري د غزني هغه سيمه ده، چې له دې سيمې همداسې څېرې راپورته شوي او په صداقت، رښتينولۍ او مېړانه يې د هېواد او ملت خدمت کړی دی.

د هېواد له صادقو، زړورو، لايقو او زړه سواندو څېرو څخه يو هم جنرال **ميراحمد مولايي** دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میراحمد مولایي د شیراحمدخان زوی د تاج محمد خان لمسی د میرزامحمد کړوسی او د محمدخان کودی دی. د محمدخان پلار مولابردي نومېدهٔ، په ختہ بیات و. سوداګري یې کوله او له نېشاپور څخه غزني ته راغلی و. د میراحمد مولایي پلار شېراحمد د امیر حبیب الله خان په دوره کې د مالستان او بیا د جاغوري او مالستان د حاکم په توګه دنده ترسره کوله.

د میراحمد ترهٔ مسجدي خان بیات هم د حبیب الله خان پر مهال د بندرونو د سرپرست او د وردګو د حاکم په توګه رسمي دنده ترسره کوله.

امیر حبیب الله له مسجدي خان سره ښه اړیکي درلودل او دوه ځله امیر په غزني کې د هغهٔ مېلمه شوی هم و؛ خو بیا پرې امیر وخښمېده، مسجدي خان یې په توپ کې والوځاوهٔ، شیراحمد یې بندي او کورنۍ یې ورجلا وطنه کړه. د حبیب الله خان تر مړینې وروسته د امان الله خان په دوره کې د دې کورنۍ سره اړیکي ښهٔ شول، شیراحمدخان له بنده خلاص او جلاوطن شوې کورنۍ یې له بلخ او کندهاره بېرته غزني ته راغله. شیراحمدخان د خپلواکۍ په جګړه کې د سردارعبدالقدوس خان سره د کندهار جبهې ته لاړ؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د ۱۳۳۷ل په زمري میاشت کې ومړ. په دې وخت کې میراحمد ځوان و؛

مولایي هغه مهال له ښو ښوونکو درسونه پیل کړل، چې پلار یې په مالستان او جاغوري کې حاکم و. سید محمدهاشم بکاولی یې مشهور استاد و. میراحمد مولایي په ۱۳۱۱،۱۳۱۴او ۱۳۱۶ل کې درې دورې پوځي زده کړې په لوړو نومرو او ممتازې درجې سره پای ته ورسولې او د خپلو آلمانیو استادانو د ځانګړې پاملرنې وړ وګرځېدهٔ.

مولایي د غزني د حاکم عبدالحکیم خان په دوره کې د نفوس د تحصیل مامور وټاکل شو.

د امان الله په واکمنۍ کې د کتېواز د ښورښ پر مهال(۱۳۰۳ل) د خواجه عمریو او قیاقو د یوه سپارهٔ کنډک قوماندان وټاکل شو. په ۱۳۰۴ل کې د خوست د پلي کنډک کنډکمشر وټاکل شو. په ۱۳۰۵ل کې د جنوبي د اعلی حکومت د کوتوالۍ(امنیې) قوماندان وټاکل شو.

د محمد نادرشاه په دوره کې (۱۳۰۸)د لومړۍ فرقې د ۳ غونډ، غونډمشر وټاکل شو. د ۱۳۰۸ل د تلې په ۲۵ مه د نایب سالار

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاه ولي خان د ياور په توګه وټاکل شو. د ۱۳۰۹ل په سلواغې کې د شمالي د غونډ، غونډمشر وټاکل شو. د ۱۳۱۷ل په پسرلي کې د شاهي فرقې رئيس ارکان وټاکل شو. د ۱۳۱۸ل په لومړيو کې د شاهي فرقې د کفيل په توګه وټاکل شو.

په ۱۳۱۸ل کې چې کله محمدداؤد د سردار محمدهاشم خان په ملاتړ بريالی شو، له حربيې وزارته د مستقل تشکيل په چوکاټ کې مرکزي قواوې رامنځ ته کړې. د دې قواو اصلي هسته شاهي فرقه وه، چې ميراحمدخان مولايي د غونډمشر په رتبه د هغې رئيس ارکان او کفيل و. دې قواو محمدداؤد خان ته دا شونې کړه چې رسماً د واک ميدان او د خپل نظر عملي کولو ډګر ته راووځي.

د ۱۳۲۰ل په تله کې د شمالي د لوا قوماندان وټاکل شو. د ۱۳۲۳ل د وري په ۲۲ د مشرقي د فرقې قوماندان وټاکل شو او د همدې کال په زمري کې د فرقه مشرۍ رتبې ته لوړ کړای شو.

د ۱۳۲۵ل په زمري کې پر فرقه مشرۍ سربېره د مشرقي نايب الحکومه ګي هم وروسپارل شوه.

د سردار محمدداؤد خان د صدارت پر مهال په ۱۳۳۲ل کې درې مياشتې بندي و او په ۱۳۳۵ل کې تقاعد ته سوق شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۳۴۳ل کې د لویې جرګې غړی و.

جنرال مولایي یو ځیرک جنرال و، هغه د لوېدیځوالو افسرانو په څېر د خپلې دندې هره لحظه او هره پېښه د نېټې، ځای، وخت او اشخاصو په ښوولو سره ثبت کړې ده. له معلوماتو یې د عمومي او پوځي تاریخ په لیکلو کې خورا ښه ګټه اخیستل کېدای شي.

په ۱۳۵۷ل کې مړ او په ځانګړو پوځي مراسمو سره د کابل په افشارو کې خاورو ته وسپارل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- شپه او ورځ يې د هېوادوالو د هوساينې او امنيت لپاره ځان ناآرامه کړی و.
- ډېر سرغړوونکي يې حکومت ته ايل کړي او د دولت واکمني يې پراخه کړې وه.
- هېواد او نظام ته وفادار افسر و، د خوست د پلي غونډ هغه يوازينی غونډ و چې له چور چپاول وساتل شو او بېرته روغ رمټ دولت ته وسپارل شو.

❊❊❊

❊❊❊

(c) ketabton.com: The Digital Library





چـې پيـدا شـوې تـا ژړل خلکـو خنـدل
داسې مړ شه چې ته‌ خاندې خلـک ژاړي

هغه شخص چې پر خپل سوگند ټينگ پاتې شو؛ هغه شخص چې له مسلک سره يې خيانت ونه کړ؛ هغه شخص چې مرگ او ژوند يې د هېواد او هېوادوالو لپاره وو؛ هغه شخص چې په دين، هېواد او ملت يې سر وښاندۀ؛ خو اغيار ته يې د درناوي په دود ټيټ نه کړ! او همېشنی وياړمن ژوند يې وگاټۀ!!! دا شخص شهيد **عبدالحکيم کټوازی** دی.

عبدالحکيم کټوازی د حاجي پهلوان خان سلېمانخېل زوی، په ۱۳۰۴ل= ۱۹۲۵م کې د پکتيکا ولايت د کټواز په خيرکوټ کې زېږېدلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کټوازي د ژوندانه لومړي کلونه د خپلې متديني کورنۍ په انګړ کې د خپل معزز پلار تر څارنې او روزنې لاندې تېر کړل. اته کلن و، چې په کابل کې يې له خپل پلار او ترۀ سره استوګنه غوره کړه. دا هغه مهال و چې په کټواز کې د "يارو" او "شاشي" په نامه دوه کسانو بلوا جوړه کړې وه. د همدې بلوا په تړس کې په کابل کې د کټوازي پلار پهلوان خان او ترۀ دواړه بنديان شول. اووۀ کاله يې د زندان کړاوونه وګالل.

د دوی د زندان په دوره کې ارواښاد کټوازي او د هغه کوچني ورور عبدالحبيب په عسکري رشديه ښوونځي کې پر زده کړو بوخت وو. له پسرلي تر مني پورې به يې زده کړې کولې او د ژمي رخصتۍ به يې په زندان کې له پلرونو سره تېرولې. د کوچنيتابه دې پخې تجربې د ګاندې د ژوندانه د ثبات او مېړانې په اړه کټوازي ته ډېر څه ورزده کړل.

کټوازی په۱۳۲۲ل= ۱۹۴۳م کې د کابل له حربي ښوونځي څخه فارغ او په حربي پوهنتون کې شامل شو. په حربي پوهنتون کې د زده کړو تر بشپړولو وروسته کټوازی په ۱۳۲۵ل= ۱۹۴۶م کې په حربي علومو کې د نورو لوړو زده کړو لپاره هند ته لاړ. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



بریالیتابه سره د زده کړو د دورې تر بشپړولو وروسته په ۱۳۲۶ل= ۱۹۴۷م کې ببرته هېواد ته راستون شو.

تر راستنېدو وروسته د خورد ضابطانو ښوونځي د قوماندان په توګه وګومارل شو؛ خو د دې درندې دندې ترڅنګ یې په حربي پوهنتون کې هم تدریس کاوۀ.

اروانښاد کتوازی په ۱۳۳۲ل= ۱۹۵۳م کې یو ځل بیا د نورو تخصصي زده کړو لپاره د ترکیې جمهوریت ته ولېږل شو. په ۱۳۳۵ل= ۱۹۵۶م کې یې په پیاده مسلک کې په اعلی درجه سره تخصص بشپړ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library





تر راستنېدو وروسته په۱۳۳۶ل= ۱۹۵۷م کې د دفاع وزارت په چوکاټ کې د هوايي ځواکونو د ښوونې او روزنې د عمومي مدير په توګه وګومارل شو، چې بنسټ يې نوی ايښودل شوی و. تر۱۳۳۹ل = ۱۹۶۰م پورې يې په همدې پست کې دنده تر سره کړه.

د ۱۳۳۹ل کال په وروستيو کې د نورو لوړو حربي تحصيلي مدارجو د تر لاسه کولو لپاره د ترکيې جمهوريت د استانبول د ارکانحرب پوهنتون ته ولېږل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





په۱۳۴۱ل= ۱۹۶۲م کې يې د ارکانحرب تړول مدارج په بریالیتابه سره پای ته ورسول او بېرته هېواد ته راستون شو. تر راستنېدو وروسته د دفاع وزارت د ښوونې او روزنې د عمومې مدیر په توگه وټاکل شو. د دفاع وزارت په چوکاټ کې تر نه هېرېدونکوحربي ښوونیزو خدمتونو وروسته د ریشخورو د اوومې فرقې رئیس ارکان او ورپسې په۱۳۴۴ل= ۱۹۶۵م کې د کابل ښار امنیه قوماندان مقرر شو. په ۱۳۴۸ل= ۱۹۶۹م کې د ژاندارم او

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوليسو عمومي قوماندان مقرر شو او برید جنرالۍ ته یې ترفیع وکړه. په۱۳۵۱ل= ۱۹۷۲م کې ارواښاد کټوازی د ریشخورو د اوومې فرقې د قوماندان په توګه مقرر شو او د ۱۳۵۲ل کال د چنګاښ د ۲۶مې تر سپینې کودتا پورې په همدې دنده پاتې شو. تر کودتا وروسته د ځینو خاینو او هېواد پلورو د پلمو په پایله کې زندان ته ولېږل شو. د ۱۳۵۵ل= ۱۹۷۶م تر سپتمبر پورې یې تر دریو کالو زیات بند تېر کړ؛ خو کله چې له بنده خوشې شو؛ نو په کور کښېنول شو.

د ثور تر خونړۍ کودتا وروسته ارکانحرب جنرال کټوازی یو ځل بیا زندان ته واچول شو؛ خو له حتمي مرګه په دې خلاص شو، چې جنرال سیدعبدالغني وردګ سوګند وکړ، چې جنرال کټوازي د کمونستي رژیم پر وړاندې په کودتا کې ونډه نه درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د شهيد ارکانحرب کتوازي وراره رحمت الله کتوازی او ډگروال صاحب جان کتوازی د مرکې په حال کې

کتوازی د جهادي دورې په اوږدو کې هم له دين، هېواد او ولس سره بې کچې ژورې مينې له هېواده وتلو ته پرېنښود او د ډېر ستونزمن ژوندانه پېټې ته يې په کابل کې اوږه ورکړه. کله چې د مستبد او خونړي رژيم په وروستيو کې خلکو ته د نظر څرگندولو موقع ورکړې شوه، له دې موقع په گټې اخيستنې سره د ځينو نورو ملي او مخورو سياسي شخصيتونو په همکارۍ يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په۱۳۶۸ل= ۱۹۸۹م کې د "ملي رستګارۍ ټولنې" بنسټ کېښود او د هېواد ژغورنې او خپلواکۍ لپاره يې عملاً هلې ځلې پيل کړې.

کله چې د اسلامي دولت پر مهال ګوندي او خپلمنځو جنګونو کابل پر سر واخيست، د ارواښاد کټوازي يو زوی هم په دې جنګونو کې شهيد شو او حالات دې ته ورسېدل، چې نور نو په کابل کې ژوند ناشونی و. له دې امله کټوازی هم په مات خو هيله من زړه له خپلې کورنۍ سره پېښور ته مهاجر شو. هغه پېښور ته له رسېدو سره سم "د تفاهم او ملي يووالي شورا" سره يو ځای شو. څه موده د نوموړې شورا مرستيال او يو کال يې هم د هغې د انسجام د رئيس په توګه دنده تر سره کړه. په دغه دوران کې کټوازي د شورا لپاره داسې کارونه وکړل، چې د افغانانو او بهرنيانو پام يې ځانته راواړاوه. د افغانستان د هغه مهال حکومت هم دی کابل ته د خپلو طرحو سره راوغوښت. هغه خپلې طرحې له نږدې له حکومت سره شريکې کړې. د حکومت له خوا هم تاييد شوې او ده ته وويل شول، چې د دغو طرحو د عملي کولو لپاره يو مېکانيزم جوړ کړي. کله چې دی د مېکانيزم په جوړولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوخت شو، د هېواد د دښمنانو له خوا ورته ډول ډول اخطارونه ورکول کېدل.

د شهید کتوازي کلکه او سمه عقیده، اغېزناک کار، له هېواد سره مینه، پر ژمنه وفا، په خلکو باور او د ملت په پراخو پرګنو کې د هغه نفوذ د دې لامل شول، چې د افغانستان دښمنان او پردیپال خپلو شومو موخو ته د رسېدو په لاره کې، هغه خنډ وبولي؛ نو هغه وو، چې دغه کرغېړنې خبرې د هېواد د دې زړور، بادسپلینه، رښتیني او اتل بچي د وینو تویولو په لټه کې شوې او په پای کې یې ارکانحرب جنرال عبدالحکیم خان کتوازی د ۱۳۷۴ل د لړم په ۱۱مه=۱۹۹۴م نومبر ۲مه نېټه د پېښور په بورډ کې د سهار پر نهو بجو د خپل دفتر مخې ته شهید کړ. د دهٔ په مړینه کورنیو او بهرنیو سیاسي مشرانو او نړیوالې ټولنې خپله ژوره غمرازي ښرګنده کړه. په ډېرو ځایونو کې خلکو د هغه د غیابي جنازې لمونځونه ادا کړل.

د کتوازي په خواشینوونکې مړینه عبدالله غمخور دا مرثیه ویلې ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه پوهېږمه چې نمر پرېوت، که غر پرېوت
که افسر کړ چا ترور که لښکر پرېوت
خلک وايي سل دې ومري يو دې نه مري
د سرونو چې و سر هغه سر پرېوت
جنرالان دې خاورې باد کړي په سرونو
د اردو د لاسه تور سپر پرېوت
په مرگ نه يم په درد نه يمه غم دا دی
په مورال د افسرانو شرر پرېوت
بيا به څوک د نام وننگ قومانده ورکړي
چې عبدالحکيم په هسې محشر پرېوت
په سيرت او په صورت کې و بې مثله
سرو قد و، که شمشاد که نښتر پرېوت
رڼا ورځ په افغانانو توره شپه شوه
په کندو ختلی نمر چې سحر پرېوت
ترورېږمې د لارو چې پرې رڼا وي
د فلک له بامه هغه قمر پرېوت
د هجرت لمنه سره شوله په وينو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــــه افـــق د مهجورانـــــو خـــادر پرېـــوت
د ســپین غــر د زړه نــه شــنې لــوخړې خېــژي
چــې عقــاب یــې د بــې دردو پــه در پرېــوت
قربـــاني شـــو د خــــوارډه وطـــن لـــه سره
پـــانې پـــانې لکـــه گـــل د احمـــر پرېـــوت
د شـــــورا د تفـــــاهم جنـــــازه وځـــــي
چــې د لاســه یــې دریــاب تــه گــوهر پرېــوت
اوس کـــه خـــاورې بـــادوم نـــه کـــوي ســـود
چــې مــې غشــی د جفــا پــه ځیگــر پرېــوت
ســـتا یادونـــه بـــه ژونـــدي ســـاتو جنرالـــه
پـــه سر مـــو د غمونـــو دفـــتر پرېـــوت
تـــه شـــاهین د دنگـــو غرونـــو د افغـــان یـــې
تـــه ســـالار د شـــهیدانو د کـــاروان یـــې

نومبر ۱۹۹۵م پیښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهید کتوازي دوه دېرش کاله نهه میاشتې او څلېرویشت ورځې هېواد ته پوځي خدمت کړی دی. د عسکري منصبونو کلونه یې په دې ډول دي:

په ۱۳۲۵ل کې ضابط، په ۱۳۲۶ل کې درېیم بریدمن، په ۱۳۲۸ل کې دویم بریدمن، په ۱۳۳۰ل کې لومړی بریدمن، په ۱۳۳۲ل کې تورن، په ۱۳۳۶ل کې جکتورن، په ۱۳۳۸ل کې جګړن، په ۱۳۴۳ل کې ډګرمن، په ۱۳۴۷ل کې ډګروال او په ۱۳۵۱ل کې یې برید جنرالۍ ته ترفیع وکړه.



په انځور کې کتوازی له جنرال عبدالولي سره لیدل کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اروابناد عبدالحکیم کټوازی که څه هم پوځي شخص و؛ خو ولس سره يې ډېر ولسي او نرم چلند کاوۀ. ډېر مهربان او خدمتګار شخص و. له سپین ږېرو او ځوانانو سره يې ټینګ اړیکي ساتل. په ځانګړي ډول د لويې پکتیا له سپین ږیرو او ځوانانو سره تل په ټولنیزو چارو کې نږدې او ان شریک و.

څرنګه چې په خپله یو پوځي جنرال و، نو ډېر ځوانان يې هڅول، چې په پوځي زده کړو کې ځان شامل او په دې ډول هېوادوالو ته خدمت وکړي. په ډېرو پوځي ادارو کې لا تر اوسه هم داسې اشخاص شته چې د اروابناد کټوازي په هڅونه او مرسته يې په دې ډګر کې زده کړې کړې دي او د هغه د لاس د نیالګیو حیثیت لري.

د افغانستان د پولیسو د اکاډمي قوماندان سید نورالله ځل، چې هغه مهال تازه له اکاډمۍ فارغ شوی و، د اروابناد کټوازي په اړه وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library





(( د۱۳۵۱ل کال د جدي په وروستیو کې موږ د پولیسو له اکاډمۍ فارغ شو. په همدغه وخت کې کټوازی د کابل له امنیه قوماندانۍ څخه د افغانستان د ژاندارم د عمومي قوماندان په توګه مقرر شو. امر یې کړی، چې موږ ورسره ووینو، موږ چې ورغلو تر سترګو مشو وروسته یې وپوښتل، چې ستاسو اول نومره څوک دی، زه پورته شوم. راته ویل یې چې ته د خپلې خوښې د انتخاب حق لرې، د کومې ولسوالۍ د امنیه قوماندان په توګه ځې، که د ولایت د ترافیکو د مدیر په توګه او که د جنایي امیر یا د سرحد د کمیسار په توګه!؟ ما ویل نه صاحب زه غواړم چې په اکاډمۍ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاتې شم، هغه ویل دا خو ستا حق دی، خو چې یو ځل عملاً له ولس سره کار وکړې نو بیا به راشې.

هغه په خپله هم پوهېده، نور پوه او وړ خلک یې هم خوښول او په پرنسیپ معتقد او ولاړ صاحب منصب و.

په ۱۳۴۹ل کې د پولیسو په نامه مجلې په خپرېدو پیل وکړ. ما لا د مکتب له دوره لړې لړې لیکنې کولې او شعرونه به مې هم ویل. په ۱۲ ټولګي کې وم، چې د هېواد ورځپاڼې له خوا د خبریال کارډ راکړی شو؛ خو ما په اکاډمۍ کې چا ته نه ښوده، ځکه هغه وخت پوځي کسانو ته دا اجازه نه وه.

هغه وخت کې د نظامیانو شعار دا و:

**خدای، پاچا، وطن**

هغه وخت په کوټه سنګي کې د غلو پر ضد په عملیاتو کې یو صاحب منصب چې محمدجان نومېده ټپي شو. د میوندوال دوره وه، صدراعظم امر وکړ، چې آریانا الوتکه چارټر کړئ او ژر تر ژره یې بېروت ته یوسئ چې درملنه یې وشي. محمدجان هلته ومړ؛ نو بیا ما په پولیس خپرونه کې د هغه په اړه دا شعر خپور کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



خـدای وطـن پاچـا سـهار لـري پـولیس
ښـه تکـړه ځوانـان بیـدار لـري پـولیس
تور شپو کې چې د غلو په لاس شهید شـو
محمـدجان شـهید نامـدار لـري پـولیس

نور شعر مې ټول نه دی یاد؛ خو مقطع يې وه:

د وطـــن د اعـــتلا لپـــاره ځلـــه
پـه عامـه نظـم ټینګـار لــري پــولیس

کله چې دا شعر خپور شو؛ اروانښاد کټوازي خوښ شوی و، زه يې غوښتی وم؛ غوښتل يې چې ومې نازوي؛ خو د هغه وخت امرینو زه ور نه وستم، ځکه نه يې غوښتل چې يو ځوان کس دې ونازول شي او مخه دې پیدا کړي.

نو کټوازی ډېر علمدوسته، وطندوسته او فرهنګدوسته سړی و. ډېر دیانتدار او باپرنسیپه انسان و. له خپلې چوکۍ او مقامه يې هیڅکله ناوړه ګټه نه ده اخیستې. زما یادېږي، چې د کابل په ده بوري کې د ببرک خان ځاځي په کور کې خیرات و، ببرک خان هم پوځي صاحب منصب و، چې د ويښ زلمیانو له غړیو سره يې ټینګ اړیکي درلودل. زه هم د ببرک خان ځاځي خوريي خیرات

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته بللی وم. هلته ما د کټوازي صاحب په تن کې داسې څه ولیدل چې اوس مې هم نه هېرېږي. د هغه تور کمرنګه پټو په ځان و، څادر مښودی معلومېده او د پلو له پټې سره یې یو ځای ته پیوند لګېدلی و؛ نو له دې معلومېږي، چې هغه د شخصي ګټو سړی نه و.))

اخلاقو، دیانت، سپېڅلتیا، دسپلین او ژمنتیا کټوازي ته د هېوادوالو په زړونو کې ځای ورکړی و. خلیل الله ناظم باختري د هغه تر شهادت وروسته د هغه په اړه په یوې لیکنې کې داسې وایي:

(( خاصتاً این فرموده شان را هرگز فراموش نخواهم کرد که می گفتند، اگر پولیس، څارنوال و قاضی عادل نباشند، بجای گرگ، گوسفند جزا خواهد دید. من شخصیت جنرال کتوازی را چه در قوماندانی عمومی پولیس و ژاندارم، چه در فرقۀ ریشخور چه بعد از رهائی از زندان محمدداؤدخان همان یافتم که در اول دیده بودم.))

(c) ketabton.com: The Digital Library





شهید کتیوازی له شهید سردار محمدداؤد خان سره

اروابناد کتیوازی ډېر دینداره سړی و؛ تل به یې کوښښ کاوۀ، چې پنځه وخته لمونځ په خپل وخت او په جَمعې سره وکړي. د قرانکریم د تلاوت کلکه پابندي یې کوله. اروابناد کتیوازی داسې خاکساره شخص و چې د ژوندانه تر اخره یې شخصي موټر او ساتونکي نه درلودل.

لیکوال شاه محمود میاخېل چې هغه مهال په پېښور کې د امریکا غږ خبریال و، کتیوازی یې له نږدې پېژاندۀ او کله کله به یې ورسره کتل وایي: کتیوازی صاحب یو ملي شخصیت و، ارام

(c) ketabton.com: The Digital Library



صحبت یې کاوۀ. د اخري ځل لپاره یې د پېښور په ټاون کې د افغان خبري آژانس په دفتر کې د دغه اژانس د مشر حاجي سید داؤد په شتون کې له ماسره ولیدل، اروانباد کټوازی په دې هیله و چې د سولې او تفاهم له لارې د افغانستان ستونزې ته باید د حل یوه معقوله لاره پیدا شي، هغه د جنګ د دوام مخالف و.



جنرال کټوازی د وسله والو ځواکونو له افسرانو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- له لومړنیو مسلکي، ربښتینو، دیانتدارو او هېواد مینو پوځي افسرانو څخه و.
- که څه هم د سخت پوځي انضباط غوښتونکی افسر و؛ خو له ولس سره یې په کلکه ولسي اړیکي پالل.
- له دولتي مقاماتو یې هیڅکله ناوړه ګټه وانه خیسته او په لوړو دولتي پستونو له کار سره سره یې د عادي افغان په څېر ژوند تېر کړ.
- د هېواد د ربښتیني خپلواکۍ لپاره یې نه ستړې کېدونکي هلې ځلې کولې؛ ځکه خو هېواد دښمنو اشخاصو شهید کړ.

***

***

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ملت جوړونې ملي، مترقي او د هوساینې مفکورې، د خدمت لېوالتیا او په پای کې په نړیوال پرمختګي بهیر کې هېواد ورګډول هغه معنوي شتمنۍ دي، چې انسان له دنیوي او اخروي بېوزلیو ژغوري؛ خو د افغانستان په څېر هېواد کې دا معنویات ډېر لږ کسان درک کولای او په قدر یې پوهېدلای شي. یو له دغه ډول دراکو شخصیتونو څخه هم **عبدالحکیم طبیبي** و.

عبدالحکیم طبیبي د ۱۳۰۴ل کال د تلې په میاشت کې په کابل کې زېږېدلی دی. له حبیبیې لیسې څخه فارغ او د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو په پوهنځي کې شامل شو. په ۱۳۲۵ل کې له پوهنځي فارغ او په بهرنیو چارو وزارت کې پر دنده ګومارل شوی دی.

په ۱۳۲۷ل کې د امریکا په متحده ایالاتو کې له سردار محمدنعیم خان سره د افغان سفارت د آتشه په توګه مقرر شو. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې تر څنګ يې زده کړو ته دوام ورکړ او د جورج واشنګټن له پوهنتون څخه يې په ۱۳۳۱ل د ماسترۍ ديپلوم تر لاسه کړ.

بيا په دې بريالی شو، چې په ۱۳۳۳ل له امريکن پوهنتون څخه د ډاکترۍ عالي ديپلوم واخلي.

هېواد ته تر راګرځېدو وروسته په ۱۳۳۴ل کې د بهرنيو چارو وزارت په درېيمه شعبه کې د سياسي خدماتو د ادارې مدير او رئيس شو. له ۱۳۳۵ل راهيسې يې په ملګرو ملتونو په سازمان کې د افغانستان په دايمي نماينده ګۍ کې د لومړي منشي، مشاور او مختار وزير په توګه دندې ترسره کړې.

له ۱۳۴۴- ۱۳۴۵ل پورې د افغانستان د عدليې وزير و. له ۱۳۴۶- ۱۳۵۲ل پورې يې په يوګوسلاويا، جاپان، هند، بلغاريا، فليپين او نيپال او د ملګرو ملتونو په سازمان کې د افغانستان د لوی سفير په توګه دندې ترسره کړې.

د روسانو تر يرغل وروسته يې له دې دندې استعفی ورکړه. طبيبي ۲۵ کاله په بين المللي غونډو او بين المللي حقوقي کنفرانسونو کې د افغانستان په استازولۍ ګډون کړی دی. د دې فعاليتونو په ترڅ کې يې د " حقوق دريايی" او " حق ترانزيت" کتابونه وليکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په ۱۹۵۹م کې په سویس کې په انگلیسي ژبه، بیا په ۱۹۶۰م کې په پراگ کې په حقوق مجله او په ۱۹۷۱م کې د کتاب په بڼه د هند د حقوقي مشورتي کمېټې له خوا او په ۱۹۷۲م کې د حقوق وین په بین المللی مجله کې چاپ شوی دی.

طبیبي پر سیاسي شخصیت سربېره یو لیکوال او شاعر هم و. د ځوانۍ له مهال یې لیکوالي او شاعري کوله. د غوایي تر کودتا وروسته یې ژنیو ته هجرت وکړ او هلته یې د عروة الوثقی په نامه مجله خپروله.

آثار یې زیاتره په دري؛ خو څه یې په انگلیسي او عربي ژبو دي.

دموکراسی تطبیقی، حق ترانزیت ممالک بی بحر با نتیجه مجادله افغانستان در راه تثبیت این حق، حقوق بین الدول، افتخارات افغان، سیاست بین المللی، تلاشهای سیاسی سید جمال الدین افغانی، حق ترانزیت و به رسمیت شناختن آن، حق کشورهای محاط به خشکه برای ترانزیت آزاد، سیر تصوف در افغانستان، شگوفایي هرات در عصر تیموریان، رساله در رابطه به تراژیدی افغانستان، خلافت یا مراجع اداره در اسلام، خاطرات

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالحکیم طبیبی، افغانستان و هند، اوضاع افغانستان و اقداماتی که باید صورت گیرد او خاطرات پریشان يې رامعلوم آثار دي.

عبدالحکیم طبیبي د تکړه غړي په توګه د افغانستان د اساسي قانون په تدوین او د اساسي قانون د تصویب په لویه جرګه کې ګډون درلود.

د ژمن او ویاړ مډالونه يې هم تر لاسه کړي دي.

د شعر بېلګه:

فــدای تربــت مشــکین مولینــا سر و جــانم    شــود قربــان خــاک پــای وی صــد کفــر و ایمــانم
زخــاک بلــخ رفــتم تابـوســم مرقــد پــاکش    هــوای قونیــه مســتانه ام کــرد و غــزل خــوانم
تو در تاب و تب شمسی و من در عشق تو نالان    بـه قربانـت شـوم مـولا کـه هسـتی جـان جانـانم
شـــده اواره ملکـــت مـــنم دیوانـــه کویـــت    تــرا چنگیــز آفــت گشــت مــرا روس شــیطانم
بخارا رفت از دست و کنون بلخ است در آتش    سرت گـردم تجلـی کـن کـه مـن در سـوز و افغـانم
جوانان مست چون شیران شهیدان هر طرف خندان    ولــی آتــش بــه جــانم شــد زگریــان یتــیمانم
وطــن مــاتم سرا گردیـد و کشــور شــد نــزار    تــو ای مــولای درویشــان نجــاتم ده زطوفــانم

طبیبی شکوه ها دارد زغربت قصه ها دارد
به سوزنی علاجم کن ویا بارقص مستانم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- د افغانستان له تکړه او غوره ډیپلوماتانو څخه و، چې ډېر وخت په بېلابېلو هېوادونو کې د سفیر په توګه پاتې شوی دی.
- یو عالم، فاضل او تکړه لیکوال و فرهنګپال شخص و، په لسګونو کتابونه یې چاپ او ټولنې ته وړاندې کړي دي.

په جهادي دوره کې یې هم ونډه اخیستې او په ژنیو کې یې د عروة الوثقی په نامه مجله خپروله.

***

***

(c) ketabton.com: The Digital Library





د نړۍ ټول تمدنونه د انسان په لاس رامنځ شوي دي او لا رامنځ ته کېږي به. دغه تمدنونه د انسان د تعقل، تفکر، تدبر او کړاو پایله وه او وي به. د تمدنونو د رامنځ ته کېدو مخکښ او لومړنی محرک هغه څوک دی، چې په پیل کې لږ تر لږه شپږ اووه کاله د یوه سالم، عاقل، مفکر او مدبر انسان د روزلو دنده پر غاړه اخلي؛ دا شخص مېرمن نومېږي. د حضرت محمد مصطفی ﷺ لومړنۍ روزنه هم الله په خپل حکمت مېرمن ته وسپارله، ځکه چې مېرمن د لورېينې، زړه سواندۍ، زغم او په مجموع کې د انساني معنوي ښکلا سمبول دی.

بویه، چې په ټولنه کې دا پوره تثبیت او له ورتیاو یې د ټولنې د هوساینې او پرمختګ لپاره ګټه واخیستل شي. بېځایه او نامعقول خنډونه یې له مخې لیرې او د اسلام د سپېڅلي دین له ارشاداتو سره سم د هېواد او هېوادوالو د خدمت موقع ورکړی شي. له بده مرغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې تر اوسه لا د افغاني ټولنې اکثریت یا ښځه د بېځایه، نامعقولو او نااسلامي دودونو په پړو بند پر بند تړل شوې ده؛ خو انسان باید خپل همت له لاسه ور نه کړي؛

که اسمان دې د مزري په خولهٔ کښې ورکا
د مزري په خولهٔ کښې مه پرېږده همت
د عمل ذخیره واستوه د وړاندې
دا یو څو ورځې ژوندون دی غنیمت

همت له لاسه ورکول، بدمرغیو او ناخوالو ته غاړه ایښودل دي. د انسان همت دا نه مني، چې تل دې له بدمرغیو او ناخوالو سره مخامخ وي؛ خو داسې انسانان ډېر لږ پیدا کېږي، چې د زمري په خوله کې هم همت له لاسه ورنه کړي؛

**لطیفه کبیر سراج** هم له دغو باهمتو انسانانو څخه وه، چې په دودپاله افغاني ټولنه کې د ژورنالیزم په ډګر کې ښځینه مخکښه شوه او د تل لپاره یې د افغانستان د ژورنالیزم په تاریخ کې خپل نوم په خپل همت ثبت کړ.

د امیر حبیب الله خان مشر زوی، سردار عنایت الله په ۱۲۸۹ل = ۱۹۱۰م کې د ارواښاد محمود طرزي له مشرې لور

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیریه سره واده وکړ. «خیریه» د هغه مهال تر ټولو ښه خطاطه او ژباړنه وه. د خیریه د واده ثمره دولس اولادونه وو، لسم اولاد یې«لطیفه» نومېده، چې په ۱۳۰۲ل= ۱۹۲۳م کې یې نړۍ ته سترګې وغړولې او په لطیفه کبیر سراج مشهوره شوه.

کله چې غازي امان الله خان له واکمنۍ ګوښه شو، مشر ورور یې سردار عنایت الله خان درې ورځې د سلطنت چارې په لاس کې واخیستې؛ خو کله چې د انګلیسانو په پلمو پوه شو او حبیب الله کلکانی واک ته ورسېد، هغه د خپلې کورنۍ له ټولو غړیوسره په ۱۳۰۸ل= ۱۹۲۹م افغانستان پرېښود. لومړی هندوستان ته ولاړ او بیا عراق ته وخوځېد. هغه مهال امیر فیصل د عراق پاچا و. د ایران پاچا رضاشاه پهلوي هغه ته بلنه ورکړه؛ نو بیا د بصرې ښار له لارې ایران ته لاړ او په تهران کې استوګن شو. هغه مهال لطیفه سراج یوه کوچنوټې وه. هغې په خپل ګاونډي هېواد کې له لومړي سره زده کړې پیل کړې. په ۱۳۲۵ل= ۱۹٤٦ م کې یې پلار سردارعنایت الله خان په تهران کې ومړ. څه وخت وروسته د افغانستان د هغه مهال صدراعظم شاه محمودخان د محمدظاهرخان

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دوره کې د سردارعنایت الله خان کورنۍ ته افغانستان ته د راتگ اجازه ورکړه او بېرته هېواد ته راوگرځېدله.

لطیفه سراج کابل ته له رارسېدو وروسته د دري، تاریخ او جغرافیې د ښوونکې په توگه په ملالۍ لیسه کې وگومارل شوه؛ خو تر څنگ یې د مستوراتو په روغتون کې د دري د ښوونکې په توگه د هغه روغتون نرسانو ته تدریس هم پیل کړ. هغه یوازې ښوونکې نه وه د ښځو د نهضت ممثله او هڅوونکې هم وه. په ډېره مهربانۍ سره یې پېغلې او پېغلوټې د پرمختگ، هوساینې او ډیموکراسۍ لپاره هڅولې. لطیفه سراج او خور یې زینب عنایت سراج د زینب ننداري د تیاتر هڅوونکې هم وې او د زینب ننداري په پرمختیا او پیاوړتیا کې ډېر کړاوونه وگالل. د دریځ تر شا پر کارونو سربېره یې د ډرامونو په لیکلو کې هم مرسته وکړه. (افسانه) یې مشهور ډرام دی، چې په زینب ننداري کې ننداري ته وړاندې شوی و.

دې مخکښې مېرمنې هغه مهال په ویاندۍ پیل وکړ، چې زیاتره وگړي او په ځانگړي ډول ښځینه پوړ ان له لومړني سواده هم محروم و. کله چې ښاغلی عبدالغفور برېښنا د افغانستان راډیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمومي آمر و، لومړی به يې پروګرامونه د هغې په غږ د هغې په کور کې ثبتول او بيا به د راډيو له څپو خپرېدل؛ خو په ټولنې کې د زغم تر غبرګون وروسته رسماً راډيو ته ورغله او نېغ په نېغه به يې خبرونه، سياسي تبصرې او بېلابېل پروګرامونه لوستل او د راډيو له څپو به خپرېدل. مېرمن آمنه ملکزاده او رقيه حبيب ابوبکر هم لومړنۍ ښځينه وياندانې وې، چې له مېرمن سراج سره راډيو ته راغلې او وياندي يې پيل کړه.

کله چې د نرينه و تر څنګ په راډيو کې د ښځينه و نرم او لورانده غږ انګازه وکړه، تر هغه وروسته د خبرونو اورېدو ځانګړی خوند او رنګ پيدا کړ او اورېدو يې ستړيا نه رامنځ ته کوله. د هغې په زړه وړونکـي خواږه غږ او نرمې لهجې، خبرونو اورېدو يو ځانګړی خوند درلود او له يو نواختۍ څخه راووتل.

لطيفې کبير سراج د ښځمنو وياندۍ ته لاره خلاصه کړه؛ نو د هغې نوم به د افغانستان د ښځينه وياندۍ په تاريخ کې د لطيفې په څېر په حافظو کې خوندي وي.

په تياتر کې د يوه هنرمند تمثيل نقش دی، چې په حرکاتو او غږونو سره نندارچيان بوخت ساتي؛ خو په دريځ کې د ډرام

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنسټیزه بشپړوونکې برخه د دریځ تر شا چارې دي، چې لطیفې سراج له خپلې خور زینب عنایت سراج او نورو مېرمنو سره په ګډه ترسره کولې.

هغو فرهنګي خدمتونو ته په کتنې چې د هېواد په فرهنګي ډګر کې یې ترسره کړل، د هېواد د مطبوعاتو له خوا وستایل او ونازول شوه. لومړۍ جایزه د ارواښاد "بېنوا" له خوا ورکړی شوه او د هغه وخت د اطلاعاتو او کولتور وزارت له خوا څو ستاینلیکونه ورکړی شول.

لطیفه کبیر سراج هغه مهال یو ځل بیا د هېواد له نازنینې غېږې جلا شوه، چې په ۱۳۵۸ل پخواني شوروي اتحاد په افغانستان یرغل وکړ. لومړی پېښور ته لاړه او له هغه ځایه یې بیا امریکا ته پناه یوړه.

هغې تر هېواد بهر هم د پام وړ فرهنګي خدمتونه کړي دي. پر ۱۹۸۰م کال په امریکا کې د استوګنې پر مهال د امریکا د دولت له خوا د دري برخې د ویاندې په توګه په امریکا غږ راډیو کې وګومارل شوه. لس کاله یې دنده ترسره کړه؛ خو د ژوندانه د خواږه ملګري د زړه ناروغۍ له امله، د عملیاتو لپاره له ورجینیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځه کلفورنیا ته لاړه او څه موده هلته د مېړه تر څنګه پاتې شوه؛ خو له هغې سره هم ژوند وفا ونه کړه او له دې فاني نړۍ یې سترګې پټې کړې.

لطیفې کبیر سراج په ۱۳۳۸ ل= ۱۹۵۹م کې له کبیر سراج سره واده وکړ او د واده حاصل یې پنځه زامن او دوه لونې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:


- د کابل راډیو لومړنۍ ښځینه ویانده وه.
- په افغانستان کې د ښځینه مدني خوځښت مخکښه وه.
- په ویاندۍ کې بې جوړې او د ځانګړي سبک څښتنه وه.

***

***

(c) ketabton.com: The Digital Library





لکه چې د بشریت څېرې بدلې دي، همدا رنګه یې خویونه او مزاجونه او پرېکړې او قضاوتونه هم بدل دي. که د یوې مسألې په اړه د یوه سل کسیز انساني ټولي نظر وپلټل شي، ښایي د دوه کسو نظرونه هم کټ مټ سره ورته نه وي؛ د هر انسان لید او نظر بېل وي؛ هیڅ داسې مسأله نه شي پیدا کېدای چې سل په سلو کې دې پرې اتفاق وي.

د اشخاصو په اړه د قضاوت هم دا حال دی؛ خو د کوم کس په اړه چې د ټولنې اکثریت مثبت یا منفي لید ولري؛ هغه د ټولنې منلی او یا رد کړی کس بللای شو.

**علي احمد جلالي** هم د افغاني ټولنې له منلو کسانو څخه دی، چې د افغاني ټولنې اکثریت یې په اړه مثبت لید لري. د کارونو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليدلورو ستاينه يې کېږي، په درنه سترګه ورته کتل کېږي او د هېواد په معنوي بيا رغاونه کې ترې ګټې کېږي.

علي احمد جلالي د مرحوم استاد غلام جېلاني جلالي زوی چې پر ۱۳۱۹ل =۱۹۴۰م په کابل کې زېږېدلی، له آره د غزني ولايت د واغز ولسوالۍ د شهزادګانو کلي اوسېدونکی دی.

علي احمد جلالي لومړنۍ او منځنۍ زده کړې د کابل په حبيبيه لېسه کې پای ته رسولې دي. له حربي پوهنتون څخه يې د ليسانس سند اخيستی دی. له حربي پوهنتونه تر فراغت وروسته يې د امريکا په متحدو ايالتونو کې لوړو پوځي زده کړو ته ادامه ورکړه. بيا يې د انګلستان د شاهي اردو د کيمبرلی له کالج څخه د ارکانحرب ډيپلوم ترلاسه کړ او د امريکا د کليفورنيا د سمندري عالي تحصيلاتو په کالج کې يې د دفاعي مديريت په چارو کې زده کړه وکړه. جلالي د مقايسوی سياسي علومو په څانګه کې د فوق ليسانس ډيپلوم يې د متحده ايالاتو په بوسټن پوهنتون پورې اړوند د واشنګټن د سياسي علومو له انستيټيوټ څخه تر لاسه کړ.

علي احمد جلالي په يوه عالمه او فاضله کورنۍ کې زېږېدلی دی. پلار يې د افغانستان د معاصري علمي او فرهنګي ودې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکښانو څخه وو، چې د امان الله خان په دوره کې يې د لويې پکتيا د معارف د لومړني مدير په توگه عصري ښوونځي تأسيس کړل. تر دې دندې د مخه هغه په قطغن کې د "بيدار اخبار" مؤسس مدير و. په سقوي دوره کې ده خپله دنده پرېښوده او خپل اصلي ټاټوبي د شهزادگانو کلي ته لاړ. کله چې نادر شاه قدرت ونيوهٔ نو يو شمېر علمي کادرونه يې راټول کړل او د" انجمن ادبی" په نامه يې يوه علمي او فرهنگي ټولنه تأسيس کړه، چې د مرحوم استاد په گډون د هېواد نامتو شخصيتونه لکه غلام جېلاني خان عظيمي، قاري عبدالله ملک الشعرا، مير غلام محمد غبار، ميرمحمد قاسم رشتيا، امين الله خان زمريالی، سرور خان گويا، عبدالباقي لطيفي، عبدالغفور برشنا او داسې نور نومیالي کسان يې غړي وو.

استاد غلام جېلاني جلالي په وروستيو کلونو کې په معارف، مطبوعاتو او کابل پوهنتون کې دندې تر سره کړې. په پښتو، دري او عربي ژبو يې په سلهاوو مقالې او کتابونه وليکل چې ډېر يې په افغانستان، ايران، لبنان او مصر کې چاپ شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د علي احمد جلالي مينې له تحقيق سره د پلار په همدې علمي چاپېريال کې وده وکړه. ده په دولسم صنف کې د "شېرشاه سوري" راډيويي فيچر ډرامه وليکله چې له نشر وروسته يې ستر شهرت وموند. له هغه وروسته د دهٔ ارتباط له راډيو ژورناليزم سره هيڅکله پرې نه شول. جلالي د حربي پوهنځي په درسته تعليمي دوره کې هر کال عمومي اول نومره گی وگټله او له فراغت سره سم د شاهي فرمان په اساس د بريال په نبنان ووياړل شو. دی په پوځي قطعاتو کې تر خدمت او په حربي پوهنتون کې د يوې مودې تر تدريس وروسته د لوړو زده کړو لپاره امريکا ته لاړ. هلته يې د لوړ پوړو صاحب منصبانو عالي کورس ولوست. کله چې له امريکا راغی؛ نو د افغانستان پوځي تاريخ يې وليکه چې په دوو ټوکونو کې په (۱۳۴۳- ۱۳۴۷ل= ۱۹۶۴- ۱۹۶۸م ) کلونو کې چاپ شو. تر دې وروسته، جلالي د افغانستان راډيو او تاريخ ټولنې په غوښتنه شپږ کاله په پښتو او دري ژبو« د تاريخ يوه پاڼه» او «صفحه ای از تاريخ» اونيز راډيويي پروگرامونه وليکل او نشر يې کړل. څلور کاله يې د اطلاعاتو او کلتور وزارت په غوښتنه د افغانستان د تاريخي آبداتو د تاريخ په اړه په پښتو او دري ژبو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



«لرغوني خاطرات» او «راز هايى از دل باستان » راډيويي ډراماتيزې اونيزې خپرونې وليکلې او په کابل راډيو کې يې نشر کړې.

هغه له ۱۳۴۷ – ۱۳۵۶ل = ۱۹۶۸-۱۹۷۷م پورې د ملي دفاع په وزارت کې پر مسلکي دندې سربېره په حربي پوهنتون، هوايي پوهنځي او د افسرانو په عالي کورس کې د پوځي تکتيک، اوپراتيفي صنعت، ستراتيژي او د حرب تاريخ، استاد پاتې شوی دی. له ۱۳۴۵ نه تر ۱۳۵۶ل= ۱۹۶۶-۱۹۷۶م کال پورې يې په اردو مجله کې تقريباً هره مياشت د نړۍ د مهمو سياسي او ستراتيژيکي پېښو تحليلي مقالې خپرې شوې دي.

په ۱۳۵۳ل=۱۹۷۴م کې جلالي د مرحوم جمهورئيس سردار محمدداؤد په امر د بهرنيو چارو وزارت د ډيپلوماسۍ په نوي تأسيس شوي انستيتيوټ کې د «حرب او ډيپلوماسۍ» د استاد په توګه وګومارل شو.

په هغه انستيتيوټ کې د بهرنيو چارو وزارت پر مامورينو سربېره د د فاع، کورنيو چارو، ماليې او ځينو نورو وزارتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګپوړو مامورینو د ملي ستراتیژۍ په چارو کې مسلکي زده کړې کولې.

د انستیټیوټ په نورو استادانو کې ډاکتر روان فرهادي، مرحوم ډاکتر حسن کاکړ، پوهاند عبد السلام عظیمي، پوهاند غلام سخي مصئون، ډاکتر اکبر خرد، توریالی عثمان او ډاکتر ذبیح الله انتظام د یادونې وړ دي.

جلالي درې کاله په دې انستیټیوټ کې تدریس وکړ او دولس لکچرونه یې ولیکل، چې یوه۴۵۰ پاڼیزه تدریسي مجموعه ترې جوړه شوه ا وپه خارج کې د افغانستان ټولو سفارتونو ته توزیع شوه .

جلالي په ۱۳۵۵ل = ۱۹۷۶م کې د جمهور رئیس په امر د هغه پوځي مسلکي کمېسیون د سکرتر جنرال په توګه وټاکل شو، چې هدف یې په ملي بڼه د ټولو پوځي مسلکي تعلیم نامو اوعسکري دکتورین تعدیل او تنظیم و.

علي احمد جلالي د افغانستان په اردو کې تر شل کاله خدمت وروسته د شوروي یرغلګرو پر ضد جهاد کې ونډه واخیسته. په دغه وخت کې د یوه پوځي افسر په توګه د مجاهدینو په لیکو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو لوړپوړی پوځي پلان جوړوونکی و. په ۱۳۶۱ لمریز کې یې د امریکا متحدو ایالاتو ته پناه یوړه او هلته یې له ۱۹۸۲ ـ ۲۰۰۲م= ۱۳۶۱-۱۳۸۱ل کال پورې له امریکا غږ راډیو سره د خپلې دندې پر مهال د پښتو، دري او پارسي ژبو د خپرونو مشري پر غاړه درلوده. په دغو کلونو کې جلالي پر اداري چارو سربېره د امریکا غږ لپاره سیاسي، خبري او کلتوري پروګرامونه په پښتو، دري اوا نګلیسي ژبو هم لیکل او خپرول.

په پورتنیو ډګرونو سربېره جلالي په ادبیاتو او لرغونپېژنه کې هم د یادولو وړ او مهم کارونه ترسره کړي دي. په دې لړ کې «د بېدیا ګلونه» هغه ادبي میاشتنی پروګرام و، چې جلالي په کې د پښتو د ولسي موسیقۍ او ادبیاتو پیغامونه د امریکا د ولسي سندرو او فولکلور له مضامینو سره پرتله کول. دې پروګرام څو ځلې د امریکا غږ د غوره پروګرامونو تر ټولو اوچتې کلنۍ جایزې وګټلې.

د یوه ژورنالیست په توګه جلالي له ۱۹۸۲ ـ ۱۹۹۳م= ۱۳۶۱-۱۳۷۲ل کال پورې د افغانستان جګړه او له ۱۹۹۳ـ۲۰۰۰م= ۱۳۷۲-۱۳۷۹ل کال پورې د پخواني شوروي اتحاد او منځنۍ آسیا حالات

(c) ketabton.com: The Digital Library



څېړلي او ارزولي دي. نوموړي د پخواني شوروي اتحاد د منځنۍ آسيا جمهوريتونو ته زيات ژورنالستيک سفرونه هم کړي دي او د هغې سيمې د سياسي، اقتصادي، فرهنګي او اجتماعي جرياناتو په اړه يې د امريکا غږ لپاره په انګرېزي ژبه نږدې ۵۰۰ تحليلي مقالې ليکلې دي، چې د هغې راډيو په مختلفو ژبو ترجمه او خپرې شوې هم دي.

علي احمد جلالي د ښاغلي حامد کرزي د جمهوري رياست په دوره کې د ۲۰۰۳م جنوري - ۲۰۰۵م سپتمبر =۱۳۸۱-۱۳۸۴ل پورې د کورنيو چارو د وزير په توګه دنده ترسره کړه. ده په داسې وخت کې د کورنيو چارو د وزارت مشري پر غاړه واخيسته، چې په هېواد کې د اوږدو جګړو له آمله د پوليسو، امنيتي او سيمه ييزو ادارو جوړښتونه (ولايتونه، ولسوالۍ او ښاروالۍ، چې هغه وخت په داخله وزارت پورې تړلي وو) تر ډېره حده ويجاړ شوي وو او د بيارغاونې چارې يې د مالي سرچينو د کمښت، سياسي کړکېچ او امنيتي ننګونو له امله له سختو ستونزو سره مخامخ وې.

جلالي د ملي پوليسو د بيارغاونې لپاره د بين المللي همکاريو په مرسته د اصلاحاتو يو پراخ پلان طرح کړ. د دې اصلاحاتو هدف

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا و، چې د افغانستان پولیس د یوه ملي او ناسیاسي قوت په توګه د خلکو د سر او مال د ساتنې لپاره وروزل شي او د قانون د تنفیذ د یوه با صلاحیته اورګان په توګه عمل وکړي. په دې لاره کې ستونزې کمې نه وې. له یوې خوا د دولت دننه او د دولت نه بهر یو شمېر زورواکو ډلو د پولیسو په لیکو کې د خپلو شخصي او ډله ییزو ګټو لپاره د نفوذ او مداخلې هڅه کوله او له بلې خوا په پولیسو کې ځینو عناصرو د نشه يي توکو له قاچاقچیانواو نورو قانون ماتوونکو سره لاره درلوده، چې په دې ډول یې د ټولو خدمتګارو پولیسو نوم بد کړی و.

که څه هم د یو لړ بنسټیزو اصلاحي اقداماتو په نتېجه کې د پولیسو د مسلکي روزنې او تعییناتو په برخه کې چې د مسلکي وړتیا په معیارونو بنا وو، پرمختګ وشو او د ملېشه سالارانو د شخصي ګټو او سیاسي مداخلو مخه ونیول شوه؛ خو ستونزې لا هم پا تې وې. د تروریزم پر وړاندې د مبارزې په هڅو کې د افغانستان حکومت او بین المللي ځواکونو او مرسته کوونکو هېوادونو، په پخوانو جنګسالارانو او نویو راټوکېدلو زورواکو ډلو باندې اتکا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوله، په داسې حال کې چې دغه ډلې زياتره په خپلو شخصي او ډله ييزو ګټو پسې وې.

دې وضعې د بيا رغاونې په چارو کې د غرضي ډلو لاس پياوړی کړی و. د ځو ملېشه پالو ډلو مشران، سره له دې چې په دولت کې يې ستر رسمي مقامونه درلودل (د واليانو او د قول اردو قوماندانانو په شمول) د تنظيمي او شخصي مقاصدو لپاره په خپلو کې د درنو وسلو په زور جنګېدل او لويې سيمې لکه پکتيا، بلخ، جوزجان، بادغيس، هرات، فراه او کندهار يې د ولس لپاره ناامنه کړې وې. په ۱۳۸۲ -۱۳۸۳ل= ۲۰۰۳-۲۰۰۴م کلونو کې د کورنيو چارو د وزارت زيات وخت د همدې تنظيمي کورنيو شخړو د ختمولو او د امن د بيا ټينګولو پر هڅو تېر شوی دی.

په هر حال په ۱۳۸۲-۱۳۸۴ل= ۲۰۰۳-۲۰۰۵کلونو کې ۵۰۰۰۰ کسه ملي پوليس، ۱۲۰۰۰ کسه سرحدي پوليس، د مخدره موادو د قاچاق پر ضد د مبارزې پوليس، د عامه نظم پوليس، د تروريزم پر ضد د مبارزې پوليس او د جنايي او درندو جرايمو پر ضد د مبارزې قوتونه تشکيل او وروزل شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغو ځواکونو د ۱۳۸۲ م کال د لويې جرګې، د ۱۳۸۳ل= ۲۰۰۴م کال د جمهوري رياست او د ۱۳۸۴ل= ۲۰۰۵ م کال د پارلماني انتخاباتو د امنيت په خوندي کولو کې اساسي ونډه درلوده او دا کار يې په بري تر سره کړ؛ خو د مؤثرو وسلو، تخنيکي وسايلو او د ځمکنيو او هوايي انتقال د امکاناتو د محدوديت له امله ځينې اصلاحي پروګرامونه نيمګړي پاتې شول.

بله ستونزه چې د پوليسو د مسلکي ودې مخه يې ونيوله د وسله والو مخا لفينو سره د مقابلې په کار کې له پوليسو نه د يو جنګي ځواک په توګه کار اخيستل وو. دا کار د دې سبب شو چې پوليس خپله اصلي دنده- د خلکو د امن ساتل او د جرايمو پر ضد مبارزه- په بشپړ ډول تر سره نه کړای شي. د درندو وسلو او تجهيزاتو د نشتوالي له امله يې په جګړه ييزو عملياتو کې د ملي اردو او بين المللي ځواکونو په پرتله ځو ځلې زيات تلفات ورکړل.

جلالي هڅه کوله، چې په افغانستان کې د بشري امنيت له لارې پايداره ثبات رامنځ ته شي. د دې معنی دا وه چې عام ولس له ويرې او احتياج نه آزاد شي. په هغو شرايطو کې خلک د ترهګرو د ظالمانه حملو او وژنو، د زورواکانو د خپلسريو، د متشکلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنایتکارو ډلو د لوټماریو او د فاسدو سیمه ییزو حکومتي چارواکو د بېباکیو نه په ویره کې وو. له بلې خوا د څو لسیزو جنګونو او بې ثباتۍ د ولس اکثریت د فقر او احتیاج په منګولو کې ښکېل کړی و، ځکه نو رښتونی امنیت له ویرې او احتیاج نه د خلکو خلاصون و.

د دې کار د ترسره کولو لپاره جلالي د خپل نژدې درې کلن وزارت په موده کې په درېو عمده ساحو کې پرلپسې هڅې وکړې:

لومړی: ده د یو شمېر نورو اصلاح طلبه مشرانو او متخصصینو په ملتیا هڅه وکړه، مرسته کوونکې هېوادونه په دې قانع کړي چې تر هر څه د مخه پر سترو اقتصادي زیربنایي پروژو - د مواصلاتي لارو بیارغاول، د زراعتي سکتور وده او د اوبو او برېښنا برابرول- پانګونه وکړي.

د دغو ساحو پراختیا د سترو مثبتو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او اجتماعي بدلونو لامل ګرځېدای شوه او د بشري امنیت د راوستو لپاره یې لازم شرایط را منځ ته کولای شول؛ خو د مرستندویه هېوادونو لومړیتوب د بېړنیو او کوچنیو لنډ مهاله اقتصادي پروژو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تمویل و، چې د دوی په اند يې د تروريزم پر وړاندې د مبارزې له ستراتېژۍ سره مرسته کوله؛ خو ستراتیژیک اغېز يې لنډ مهاله و.

دوهم: جلالي د سیمه ییزو ادارو بیارغاونه د ښې حکومتوالۍ او امنیت ستنه او په دې کار کې يې د ولسواليوجوړول د بیارغاونې اساسي بنسټ باله؛ نو ځکه يې په ۱۳۸۲ل= ۲۰۰۳م کال کې د افغانستان د ۳۶۵ ولسواليو د فزیکي او اداري بیارغاونې پروګرام طرح او عملي کړ چې بیا « د افغانستان د ملي ثبات تحکیم» په نامه د یوه ملي پراختیایي پروګرام په توګه راڅرګند او سترې بین المللي مرستې يې جلب کړې. که څه هم دا پروګرام ښه په قوت سره پیل شو او د یو شمېر ولسواليو مرکزونه جوړ شول؛ خو کله چې دا پروګرام د کورنیو چارو له وزارت څخه د یوې ځانګړې پروژې په نامه جلا او د څو وزارتونو تر اختیار لاندې راغی، هغه پخوانی خوند يې ورک شو.

دریيم: جلالي هڅه وکړه چې د امنیتي اصلاحاتو له لارې پولیس او نورې امنیتي ادارې د دولت د قانوني او مشروعو نهادونو په توګه پیاوړې شي او د قوت مشروع استعمال د دولت تر انحصار لاندې راشي. دې هدف ته رسېدلو د مؤسساتو د ودې او مؤثریت

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره د کافي پانګونې غوښتنه کوله، چې په هېواد کې د زورواکيو پر ځای قوی مشروع نهادونه را منځ ته شي . د دې کار لپاره جلالي د دوستو او مرستندويه هېوادونو د مرستې جلبولو پرلپسې هڅې وکړې او يو شمېر مسلکي مقالې يې وليکلې. که څه هم څو کاله وروسته د پوليسو او اردو د ودې لپاره زياته مالي پانګونه وشوه؛ خو ډېر مساعد فرصتونه وړيا له لاسه وتلي وو.

کله چې ښاغلي جلالي د بُن د پروسې په پای يعنې د ۱۳۸۴ل په سنبلې = ۲۸سپتمبر ۲۰۰۵ م کې د ځينو ملحوظاتو له امله د کورنيو چارو وزارت له مقام څخه استعفی ورکړه، دوه اونۍ وروسته يې بېرته د متحده آيالاتو د ملي دفاع په پوهنتون کې د تدريس کار پيل کړ. ده پخوا هم کله ناکله په دغه پوهنتون کې درس ورکاوۀ. د ۲۰۰۵م کال له اکتوبر را په دې خوا تر اوسه پورې ښاغلی جلالي په دغه پوهنتون کې د ممتاز پروفيسر(Distinguished Professor) په توګه د امنيتي پاليسۍ، دفاعي ستراتيژۍ، د تروريزم او بلواګانو پر وړاندې د مبارزې او نورو اړوندو مسايلو په اړه تدريس او څېړنې کوي. پر دې سربېره جلالي په همدې پوهنتون کې د ستراتيژيکو مطالعاتو د ملي انسټيټيوټ د مشر شنونکی غړي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



توگه د نړۍ د مختلفو سیاسي او ستراتیژیکو مسألوپه اړه څېړنې کړي او لکچرونه یې ورکړي دي.

په دغه موده کې د جلالي ډېرې علمي څېړنې د پوهنتون او نورو امریکایي او اروپایي مؤسسو له خوا چاپ شوې دي. جلالي په متحده ایالاتو، اروپا، جنوبي او مرکزي آسیا او د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې د یوه پېژندل شوي پروفیسور په نامه راڅرگند شوی دی.

په تېرو درېو لسیزو کې جلالي همدا رنگه د متحده ایالاتو د ارکانحربۍ او ملي دفاع په کالجونو او د انگلستان په لوړو پوځي مؤسسو کې تدریس کړی او په لس گونو پوځي او سیاسي رسالې یې لیکلي دي. دهٔ په امریکا، اروپا، منځني ختیځ، هند، پاکستان، تایلیند، سینگاپور، جاپان، چین، منځنۍ آسیا او افریقایي هېوادونو کې په سلهاوو مسلکي سیمینارونو کې ونډه اخیستې او علمي مقالې یې وړاندې کړې دي. د نړۍ زیاتو راډیویي، تلوېزیوني او چاپي مطبوعاتو له جلالي سره د نړۍ د روانو حالاتو په اړه په سلهاوو مرکې خپرې کړي، چې په هغو کې NBC FOX, RT, ,

(c) ketabton.com: The Digital Library



CNN, BBC,VOA, CBC, ABC نیویارک ټایمز، واشنګټن پوسټ، ګارډینز، شپیګل، ډیلي ټیلګراف او نور شامل دي.

جلالي د خدمت په دوره کې ډېر دولتي نښانونه، مډالونه او جایزې تر لاسه کړې دي، چې په هغو کې د وزیر اکبرخان دولتي مډال، د لویې جرګې د عالي خدمت مډال، د بریال درې نښانونه، لومړۍ درجه نښان (د سرو زرو) دوهمه درجه (د سپینو رزو) درېیمه درجه (د برونزو) دوه د وړتیا مډالونه، پنځه د امریکا غږ او یو د ملي دفاع د پوهنتون د غوره خدمت ستاینلیکونه او یوولس د امریکا غږ د غوره پروګرامونو جایزې شاملې دي.

علي احمدجلالي په انګلیسي، فرانسوي، عربي، روسي، اردو او ترکي ژبو پوهېږي او په خپلو څېړنو کې یې د دغو ژبو له منابعو څخه ګټه اخیستې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د جلالي مهم چاپ شوی آثار:**

جلالي د ليکوالۍ په ډګر کې هم يوه ډېره ياده او نوميالۍ څېره ده. د افغانستان او منځنۍ آسيا د سياسي، پوځي او فرهنګي حالاتو په اړه يې ډېر کتابونه او مقالې ليکلې دي اود امريکا په متحدو ايالاتو، انګلستان، افغانستان، پاکستان او ايران کې يې ډېر آثار په انګليسي، پښتو، دري، عربي، ترکي او فرانسوي ژبو چاپ شوي دي.

د دهٔ تر ټولو نوی کتاب چې په انګرېزي ژبه د امريکا کانزاس پوهنتون چاپ او نشر کړی دی « له ستري لوبې نه د تروريزم پر وړاندې تر نړيوالې مبارزې پورې د افغانستان پوځي تاريخ A Military History of Afghanistan from the Great Game to the Global War on Terror » نومېږی. تر دې مخکې د دهٔ «تر غرهٔ هاخوا» کتاب (The Other Side of the Mountain) چې په افغانستان کې د شوروي پوځ پر وړاندې د افغانستان د مجاهدينو جنګي تکتيکونه بيانوي په تېرو شلو کلونو کې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکا او اروپا کې شپږو ناشرانو څو څو ځلې چاپ کړی دی او په څو ژبو ژباړل شوی هم دی.

دا کتاب د جلالي لور "ډاکتر بهار" جلالي په دري ترجمه کړی، چې څو کاله پخوا د امریکا اردو چاپ او خپور کړی دی. په دري ژبه د جلالي"مطالعهٔ تاریخ افغانستان از نگاه عسکری" چې ارواښاد پوهاند حبیبي پرې سریزه لیکلې ده، په دوو ټوکونو کې څه کم پنځوس کاله پخوا د افغانستان د اردو نشراتو له خوا چاپ او خپور شوی دی. د دهٔ نور کتابونه، لکه: (د میوند د تاریخي جگړې پوځي څېړنه، د خوشحال خان د عصر او چاپېریال پوځي څېړنه، منتخبات اشعار استاد غلام جیلانی جلالی) په دې وروستیو وختو کې په افغانستان کې چاپ او خپاره شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د جلالي هغه نور عمده آثار چې په انګريزي، فرانسوي او هسپانوي ژبو چاپ شوي دي:**

١. ***Afghanistan National Defense and Security Forces in Transition***, USIP, Washington DC, May ٢٠١٦
٢. ***Afghanistan's bubble of Optimism bursts***, The Hill, Congress Blog, and November ١٨, ٢٠١٥
٣. ***Renewing Afghanistan's Social Contract***, IPI Global Observatory, December ٨, ٢٠١٥
٤. ***Forging Afghanistan National Unity Government,"*** a Peace Brief Paper at USIP (December ٢٠١٤) on discussing the Challenges facing the Afghanistan National Unity Government.

٥. ***The Security Sector reform in Afghanistan-Achievements and Setbacks,*** published by the Journal of International Peace Operations (JIPO),March ٢٠١٢

٦. ***Non-State Armed Groups-Challenges and Opportunities,*** published by the Special Issue of the International Red Cross Journal, Geneva, Summer ٢٠١١

٧. Commentary on the Kandahar Jail break (***Pervasive Corruption and Public Distrust)***, published in New York Times' opinion page on April ٢٦, ٢٠١٠.

٨. ***"Afghanistan in Transition,"*** published in the autumn ٢٠١٠ issue of Parameters which is available on line.

٩. Commentary on ***U.S. Strategy Review for Afghanistan*** in New York Times' opinion page on December ١٦ ٢٠١٠.

١٠. ***What to expect from General Petraeus,*** New York Times, June ٢٤, ٢٠١٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



١١.***Afghanistan: Long-term Solutions and Perilous Shortcuts,*** Prism Quarterly (NDU), published in September ٢٠١٠ Issue

١٢.***Is Fair Election in Afghanistan Possible,*** New York Times, October ٢١, ٢٠٠٩

١٣.***Is it Time to Negotiate with the Taliban,*** New York Times, Sep ١, ٢٠٠٩

١٤.***Afghanistan: A Long Hot Summer and A Call for Change***, Far Eastern Economic Review, July/August ٢٠٠٩ issue

١٥.***Winning in Afghanistan***, *Parameters*, Spring ٢٠٠٩ issue, Carlisle Barracks, Penn, USA, May ٢٠٠٩

١٦.***How to Win in Afghanistan***, OP-ED, The Washington Times, March ١, ٢٠٠٩

١٧.***Afghanistan: Regaining Momentum***, *Parameters*, winter ٢٠٠٧-٢٠٠٨ issue, Carlisle Barracks, Penn, USA, Jan ٢٠٠٨

١٨.***Expeditionary Forces: Superior Technology Defeated - The Battle of Maiwand***. ٢٠٠٦. Coauthored with Lester W. Grau. A book chapter in "The British Army ١٨١٥-١٩١٤,) Harold E. Raugh Jr. Ed. Ashgate Publishing Limited, England, USA. ٢٠٠٦

١٩. ***Trans-national Crime and the challenge for regional cooperation*** – a book Chapter in "***the Non-Traditional Security Challenges in Asia***," Routledge India, June ٢٠١٥.

٢٠. Monograph: ***Afghanistan - Challenges of the Transition to Peace,*** Emirate Center for Strategic Studies and research(ECSSR), Abu Dhabi, December ٢٠١٢

(c) ketabton.com: The Digital Library



٢١. ***The Challenge of Security Transition in Afghanistan*** – Book Chapter, Singapore National University, July ٢٠١٢

٢٢. ***The Future of Security Forces in Afghanistan***. Book chapter in *"The Future of Afghanistan,"* United States Institute of Peace (USIP). January ٢٠٠٩

٢٣. ***The Challenge of Regaining Momentum in Afghanistan***. A book chapter in "Asian Security" by the Institute of Defense and Strategic Analysis (IDSA), New Delhi, India, February ٢٠٠٩

٢٤. **Countering Narcotics in Afghanistan. "A book chapter in the Institute of National Strategic Studies (INSS) "*Global Security Assessment*," National Defense University. October ٢٠٠٨**

٢٥. ***Afghanistan: The Challenge of State Building***. A book chapter in "*Afghanistan: transition Under Threat*," Geoffrey Hayes, editor, and Mark Sedra, editor, Wilfrid Laurier University Press, August ٢٠٠٨

٢٦. ***Afghanistan: The legacy of War and the Challenge of Peace Building*.**٢٠٠٦. A book chapter in "*Building a New Afghanistan,*" by Robert I. Rotberg ed. edited by Brookings Institution Press and the World Peace Foundation, ٢٠٠٦

٢٧. ***A Historical Perspective on Iran-Afghan Relation***, a chapter in the book titled "*Iran and Eurasia*" edited by Ali Mohammadi, Ithaca Press, London, ٢٠٠٠

٢٨. ***The Theory of Combat***, Institute of Military Conflict, ١٩٨٩, Participated as member of the Institute in authoring a theoretical understanding of the nature of the combat process as a basis for model and simulation development,

(c) ketabton.com: The Digital Library




۲۹. ***Combating Opium in Afghanistan*. ۲۰۰٦**. Coauthored with Robert B. Oakley and Zoe Hunter. Strategic Forum No. ۲۲٤, Institute for National Strategic Studies, National Defense University, November ۲۰۰٦, Washington D.C.

۳۰. ***Forbidden Cross-Border Vendetta: Spetsnaz Strike into Pakistan during the Soviet-Afghan***, Journal of Slavic Military Studies, December ۲۰۰٦

۳۱. ***Five Years later Afghanistan Pays for Sins of Omission*.** Baltimore Sun, October ۸, ۲۰۰٦. It was also published by several other major papers across the country and the Khalij Times. The article reviewed the past five years and made suggestions on ways to improve the security situation in Afghanistan.

۳۲. ***Nation Building on the Cheap***. ۲۰۰٦. The Washington Post, May ۲۸, ۲۰۰٦

۳۳. ***The Future of Afghanistan***, Parameters, Spring ۲۰۰٦ issue, Carlisle Barracks, Penn, USA, Feb ۲۰۰٦

۳٤. ***Afghanistan in* ۲۰۰۲***: The Struggle to Win Peace*, Asian Survey, University of Berkley, Ca. January ۲۰۰۳

۳٥. ***Demobilizing War machines: Making Peace last***, a paper presented at and published by the U.N. conference on Rebuilding Societies Emerging from Conflict (September ۹-۱۱, ۲۰۰۲)

۳٦. ***Rebuilding Afghanistan's National Army***, Parameters, US. Army War College, Autumn, ۲۰۰۲

۳۷. ***Afghanistan: Political Participation and Security*,** Georgetown University, Center for Muslim-Christian Understanding, Summer ۲۰۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library




۳۸. ***Russian-Iranian Strategic Partnership***, Parameters, US. Army War College, Winter ۲۰۰۱

۳۹. **A detailed Military Analysis of the Battle of Maiwand** (Pashto), Afghan Cultural Association, Peshawar, ۲۰۰۰

٤۰. ***Expeditionary Forces: Superior Technology Defeated*** - *The Battle of Maiwand,"* U.S. Military Review, May-June ۲۰۰۱

٤۱. ***Afghanistan: the Anatomy of an Ongoing Conflict***, Parameters, US. Army War College, spring ۲۰۰۱

٤۲. ***The Campaign for the caves : the battles of Zhawar in the soviet-Afghan war*** - la guerre des grottes : la bataille de Zhawar pendant la guerre soviétique en Afghanistan**,** Journal of slavic military studies (the) , ۲۰۰۱, vol. ۱٤ n°۳, p. ٦۹-۹۲ Vértitable guerilla, la bataille de Zhawar a montré les insuffisances de tactique des deux armées.

٤۳. ***Iran-Central Asia: Reminiscing the Past and Looking to the Future***, Central Asia Monitor, No. ٤, ۲۰۰۱

٤٤. ***Islam as a Political Force in Central Asia: The Iranian Influence***, Central Asia Monitor, No. ۲, ۱۹۹۹

٤٥. ***Kashmir: Flashpoint or Safety Valve?*** By Mr. Lester W. Grau Foreign Military Studies Office, Fort Leavenworth, KS. And Mr. Ali A. Jalali. This article was previously published in ***Military Review*** July-August ۱۹۹۹.

٤٦. ***Night Stalkers and Mean Streets: Afghan Urban Guerrillas***, by Mr. Ali A. Jalali and Mr. Lester W. Grau, Foreign Military Studies Office, Fort Leavenworth, KS. This article was previously published in ***Infantry*** January-April ۱۹۹۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٤٧. ***Wither the Taliban? Taliban–A Model for "Islamicising" Central Asia?*** The Cyber-Caravan, Johns Hopkins University, vol. ١, No. ٤, March, ٦, ١٩٩٩

٤٨. ***Underground Combat: Stereophonic Blasting, Tunnel Rats and the Soviet-Afghan War*** - Lester Grau and Ali Ahmad Jalali. *Engineer* article November ١٩٩٨

٤٩. ***The Break-up of State Structures in Afghanistan***, *in Persian*, Mehragan (Iranian Journal), Summer ١٩٩٨

٥٠. ***The Clash of Values and Interests in Afghanistan***, Institute of World Politics, Washington D.C. ١٩٩٥

٥١. ***Identity Issues in Central Asia*** (١٩٩٤), Institute of World Politics, Washington D.C. ١٩٩٤

٥٢. ***Russia's Military Establishment in Transition***, Institute of World Politics, Washington D.C. ١٩٩٣

٥٣. ***Strategic and Operational Aspects of the Soviet Invasion of Afghanistan***, International Conference on Light Infantry, Seattle, ١٩٨٥

٥٤. ***U.S.-Kazakhstan Strategic Partnership***: An hour-long documentary published and broadcast by VOA in several languages, ١٩٩٤

٥٥. ***Civil-Military Relations in a Democracy***: An hour-long documentary published and broadcast by VOA in several languages, ١٩٩٥

٥٦. ***Intellectual Property Rights***: A seven-part series of reports published and broadcast by VOA in several languages, ١٩٩٥

٥٧. ***Poppies Along the Silk Road:*** An hour-long documentary

(c) ketabton.com: The Digital Library



published and broadcast by VOA in several languages, ۱۹۹۵

۵۸. ***Afghanistan- The War of the Neighbors***: An hour-long documentary published by VOA and broadcast in several languages, ۱۹۹٦More than ٤۰۰ **reports** and news analyses in English on Iran, Afghanistan and Central Asia published and broadcast by the Voice of America



شاه محمود میاخیل، د کورنیو چارو پخوانی وزیر علي احمد جلالي او مشوانی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- د سیمې په کچه لا څه چې په نړیواله کچه یو نومیالی پوځي شخص دی.
- په نړیوالو سیاستونو پوه، تجربه کار او مخکښ ژورنالیست او د افغانستان له ګوتوپه شمېر دیپلوماتانو څخه هم دی.
- تکړه ادیب او لیکوال دی، چې ځینې آثار یې په نړیواله کچه مقبولیت او د لومړي لاس د ماخذ حیثیت لري.
- د رښتینولۍ، وړتیا او تجربې پلوي او مدبر چارواکی دی.

***

***

(c) ketabton.com: The Digital Library





هغه چې هر مهال او هر ځای یې د هېواد او ملت خدمت ته ملا تړلې وي، ملت یې هم هیڅکله له یاده نه باسي. خادم او فرهنګي نه مري، په فزیکي ډول له ټولنې څخه جلا کېږي؛ خو په معنوي ډول د هغو په سینو کې ژوند کوي، درناوی یې کېږي، ستایل کېږي او له الله تعالی یې د بخښنې غوښتنې کېږي. له همدغو څېرو څخه یو هم **محمدرحیم شیدا** دی.

شیدا محمدرحیم د علیرضا خان زوی پر۱۳۰۰ل د فاریاب ولایت په میمنه کې زوکړی او په خته ازبک دی. شیدا لومړنۍ زده کړې تر متوسطې پورې په خصوصي او غیررسمي ډول تر سره کړې دي او بیا په دولتي ادارو کې پر دندو بوخت شوی دی. په۱۳۲۹ل کې د میمنې ښاروال مقرر شوی دی. درې دورې(نهمه، یوولسمه او دیارلسمه) په ملي شورا کې د میمنې د خلکو له خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



استازی و. له۱۳۳۴- ۱۳۳۶ل پورې په ملي شورا کې د میمنې د خلکو استازی او د ملي شورا لومړی منشي و.

د تخار او بغلان د والي په توګه یې هم دندې ترسره کړې دي. دلیکوال شاه محمود میاخېل پلار سید محمود "حسرت" په تخار کې له محمدرحیم شیدا سره کار کړی دی. میاخېل هم شیدا لیدلی دی. میاخېل وایي:

محمد رحیم شیدا د داؤد خان سره نږدې اړیکې درلودل او نهایت پاک او دینداره شخصیت و. کله چې داؤد خان د دویم ځل لپاره خپله کابینه اعلان کړه، زه هم د خپل پلار لیدو ته تخار ته ورغلي وم؛ نو یوه ورځ محمد رحیم شیدا خپل موټر زما پلار پسې راولېږه. موټروان ویل چې والي صیب درسره کار لري؛ نو زه هم د خپل پلار سره د شیدا صاحب لیدو ته ورغلم. شیدا صاحب مې پلار ته وویل چې نن مې زړه ډېر خفه دی، ځه چې د سیند پر غاړه چېرته سره کښېنو. هماغه وو چې د تخار د سیند غاړې ته لاړو. زما پلار ته یې وویل چې زه ډېر زیات ځکه خفه یم چې افغانستان له سخت خطر سره مخامخ دی. نوې کابینې ته یو څه امېد و؛ خو کله چې کابینه اعلان شوه نو دا امېد مې هم ختم شو او داؤد خان

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه پوهېږي چې د هغه شاوخوا خرابو کسانو نيولې ده. هماغه وو چې څه موده وروسته د ثور کودتا وشوه.

وکيل گل محمدخان د خاص کونړ چې هغه هم د محمدرحيم شيدا سره د ولسي جرگي دويم منشي و، يوه ورځ يې ما(ليکوال) ته په پېښور کې وويل چې کله موږ له شيدا سره مسکو ته په رسمي سفر لاړو؛ نو هغه وخت گاگارين سپوږمي ته ختلی و؛ نو شيدا ترې په يوه مېلمستيا کې پوښتنه وکړه چې هلته په سپوږمي مو څه وليدل؟ گاگارين بې له دې چې معلومات ورکړي، شيدا ته يې وويل چې ستاسې خدای مو ونه ليدۀ. شيدا ډېر زيات په قهر شو او ورته يې وويل چې ستا غوندې ناولي زموږ خدای چېرته ليدلی شي او هماغه و چې د پخواني شوروي سفر يې لنډ کړ.

شيدا په خپل خدای ډېره کلکه عقيده درلوده. ما ته وکيل گل محمد خان يوه بله کيسه هم وکړه چې کله دوی امريکا ته په يو رسمي سفر تلل؛ الوتکې په هوا کې څه معمولي خرابي پيدا کړه، پيلوټ اعلان وکړ، چې په الوتکه کې معمولي خرابي شته دی خو د تشويش وړ نه ده؛ نو ټول وارخطا شول اما شيدا وخندل او موږ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې وويل چې پروا مه کوئ زموږ خدای په هوا کې هم له موږ سره معاونت کولی شي.

شیدا د نورو اړخونو تر څنګ په فرهنګپال شخص هم پېژندل کېږي. شیدا د فارياب د مطبوعاتو په تاريخ کې لومړنی کس دی، چې په ۱۳۳۰ل کې يې د فارياب په ميمنه کې د " اتوم " په نامه د خپلواکې خپرونې بنسټ کېښود. پنځه کاله يې دغه خپرونه وچلوله او د پنځه ګڼو تر خپرېدو وروسته د يو لړ ستونزو له امله بيا له چاپه ولوېده.

شاعري ورته له پلاره په ميراث پاتې وه. پلار يې منشي عليرضا رضا ميمنه ګي خوږ ژبی شاعر و. محمدرحيم شيدا هم شاعر و، چې شعرونه يې په بېلابېلو خپرونو کې خپاره شوي دي.

محمدرحيم شيدا د روسانو تر يرغل وروسته پېښور ته هجرت وکړ او د هجرت ستونزې او کړاوونه يې تجربه کړل. په مهاجرت کې يې هم د شعر و شاعرۍ لړۍ وپالـه او د خليل الله خليلي له تجربو يې ګټه واخيسته.

هغه د شعر ويلو دومره وړتيا درلوده، چې خپلې ځينې ويناوې يې هم ملي شورا ته د شعر په خوږه ژبه وړاندې کړې دي. په ملي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شورا کې يې د اعتماد رايو په غونډو کې همدغه ډول دوه شعرونه اورولي وو، چې د "دو شعر شيدا" په نامه ټولگه کې چاپ شوي دي.

شيدا له تصوف او عرفان سره هم ډېره مينه درلوده. د ستورپېژندنې يا نجوم په علم کې يې هم لاس درلود، په دې اړه يې " هفت كواكب" د يادولو وړ اثر دی؛ خو لا تر اوسه چاپ نه دی.

محمد رحيم شيدا د هجرت او غربت په دوره کې د ۱۳۶۴ل کال د جوزا په ۱۸مه ومړ او د پېښور د رحمان بابا په هديره کې د خليل الله خليلي د مړيستون تر څنگ خاورو ته وسپارل شو.

دا هم د شيدا د شعر يوه بېلگه:

کجاست می که مرا عالم دیگر ببرد   به پا گر نروم مرا به سر ببرد

غم و نشاط جهان صد هزار درد سر است   بیار می که زمن درد سر ببرد

گرفت محتسبم بی خبر به میخانه   خدا کند که به رندان کسی این خبر ببرد

فلک به شام سحر جز غم نصیب نه کرد   دعا کنید که زمن شام و این سحر ببرد

اگر به کام دلم آسمان نمی گردد   چه میشود ز دلم آرزو به در ببرد

فلک به داغ جدایی چنان کبابم کرد   به روز حشر مگر داغم از جگر ببرد

محبت است که شیدا دهم به مردم دل
و گر نه کیست دل ما به زور و زر ببرد

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:


- له ولسه راپاخېدلی و، ولس یې پاله او ولس یې نازاوه.
- د حکومتي څوکیو پر مهال یې هم د هېواد او ولس ګټې تر شخصي ګټو زیاتې وپاللې.
- پر چارواکیتابه سربېره یو فرهنګپال شخص او شاعر هم و.
- په میمنه کې د لومړۍ خپلواکې خپرونې مؤسس دی.


❊❊❊

❊❊❊

(c) ketabton.com: The Digital Library







قضا د عدالت نوم دی او قاضي د عدالت او قانونیت سمبول؛ خو ځینو اوسنیو د دې سپېڅلي او لوړې دندې نوم داسې سپک کړ، چې د قاضي د نامه په یادېدو د خلکو خوا بدېږي او د چا خبره استفراغ کوي؛

خو په همدې هېواد کې مو داسې قاضیان درلودل چې نومونه یې یوازې د هغو د کورنۍ نه بلکې د هېواد او هېوادنۍ قضا د بهیر ویاړونه دي. همدغو قاضیانو له ځانه وروسته د هېواد او هېوادوالو خدمت ته داسې اشخاص پرېښودي چې نومونه به یې د خادمانو په تاریخ کې د تل لپاره خوندي وي؛

له همدغو سپېڅلو اشخاصو یوه هم **عبدالقادر قاضي** دی، چې دنیوي بېوزلۍ یې اخروي هغې ته کوم زیان ونه رسولای شو.


(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالقادر قاضي د پروان ولایت د قره باغ ولسوالۍ د داؤدزيو د يوې عالمې او بانفوذه کورنۍ غړی او پر ۱۳۰۳ل کال په کابل ښار کې زیږېدلی دی.

عبدالقادر قاضي د قاضي عبدالرحمن زوی د قاضي عبدالواحد لمسی، د قاضي روح الله کړوسی او د قاضي فتح الله بابا کودی دی. قاضي روح الله بابا د ننگرهار ولایت د خوگیانو له بِهار څخه د کوهدامن داؤدزيو کلي ته راغلی او دلته د قضا پر دنده بوخت شوی دی. له همدې امله عبدالقادر هم قاضي تخلص غوره کړی و.

دا هم هغه ليک، چې عبدالقادر قاضي په خپل قلم کښلی دی، د خپل ځان او کورنۍ د پېژندگلو په اړه کښلی دی:


نام من عبدالقادر متخلص به قاضی، نام پدرم قاضی عبدالرحمن
پدر کلانم قاضی عبدالواحد جد بزرگوارم قاضی روح الله
پدر او قاضی فتح الله بابا.
قاضی روح الله بابا از بهار خوگیانی ولایت ننگرهار به
قریه داودزی کوه دامن تشریف آورده بود و در
کوهدامن به منصب قضا مشغول بود

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عمر لومړي کلونه يې د يتيمۍ او محروميت په حالت کې تېر کړل؛ خو د کورنۍ مرسته، لاسنيوی او همت يې د دې لامل شول، چې د زده کړو له محروميته وژغورل شي. دی لا درې کلن و، چې مور يې مړه شوه او دوه کاله وروسته يې پلار قاضي عبدالرحمن هم د حبيب الله کلکاني( په بچه سقاو مشهور) له خوا په بې رحمانه ډول شهيد کړی شو.

د حبيب الله کلکاني تر واکمنېدو د مخه قاضي عبدالرحمن د کابل ولايت د مرافعې رئيس و، چې د حبيب الله په ورور سيدحسن يا ملک محسن يې د اعدام حکم کړی و. کله چې کلکاني واک ونيوۀ؛ نو له قاضي عبدالرحمن څخه يې وغوښتل چې له هغه سره بيعت وکړي، ځکه قاضي عبدالرحمن د شمالي سيمې يو متنفذ شخصيت و. قاضي عبدالرحمن د کلکاني غوښتنه ونه منله، کلکاني ته يې وويل چې ته مشروع پاچا نه يې او ما له امان الله خان سره بيعت کړی دی. قاضي عبدالرحمن دې ته حاضر نه و، چې تور ته سپين ووايي؛ نو په دې ډول کلکاني د کابل قصابان راټول کړل او ترې ويې غوښتل چې قاضي عبدالرحمن د حيواناتو په څېر قصابي کړي. نور قصابان دې کار ته چمتو نه شول؛ خو يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کس دې جنایت ته اوړه ورکړه. لومړی یې د قاضي عبدالرحمن لاسونه او بیا یې پښې ورپرې کړې او په دې ډول د کابل په څلورلارې(۱) کې شهید کړی شو. افغانستان در مسیر تاریخ دا پېښه په دې ډول خوندي کړې ده: ((... ازین بعد بچهٔ سقاو ملک محسن و عبدالغنی قلعه بیگی و غیره عصبی شدند و به مظالم آغاز نمودند. اینها قاضی عبدالرحمن خان را که مثل مولوی عبدالواسع خان از قضات متجدد بود در چوک کابل بند از بند بریدند.... (۲)

له دې سره نورو کسانو ته امر وشو چې د کابل د باغ علیمردان په علیرضا کوڅه کې د قاضي عبدالرحمن کور لوټ او وسوځوي او ټوله اولاده یې ووژني. کسان ورځي کور لوټ او سوځوي؛ خو کوم کس د ماشومانو د وژنې مخنیوی کوي او په دې ډول دغه بې مور و پلاره ماشومان د مرگ له کومي ژغورل کیږي.

د قاضي عبدالرحمن اولادونه (پنځه زامن او یوه لور) ډېر کوچني وو، خو ورځي یې بې کوره تېرې کړې او چا ځای هم نه

---

۱ - هغه مهال په کابل کې د شور بازار څلورلارې مشهوره وه؛ نو ښايي همدلته دا پېښه رامنځ ته شوې وي.

۲ - غبار، میر غلام محمد، افغانستان در مسیر تاریخ. چاپ دوم، پیام مهاجر، ایران، قم،اسد ۱۳۵۹ش. ص ۸۲۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو ورکولای. بیا د خپل مورني نیکه قاضي عبدالحمید کور ته وروستل شول، چې د غوربند په سیاه گرد کې قاضي و. نیکه یې تر څلورو کالو پورې سرپرستي وکړه؛ خو وایي کانې ځي ځي د یتیم په سر لگي؛ قاضي عبدالحمید هم روح خپل مالک ته سپاري.

عبدالقادر او د هغه مشر ورور عبدالحی له خپل نیکه او ماما قاضي عبدالسلام څخه لومړنۍ دیني زده کړې وکړې او ځینې کتابونه لکه خلاصه، منیة المصلی، قدوری، کنز او تر څه بریده میراث هم لولي.

عبدالقادر نهه کلن و، چې نیکه یې مړ شو، نو ماما یې دوی دواړه وروڼه کابل ته راوستل او په غازي لیسه کې یې شامل کړل. دوی لا د مخه دیني کتابونه لوستي وو؛ نو تر ازموینې وروسته دواړه په پنځم ټولگي کې شامل کړی شول.

که څه هم دوی د بېوزلۍ په حالت کې ژوند کاوه؛ خو لوړ همت دوی له زده کړو محروم نه کړل او دواړه وروڼه د دغې لیسې له دولسم ټولگي څخه په ۱۳۲۵ل کې په اعلی درجو فارغ شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالحی چې اول نومره و، د انجینرۍ په برخه کې د لوړو زده کړو لپاره امریکا ته ولېږل شو؛ خو قاضي عبدالقادر په ۱۳۲۶ل کال د حقوقو او سیاسي علومو په پوهنځي کې لوړو زده کړو ته دوام ورکړ.

عبدالقادر چې کله د حقوقو او سیاسي علومو له پوهنځي په ۱۳۲۹ل کې فارغ شو، د ۱۳۳۰ل په کب میاشتې کې په لومړي ځل په کورنیو چارو وزارت کې د پاسپورټ د آمر په توګه وګومارل شو. دوه کاله وروسته د کابل د جرایمو د آمر په توګه وګومارل شو، چې په ډېرې سپېڅلتیا یې دغه دنده ترسره کړه. ۱۳۳۵ل کې د بګرامیو د ولسوال په توګه مقرر شو. په بګرامیو ولسوالۍ کې د پاچا له خوا نازول کېږي، ځکه چې هلته حکومت صنعتي فابریکه جوړوله نو پاچا به تل د کار بهیر څارلو ته ورته او د ولسوال فعالیتونه به یې لیدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library





په ۱۳۳۷ل کې يې د کوچنيو حکومتونو د ادارې په څانګه کې د ترکيې له انقرې پوهنتون څخه فوق لسانس ډيپلوم تر لاسه کړ.

په ۱۳۳۸ل کې له بګراميو څخه د ننګرهار د سره رود ولسوالۍ ته د ولسوال په توګه تبديل شو. کله چې د خوګيانيو بازار اور واخيست او وسوځېد؛ نو قاضي عبدالقادر په ۱۳۴۰ل کې د اعلی حاکم په توګه خوګيانيو ته ولېږل شو. هلته يې د يوه انجينر په مرسته د خوګيانيو د کړې د بازار نقشه ترتيب او پلې کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر خوګیانیو وروسته قاضي عبدالقادر په ۱۳۴۴ل کې د کټواز د لوی ولسوال په توګه دنده ترسره کړه. په همدې کال د زده کړو لپاره د امریکا متحده ایالاتو ته لاړ او له پنسلوانیا پوهنتون څخه یې د عامه ادارې، سیمه ییزو او ولایتي حکومتونو په څانګه کې پر ۱۳۴۵ل د ماسټرۍ ډیپلوم تر لاسه کړ.

هېواد ته تر راستنېدو وروسته د لویې پکتیا د ولایت مرستیال وګومارل شو. څه وخت وروسته په ۱۳۴۶ل کې د نیمروز د والي په توګه وټاکل شو. دی د نیمروز دویم او د هغه وخت تر ټولو ځوان والي و. د نیمروز تر ولایت وروسته د میدان وردګو د والي په توګه وټاکل شو. بیا د محمد موسی شفیق په دوره کې د فاریاب د والي په توګه وګومارل شو. دغه مهال په افغانستان او په ځانګړي ډول په شمالي ولایتونو کې سخته وچکالي راغله. وچکالي دومره ځپونکې وه، چې ځینو خلکو خپل اولادونه خرڅول. عبدالقادر قاضي په دغه وخت کې خورا لوړ نوښت وکړ؛ د ملګرو ملتونو په مرسته یې "د کار په مقابل کې غنم" پروګرام پیل کړ. دا پروګرام له دې ځایه د افغانستان نورو سیمو ته هم وغځېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې کاره د قاضي عبدالقادر موخه دا وه، چې خلک د سپکاوي او تحقير احساس ونه کړي او داسې ونه ګڼي چې ګوندې ځوک ورته خيرات ورکوي، بلکې د کار په بدل کې اجوره اخلي.

دا د هغه د اروا پوهنې تجربه وه، چې خيرات او بلا عوضه مرستې د انسان غرور راټيټوي.

عبدالقادر قاضي تر فارياب وروسته شپږ مياشتې د کورنيو چارو وزارت د تفتيش رئيس وګومارل شو او بيا د لغمان ولايت د والي په توګه معرفي شو، دوه کاله يې هلته دنده ترسره کړه.

عبدالهادي صديقي د عبدالرؤف زوی چې۴۳ کاله پخوا ښوونکی و، د عبدالقادر قاضي په اړه وايي:

(( هغه په لغمان کې د داؤدخان د دور لومړی والي و، چې دوره يې له ۱۳۵۲ تر ۱۳۵۴ل پورې وه. هغه د حسن خان ګردېزي تر لومړي وار ولايت وروسته دلته راغی. دغه مهال حسن خان ګردېزی په بغلان کې والي و. قاضي قادر له معارف سره ډېره مينه درلوده، په اليشنګ او الينګار کې د ځينو ښوونځيو د بنسټ ډبرې د همدې والي په لاس ايښودل شوې دي. د لغمان د ښوراوې د سيمې اوسېدونکی معلم ظاهرخان هم دا خبره تاييدوي، وايي چې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهال زه په روښان لېسه کې ښوونکی وم، له والي قاضي قادر سره یو ځای د مستورې لېسې ته ورغلم، هلته د ښوونکو کمښت و. والي صاحب ما ته مخ راواړاوه ویل ته به دلته څه وخت د خدمتي ښوونکي په توګه تدریس وکړې.

د اب دیو پول سروې چې د حسن خان پر مهال شوې وه، د قاضي قادر په وخت کې بشپړ او پرانیسته یې وشوه. د نورستان او ګنده لبوک د سرک چارې د حسن خان په دوره کې پیل شوې وې خو قاضي قادر ورته ادامه ورکړه.



(c) ketabton.com: The Digital Library



معلم ظاهر وايي چې د دغه سرک په کار کې زه هم له والي صاحب سره وم، د والي صاحب په ګډون به ټولو خلکو ګډ کار کاوهٔ او د غرمې ډوډۍ به مو يو ځای له پيازو سره خوړله.

حاجي عبدالشکور چې د قاضي قادر په وخت کې د لغمان ښاروال او وروسته يې په پوهنې رياست کې اداري چارې ترسره کولې، د دې موضوع په اړه يوه نوې خبره کوي وايي، چې کله قاضي قادر د نورستان او ګنده لبوک سرک جوړاوه نو خلکو داسې ګونګوسې اچولې وې، چې والي صاحب هلته د لاجوردو او زمرودو کانونه موندلي دي.

همدغه مهال د داؤدخان د جمهوريت کودتا وشوه. د دهٔ په دوره کې په لغمان، پنجشېر او کونړ کې اخوانيانو حملې وکړې؛ خو ده ته کوم زيان ونه رسېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library





مرکچي جاوید سیال او معلم عبدالهادي صدیقي

د لغمان د پېښې په اړه معلم صدیقي وایي:

((د والي قاضي قادر په وخت کې یوه ستره پېښه دا وه، چې په لغمان کې د حزب اسلامي ګوند مشر مولوي حبیب الرحمن د هرمل اوسېدونکي، د قاضي قادر په وړاندې د ۱۳۵۴ل کال د زمري په پنځمه مازیګر مهال پاڅون وکړ. پاڅون کوونکو د ښاروالۍ تر څنګ د داؤدخان ځړېدلي انځورونه د ټوپکو په ګولیو وویشتل او د ولایت په مقام یې برید وکړ. قاضي قادر د ولایت مقام خوشې کړ او د دۀ ملخ په سیمه کې یې پناه واخیسته. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګړه کې له دولتي لوري يو سرمامور او درې کسه ساتندويان او له ولسي لوري دوه کسه مړه شول.

د دولتي ځواکونو د ملاتړ لپاره په دې پېښه کې له ننګرهار څخه د يونس خان په مشرۍ پوځيان راغلل او پاڅون تر سهار د مخه پای ته ورسېد. مولوي حبيب الرحمن له دوه نورو کسانو سره ونيول او بندي شو. تر قاضي قادر وروسته يو ځل بيا حسن خان ګردېزی د والي په توګه لغمان ته راغی.))

تر دې حملو وروسته د دهٔ کشر ورور عبدالمجيد چې په ملک شمس مشهور او د سيمې ملک او مشر و، په قره باغ کې شهيد کړای شو. قاضي عبدالقادر هم له دندې ګوښه شو.

بيا په ملي بانک کې بالمقطع حقوقي مشاور په توګه مقرر شو. په دې دنده د غوايي تر کودتا او د کشتمند د صدارت تر دورې پورې پاتې شو کله چې په دغه دوره کې سرتاسري شورا جوړېده؛ نو عبدالقادر قاضي يې د پروان د استازي په توګه انتصاب کړ؛ خو هغه دې دندې ته حاضر نه شو او له شورا څخه ووت. وروسته دولت دی د انقلاب ضد کس په نامه له ملي بانک څخه منفک کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوموړی ډېر سپېڅلی او متدین انسان و، د خپل ماموریت په ټوله دوره کې یې په صداقت کار وکړ. وایي کله چې له نیمروز څخه رخصتېده نو خلکو ورسره څه مالي مرسته وکړه. په همدغې مرستې یې د کابل په دربیمه کارته کې په هغې ځمکې یو عادي کور جوړ کړ، چې دولت ورته ورکړې وه. دا د دهٔ د ټول عمر شتمني وه.

کله چې به له یوې دندې تر بلې پورې وزګار پاتې کېده، د خپل عادي ورځني ژوندانه لګښتونه به یې نه شو پوره کولای. تر میاشت دوه وروسته به پور اخیستلو ته اړ کېده.

د خپل هېواد او ملت سره یې بې کچې ځانګړې مینه درلوده. سپېڅلې او متدین ژوند یې تېراوه، د خدمت په دوران کې یې د چا ډالۍ او تحفې هم نه اخیستې. د خپلو دندو پر مهال یې د پوهنې چارو، د ښوونځیو ودانیو او تجهیز، د کلینیکونو او سړکونو جوړولو ته د خلکو په مرسته ځانګړې پاملرنه کوله. د خوګیاڼو د کرږې بازار د هغه په پاملرنه جوړ شو. په فاریاب کې یې "د کار په مقابل کې غنم" پروګرام یې یو نوښت و، چې هم خلک له قحطۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وژغورل شول، په کار بوخت شول او په دې سره ډېر پلونه، پولچکونه او سرکونه هم جوړ شول.



ارواښاد عبدالقادر قاضي د لغمان د جوګي پله په پرانيسته کې


د يوه چارواکي په توګه د عبدالقادر قاضي نرم، قانوني، زړه سواندی، معقول او متمدن چلند، د ځينو نورو چارواکو پرعکس هغه د خلکو په زړونو کې ځاياوۀ. هغه هڅه کوله چې ښځې د قانون په سيوري کې ژوند وکړي او د نرينه و په څېر حقوقي خونديتوب ولري. د ولسونو د اذهانو تنوير ته يې ځانګړې پاملرنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوله. له پوهنې سره يې نېغ په نېغه اړيکي درلودل او هڅه يې کوله چې د ښوونځيو اړتياوې ليرې کړي. په خپله يې هم ښوونځيو ته سر ورښکاره کاوۀ او ان چې په تدريس کې يې هم ونډه اخيسته. د ښځينه ښوونځيو ترويج ته يې ډېره پاملرنه کوله. له ښځو سره د نېک او ښه چلند پلوي و. ځوانان يې د رغاوونکي ځواک په توګه ګڼل او ډېر درنښت يې ورته درلود.

د همدې ځانګړنو له امله د وخت د حکومتونو له خوا په نښانونو، مډالونو او ستاينليکونو هم نازول شوی دی:



۱۰۵۱

المتوکل علی الله

محمد ظاهر

د خدای په فضل د افغانستان ټولواک

در ښتياني خدمت او زيار کښلو په نماڅنه ( )

د ( ) لوړ نښان په ورکولو سرلوړی شو

دا فرمان چه زموږ له حضوره ورکړ سو دده ښه خدمت

او د دغه نښان ورکړه څرګندوي.

نېټه ۲۱ / ۵ / ۱۳۴۱



۹۰۷

المتوکل علی الله

محمد ظاهر

د خدای په فضل د افغانستان ټولواک

در ښتياني خدمت او زيار کښلو په نماڅنه ( ښاغلی عبدالقادر قاضي د ... والي )

د ( مطلا رشتين ) لوړ مډال په ورکولو سرلوړی شو


دا فرمان چه زموږ له حضوره ورکړ سو دده ښه خدمت

او د دغه مډال ورکړه څرګندوي.

نېټه ۲۱ / ۵ / ۱۳۴۲

(c) ketabton.com: The Digital Library




صدارت عظمی

تقدیرنامهٔ درجه دوم

نظر بحسن خدمتگذاری و فعالیتی که در امور محولهٔ ع. ا. ن عبدالقادر خان
کفیل حکومت بگرامی بشهده پیوسته و این فعالیت وی را
وزارت داخله تائید نموده است به اعطای هذا تقدیرنامه
افتخار داده شد تا قدر مقررات قانون رتب از امتیاز و حقوق
این تقدیرنامه مستفید گردد

قاضي يو كمينه، اديب او ظريف انسان و. له انگليسي ژبې يې په دري ژبه ژباړې هم كولې. له بده مرغه چې ليكنې او يادښتونه يې لا تر اوسه ډېر ناچاپ پاتې دي.

د قرآن عظيم الشان پر تلاوت او د نبوي سيرت پر مطالعې سخت مين و. د فلسفې، ټولنپېژندنې، شرقي عرفان او په ځانگړي ډول د مولوي له عرفان سره يې ځانگړې مينه درلوده. د سعدي گلستان يې ډېر زيات په حافظه كې و او شيخ شيرازي د كلام خوږلني يې په ورځنيو خبرو اترو كې ډېره محسوسېده.

قاضي ټولو افغاني قومونو ته په درناوي قايل و، هغه په دې باور و، چې هېواد په فرهنگي او هويتي رنگارنگۍ سره د پرمختگ او هوساينې لاره وهلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاضي په کورنۍ کې ښه مېړه او مهربانه پلار و. مېلمه پال او صميمي انسان و. تر خبرو يې اورېده ډېر کول، د کورنۍ غړو او اولادونو ته يې ډيالوګ ورزده کاوه.

کله چې له ملي بانک څخه منفک شو، په خپل کور کې يې د چرګانو په روزلو پيل وکړ، حقوقي دارلوکاله يې هم جوړه کړه او په دې ډول يې په بېوزلۍ کې د خپل هېواد په پتمنه غېږه کې ژوند تېر کړ.

هغه نه غوښتل چې خپل هېواد پرېږدي، که نه هغه ته دا لاره هواره وه چې بهر ته لاړ شي. په دغه وخت کې حالات نور هم پسې خراب شول؛ نو د هغه دويم زوی وليد چې له اقتصاد پوهنځي فارغ و او حکومت جبراً عسکرۍ ته جلباوه، پېښور ته مهاجر شو او له هغه ځايه امريکا ته لاړ.

وليد قاضي وايي چې پلار يې ده ته سپارښتنه کوله چې په هر حالت کې په خپل ګران هېواد کې پاتې شي او له هېواده ونه وځي، ځکه ده غوښتل چې پاکستان ته مهاجر شي.

په کابل کې چې حالات ډېر خراب شول نو عبدالقادر قاضي " پولېنډ" ته لاړ، چې هلته يې لور اوسېده. له هغه ځای نه د خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



زوی په بلنه په ۱۹۹۰م کې امریکا ته لاړ. دا چې په افغانستان کې حالات نور هم پسې خراب شول؛ نو هغه په امریکا کې پاتې شو؛ خو ډېر به خواشینی و.

ولید وایي چې ده د عمر تر پای د امریکا تابعیت وانه خیست، که څه هم ده په امریکا کې زده کړې کړې وې او د تابعیت اخیستنه ورته اسانه وه. د تابعیت اخیستنې خبره چې به ورته وشوه، بده به پرې لګېدله او هیڅکله د پردي هېواد تابعیت اخیستو ته چمتو نه شو. وایي چې د امریکا د متحده ایالاتو د نیویارک د پناه ورکوونکو په دفتر کې د هغې ادارې د افسرانو له خوا د امریکا د تابعیت او له هغه څخه ګټې اخیستو ته وهڅول شو، چې د هغه د نظر تر څرګندولو وروسته د هغه مقام د ډېرې ستاینې وړ وګرځېد. د هغه ځواب مقاماتو ته داسې و:

" مننه کوم ښاغلیه، چې ما ته مو د سیاسي پناه غوښتونکي په توګه د امریکا په متحده ایالاتو کې د استوګنې اجازه راکړه؛ خو هیڅکله حاضر نه یم، چې د خپل ببوزله او جنګ ځپلي هېواد تابعیت د امریکا د متحده ایالاتو د تابعیت په وړاندې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرمختللی او متحول دی، پرېږدم، ان چې د دوه ګوني تابعیت اخیستو ته هم چمتو نه یم"



غوث الدين وليد قاضي له شاه محمود مياخېل سره د مرکې پر مهال

هغه په مهاجرت کې د هېواد حالاتو ډېر درداوه او روغتیا یې ورځپله. هغه په خپلو یادښتونو کې د افغانستان په اړه کښلي دي:

" د افغانستان جیوپولیتیک موقعیت له بده مرغه تر ګټې ډېر د هغه په زیان دی " د هغه ارواښاد بله دا خبره ډېر د پاملرنې وړ ده، چې د هر اتنیک یا قوم اکثریت تر افغانستان د باندې او اقلیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې په هېواد کې دی، چې دا ډول جوړښت په هېواد کې پرلپسې ناکرارۍ ته لاره هواروي.

ارواښاد قاضي د عمر په وروستيو ورځو کې کورنۍ ته وصيت وکړ، چې:

" زما په پلرني ټاټوبي کې تاو تريخوالی پردی و، په ټوليز ډول انسان په خپل ذات کې ښه فکره او نېک دی، باور مې دی، چې يو وخت به مې په ټاټوبي کې جنګ او وېره پای ته رسېږي؛ په داسې ورځو کې چې هېوادوال مې هېوادوال په وسيله په مرميو نه ويشتل کېږي او د اور په دې ويرځې او په وينو کې ډوب هېواد کې امن او سوله راشي او پر جنازو د وير او ژړا پر ځای، ځوانان له ډهل او سرني سره د ودونو مراسمو ته روان شي، خاورې مې هغه ټاټوبي ته يوسئ "

عبدالقادر قاضي د ۲۰۰۰م په اکتوبر کې د امريکا د نيويارک ايالت په الباني ښار کې خپل سپېڅلی روح الله ته وسپارهٔ.

عبدالقادر قاضي خپلې شخصي ليکنې او ژوندانه ياداښتونه خپلې کورنۍ ته پرېښودي دي؛ خو له بده مرغه تر اوسه پورې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي چاپ شوي. د هغه يوازې يو کتاب په پېښور کې چاپ شوی چې د بشپړ لمانځه په اړه معلومات لري.

مشر زوی يې عبدالرحمن خالد قاضي چې د حقوقو پوهنځي استاد هم و، دوه کاله د مخه په جرمني کې ومړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:


- د عزم او ارادې يوه ښه بېلګه وه، چې بېوزلې او يتيمولۍ يې هم د زده کړو مخه ډب نه کړی شوه.
- هغه بېوزلي ليدلې وه؛ خو د دندو پر مهال يې هم پردي مال ته حيلې جوړې نه کړې او د تحفو په نامه يې ولس ونه لوټه.
- د وطندوستۍ ښه بېلګه يې دا ده، چې د عمر تر پای يې د هيڅ بهرني هېواد تابعيت وانه خيست.

❊❊❊

❊❊❊

(c) ketabton.com: The Digital Library






فلسفه، علم او ادب یې د بدن ښکلا وه. هغه د دغو مفاهیمو په حقیقي او ژوره معنی پوه و. فلسفه، علم و ادب یې د هېواد او هېوادوالو د یوون، پرمختګ، سوکالۍ او نړیوالې سیالې لپاره وو. د یوه ماهر فلسفي په توګه د هغه په عادي خبرو او حرکاتو کې هم ټولنې ته لوی درسونه پراته وو؛

وایي هغه به په کابل پوهنتون کې شاګردانو ته د تدریس په پیل کې ویل چې دا معلومات ډېر دقیق، باوري او نوي دي؛ خو تر تدریس وروسته به یې پرې د شک کرښه راکښله او شاګردانو ته به یې ویل، چې دا معلومات تر دغه مهاله سم وو، نور دا سم نه دي، د سمو په اړه پلټنه ستاسو دنده ده.

د هېواد دا ستر فلسفي، علمي- ادبي او سیاسي شخصیت پوهاند سید **بهاؤالدین مجروح** د سید شمس الدین مجروح زوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیکه یې سید حضرت شاه دیني عالم او د ( تیرګړو په پاچا صاحب مشهور و).

بهاؤالدین مجروح د ۱۹۲۸م کال د فبرورۍ په یوولسمه د کونړ ولایت د اسمار ولسوالۍ په شینکوړك کلي کې دې نړۍ ته سترګې وغړولې او د خپل پلار تر سرپرستۍ او روزنې لاندې رالوی شو.

سید بهاؤالدین مجروح لومړنۍ زده کړې د شینکوړك کلي په جومات کې سرته ورسولې او د فارسي ادب ځینې مشهور کتابونه لکه: ګلستان، بوستان او سکندرنامه یې ولوستل. څه موده وروسته له خپل پلار سره کابل ته راغی، څرنګه چې بهاؤالدین کلاسیك ادبیات لوستلي وو او پر لیك لوست ډېر ښه پوهېده؛ نو د ۱۳کلنۍ په عمر د استقلال لېسې په څلورم ټولګي کې شامل شو. په ۱۹۵۰م کال کې د دغې لېسې د فلسفې له څانګې څخه په لومړۍ درجه فارغ او د هغه وخت د دولت له خوا د لوړو زده کړو د بشپړتیا لپاره فرانسې ته ولېږل شو.

په ۱۹۵۱م کال د فرانسې د (سوربن) پوهنتون د ادبیاتو په پوهنځي کې شامل شو او په همدې پوهنتون کې یې خپلو زده کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته دوام ورکړ. بیا یې له ۱۹۵۲-۱۹۵۸م کال د فرانسې د مونت پیلیه (Montipiller) پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي د فلسفې، ارواپوهنې او اجتماعیاتو په څانګه کې لسانس واخیست. په همدې دوره کې یې وکړای شول، چې د الماني ادبیاتو دوه سمستره په مونشن او هامبورګ او د انګرېزي ادبیاتو دوه سمستره په انګلستان پوهنتون کې تعقیب کړي. په دې توګه پر پښتو- دري ژبو سربېره له فرانسوي، الماني او انګرېزي ژبو سره هم بلد شو.

شهید مجروح په عربي ادبیاتو کې هم ښه لاس درلود. د ۱۹۶۴م کال په وروستیو کې یې په غربي المان کې د کلتوري ریاست ترڅنګ د خپلې ډاکترۍ لپاره کار پیل کړ. په ۱۹۶۸م کال کې یې د "مونت پیله" له پوهنتون څخه د فلسفې په څانګه کې ډاکتري واخیسته او په ۱۹۶۹م کال بېرته هېواد ته راستون شو.

له راستنېدو سره سم د کابل پوهنتون په ادبیاتو پوهنځي کې استاد، بیا مرستیال او وروسته د همدې پوهنځي د رئیس په توګه وټاکل شو. له ۱۹۶۳-۱۱۹۶۴م کال پورې یې د کاپیسا ولایت د والي په توګه دنده اجرا کړه. بیا د څه مودې لپاره فرانسې ته ولاړ. له ۱۹۶۹- ۱۹۷۲م پورې د دوهم ځل لپاره د کابل پوهنتون د ادبیاتو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهنځي کې استاد شو. په همدې دوره کې نوموړی د پوهنځي انتخابي رئیس وټاکل شو او له ۱۹۷۲- ۱۹۷۳م پورې د افغانستان د تاریخ ټولنې رئیس و.

له ۱۹۷۳- ۱۹۷۸م پورې یې د درېم ځل لپاره د کابل پوهنتون د ادبیاتو په پوهنځي کې د استاد او د فلسفې څانګې د مشر په توګه دنده اجرا کړه. د ۱۹۷۸ – ۱۹۷۹م کلونو په دوران کې استاد او ورسره د علمي او ادبي خپرونو قلمي همکار و. په علمي او ادبي حلقو کې یې د آثارو تود هرکلی کېده او د یوه ښه لیکوال او شاعر په توګه پېژندل شوی و.

سید بهاؤالدین مجروح پر رسمي دندو سربېره د ۱۳۳۸ل کال په حمل کې د وږمې مجلې په کتونکې ډله کې شامل شو او د همدې کال د زمري له میاشتې څخه د ۱۳۳۹ل کال د تلې تر میاشتې پورې په افتخاري ډول د وږمې مجلې درېم مسوول مدیر و.

کله چې په افغانستان کې د غوایي کودتا وشوه؛ د نورو افغانانو په څېر پوهاند مجروح هم د هېواد پرېښودو ته اړ شو او د ۱۹۸۰م کال د فرورۍ په ۱۲مه نېټه د پښتونخوا پېښور ته مهاجر شو. د هجرت پر مهال په پېښور کې د مجاهدینو د جهادي هلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلو په ځنګ کې د فرهنګي کار تشې ته متوجه شو؛ نو د "افغان اطلاعاتي مرکز" په نامه یې یوه اداره پرانیستله، چې وکړای شي نړیوال د افغانستان له دننه حالاتو څخه خبر او د افغان مظلوم او مسلمان ملت په مقابل کې د روسانو او د هغوی د پلویانو ظلمونه نړیوالو ته په ډاګه کړي.

د دې مرکز له لارې یې په نړیوالو کنفرانسونو کې د افغانستان په نظامي، سیاسي، اقتصادي او اجتماعي حالاتو تبصرې او تحلیلونه کول. افغان اطلاعاتي مرکز د میاشتني انګلیسي خبري بولټن له لارې دغه کار ته ملا وتړله، چې په دې سره افغان جهاد ته رښتیني او ویانده ژبه پیدا شوه، د جهاد اصلي څېره نړیوالو ته وځلېده او د ناسمو تبلیغاتو او قهرمان جوړونې بازار یې مات کړ. دغو هلوځلو تر ۱۹۸۸م کال پورې دوام وکړ.

مجروح یوازې په دغه بولټن بسنه ونه کړه بلکې د کتابونو او مقالو په خپرولو او هم یې په اروپا او امریکا کې د کنفرانسونو په ورکولو پیل وکړ. د دغه ټوله هڅه دا وه چې د نړۍ بېلابېل ولسونه په دې متیقین کړي، چې روسانو د افغانستان د متدینو او هېوادپالو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو پر ټولو بشري حقوقو پښې ایښې دي، له بین المللي حقوقو څخه یې تېرې او پر یوه ازاد او مستقل هېواد یې یرغل کړی دی.

د شهید پوهاند مجروح آثار که د کمیت له مخې ټیټ دي؛ خو د کیفیت له مخې خورا لوړ دي. په افغاني ټولنه کې به د ادبي او فلسفي اړخونو له مخې د هغه د آثارو غوندې نور ډېر لږ وموندل شي. د هغه د هر اثر په هر سرلیک او هر پاراګراف ځانګړی او مستقل اثر لیکل کېدای شي. په افغاني ټولنه کې د هغه د ټولو چاپي آثارو ډېر تود هرکلی شوی دی، خو پر افغاني ټولنې سربېره په بهرنیو هېوادونو کې هم ډېر مینه وال لري او ځینې یې بهرنیو ژبو لکه فرانسوي او الماني ته ژباړل شوي هم دي.

د افغانستان نومیالی خبرونکی او فرهنګي شخصیت استاد حبیب الله رفیع د شهید مجروح په اړه وایي:

ډاکټر بهاؤالدین مجروح، خدای دې یې وبخښي، د افغانستان یو نامتو فیلسوف و، واقعاً ژور فکر یې درلود او د افغانستان د ټولنې ژوره مطالعه یې کړې وه. "اژدهای خودی" چې یې لیکلی په دې کې د راتلونکو پېښو وړاندوینه شوې ده. لومړی ټوک یې په ظاهرشاهي دوره کې لیکلی، چې د داؤدخان په اړه وړاندوینې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري. دوهم ټوک یې د داؤدخان په دوره کې لیکلی، چې د کمونستي دورې په باره کې وړاندوینې لري او وروستني ټوکونه یې په پېښور کې لیکلي، چې د افغاني ټولنې وروستۍ ګډوډۍ په کې انځور شوي دي.



مجروح د افغاني ټولنې په نبض پوه و او د ټولنې له حالت نه یې برداشتونه کول او په خپلو یادښتونو کې یې لیکل.

زه ډېر درناوی ورته لرم، واقعاً د افغانستان د ټولنې ډېر لوی پېژندونکی او د دردونو انځوروونکی و. د پېښو په برخه کې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه قضاوت کړی دی. شاعري یې همداسې ده، ازاده شاعري یې کړې ده. د ډېرو مسایلو په اړه یې په خپله شاعرۍ کې داسې خبرې کړي دي، چې هغه نور شاعران نه لیکي؛ خو هغه راوړي دي. د داؤدخان په باره کې هم شعر لري او په وطن کې د کودتاګانو په اړه هم وړاندوینې لري.

ما له نږدې ډېر ورسره لیدلي او یو وخت ورسره ما کار هم کاوۀ. د کار په برخه کې هم ده د وطن لپاره ډېرې هیلې درلودې، د همدې لپاره ده ولایت هم منلی و. یو وخت دی والي و، د پوهنتون رئیس هم و او د تاریخ انجمن رئیس هم. هر ځای ته چې تللی خدمت یې کړی او د افغانستان د خلکو لپاره یې فکر کړی او دا فکر یې په لیکنو کې منعکس کړی دی.

له همکارانو سره د ښه چلند په اړه یې ښاغلی رفیع وایي:

له همکارانو سره یې چلند عادي و، دکتاتورانه او آمرانه مسایل په کې نه وو. د کار په باره کې یې پوښتنه کوله، کار یې کاوۀ او کار یې غوښته. د کار کولو سړی و، له کار سره یې مینه درلوده؛ نو په دې اساس یې له همکارانو سره هم مینه وه او هغوی هم غوښته چې له ده سره د ټیم په حیث کار وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شهید مجروح رامعلوم آثار دا دي:

١. اژدهای خودي(په شپږو دفترو او درې ټوکو کې)
٢. ځانځاني ښامار
٣. د جبر او اختیار دیالکتیک
٤. اجتماعي احساس د الفرد ادلر په روانشناسۍ کې د ماسترۍ تیزېس
٥. د ځان تربیه زموږ په روانشناسۍ کې
٦. دښمن وپېژنئ
٧. صوفي او نوې دنیا
٨. زردشت وویل داسې
٩. پیام صوفي بت شکن به بت پرستای قرن ٢٠
١٠. بودا چنین گفت
١١. سید جمال الدین و برخورد شرق و غرب
١٢. منازل السایرین یا صد میدان حکیم سنایی
١٣. نا اشنا سندرې
١٤. Afghan Intellectuals in Exile: Philosophical & Psychological Dimentions

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۱۹۸۸م کال د فرورۍ په ۱۱مه نېټه په پېښور کې پردیپالو افغانانود پېښور په شاهین ټاون کې په خپل کور کې شهید کړ. لیکوال شاه محمود میاخېل چې هغه وخت په پېښور کې د امریکا غږ راډیو سره خبریال و او د شیهد بهاؤالدین مجروح سره په یوه کوڅه کې اوسیدهٔ وایې چې په دې وخت افغان اطلاعاتي مرکز په پاکستان کې د افغان مهاجرینو یوه سروې خپره کړه چې اویا سلنه افغانان د پېښور له مشرانوڅخه ناراضه وو او د پخواني پاچا ظاهرشاه د راتګ طرفدار وو. د افغان اطلاعاتي مرکز دغه سروې د پاکستان حکومت او ځینو جهادي مشرانو لپاره د منلو وړ نه وه او ویل کېدل چې همدا سروې د دې باعث شوه چې پوهاند ډاکټر بهاؤالدین مجروح په ډېره بې رحمانه توګه په داسې حال چې د کور دروازه یې پخپله بېرته کوله، د نامعلومو کسانو له خوا وویشتل شو. د نوموړی جسد لومړی د دهٔ له کور سره نږدې د شاهین ټاون په هدیره کې خاورو ته وسپارل شو او بیا د خپل پلار له جنازې سره هم مهاله راوړل او د کونړ په شین کوړک کې په خپله پلرنۍ هدیره کې خاورو ته وسپارل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- د سره ښکېلاک پر وړاندې د افغان ملت اتلولۍ ته ځير شو، چې سربندۍ دوی کوي؛ خو رهبران يې په وينو سوداګري کوي، نو جهاد ته يې يوه رښتينې او ګويا ژبه پيدا کړه او د انګريزي بولټن په څېرولو سره يې د افغان جهاد اصلي څېره نړيوالو ته وښوده.
- په پېښور کې د هغه دفتر د مهاجرو استادانو، عالمانو، پوهانو او ټولو روڼاندو د راټولېدو او د جهاد او هېواد په اړه د زړه خوالو ځای و.
- زړور او باثباته انسان و، لکه ونه مستقيم پر خپل مکان و، له مرګه ونه ويرېده او د ژوند تر پای د افغان ولس تر څنګ پاتې شو.

***

***

(c) ketabton.com: The Digital Library





وايي ښه وکړه او په درياب کې يې واچوه

د دې متل پر مفهوم په بېړه پوهېدل يو څه ستونزمن کار دی؛ خو چې کله چې پرې ښه سوچ وشي؛ نو هاله يې انسان په ژورتيا پوهېږي او دا درک کوي، چې د انساني ژوندانه د هوساينې او سپېڅلتيا لپاره په کې څومره ښېګڼې نغښتې دي. پر دې سربېره که په ټولنه کې هم په عملي توګه د ښو کولو او شا ته غورځولو يا هېرولو بهير ته ځير شو؛ نو ډېرو اشخاصو ښه کړي؛ خو د هغو په مقابل کې يې د ځان ستايلو او راځلولو هيڅ هڅه نه ده کړې. آيا فکر کواست چې دغه ډول اشخاص به هماغسې بې نومه او بې نښانه پټ پاتې شي؟!

نه هيڅکله نهٔ! د هغو کارنامې، ټولنې ته د هغو خدمتونه، د ټولنې پر وړاندې د هغو ژمنتيا او رښتينولې هغه توکي دي، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی يې د ټولنيز درنښت وړ ګرځولي، ټولنيزې حافظې ته يې سپارلي او تل به يې نومونه له ټولنې سره ژوندي او خوندي وي.

له دغه ډول اشخاصو څخه يو هم **روښندل خان** و. روښندل خان د کرنل احمدشاه خان زوی او په ۱۲۹۴ل کې د وردګو د جغتو ولسوالۍ په ګونده کهول کې زېږېدلی دی. پلار يې پر دغه مهال د غزني د توپچي قوماندان و، چې د منګلو او ځدراڼو په پاڅون ځپلو کې يې په مېړانه ونډه اخيستلې وه.

روښندل خان لومړنۍ زده کړې په جوماتونو کې کړې دي او خپل لومړنی ماموريت يې پر ۱۳۱۸ل د ننګرهار ولايت په ډکه کې پيل کړی دی. هلته د شفر مامور و. هغه د څلوېښت کلن ماموريت په دوران کې بېلابېلې دندې درلودلي دي لکه د قبايلو په رياست کې ماموريت، د خوشحال خان لېسې مديريت، د خوست حاکم اعلی، د ګرشک حاکم اعلی، د جوزجان حاکم اعلی، د غزني والي، د ارزګان والي، د بدخشان والي او نورې.

روښندل يو قومي او ملي شخصيت و. په قومي رمزونو او دودونو پوه او ځيرک انسان و. کله چې به د د ندې پر مهال له ځينو پېښو سره مخامخ شو او په حکومتي چوکاټ کې به يې حل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناشونى يا ستونزمن و، نو سمدواره به يې په قومي او عنعنوي بڼه د هغو د حل هڅې پيلولې.

روشندل خان ډېر ځيرک، متدين، ملي او خادم افغان و. کله چې د ۱۳۳۸ل شاوخوا هغه خوست ته د حاکم اعلی په توګه لاړ؛ نو لومړی يې د خوست ټولو سيمو ته سفرونه وکړل. ولسونه او قومي سپين ږيري يې وليدل. د هغو ستونزې او عرضونه يې واورېدل او د هغو په رڼا کې يې خپل اجراآت پيل کړل.

هغه په خوست کې يو کال او څو مياشتې دنده درلوده؛ خو په همدغه کم وخت کې يې د يادونې وړ خدمتونه وکړل. هغه به زياترو ځايونو کې د رغاونې او پوهنې ودې ته ډېره پاملرنه کوله. په خوست کې يې هم ځينې ويجاړ او سوځول شوي ښوونځي بيا ورغاول.

تر خوست وروسته د ګرشک د اعلی حاکم په توګه وګومارل شو. په ګرشک کې يې هم پر رغاونيزو چارو او پوهنيزي ودې لاس پورې کړ. دغه مهال په ګرشک کې د هوسيو ښکار ډېر مروج و، ځينو به دغه ښکار ان د افراط تر بريده کاوه؛ نو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوسیو نسل هلته له سخت ګواښ سره مخامخ و. روشندل خان دغه ښکار بند کړ او پر سرغړوونکو یې درنده جریمه کېښوده.

روشندل خان په ګرشک کې هم یو کال او څو میاشتې تېرې کړې او بیا جوزجان ته د اعلی حاکم په توګه ولېږل شو. هغه په جوزجان کې خورا زیات کارونه وکړل. اقتصادي، زراعتي او صنعتي برخو ته یې کلکه پاملرنه وکړه او په دې ډګرونو کې یې د یادولو وړ لاسته راوړنې هم درلودې.

هغه د شبرغان ښار جوړولو چارې په نوې بڼه پیل کړې. سرکونه یې پاخه کړل، ودانۍ یې په نوي او ښاري سیستم جوړ کړې. کومو پانګوالو چې په ښار کې د ودانیو جوړولو توان درلود، په هغو یې دا ومنله چې په شبرغان ښار کې به ځمکه حکومت ورکوي او یوه یوه وداني به په کې دوی جوړوي. په همدې پروګرام کې د آقچې، سرپل او اندخوی د واټونو په لور شاوخوا اویا ودانۍ جوړې شوې. دې کار که څه هم ځینې حساسیتونه له ځانه سره درلودل، یعنې ځینو خلکو تر کابله پورې منډې ترړې ووهلې او له هغه ځایه یې د معاف کېدو امرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوړل؛ خو دا هر څه د روشندل خان د قوي هوډ پر وړاندې نه شو ختمه کېدای.



د دولتي ودانیو د جوړولو لپاره د آقچې، سرپل او سنچارک له ښاروالیو پور واخیسل شو او په دوو کالو کې بېرته ورخلاص شو. د مالیاتو راټولونې ته زیاته پاملرنه وشوه او د دولت خزانه غني شوه. د روشندل خان د حاکمۍ پر مهال شبرغان د هېواد د نورو ښکلیو ښارونو په کتار کې ودرېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library





په همدې دوره کې د لويو ولسواليو ښارګوټي هم له ښاري سيستم سره سم پراخ شول، د ساري په توګه په همدې وخت کې د سنچارک ښارګوټي نقشه پلې شوه. د دوديزو لوبو د پرمختګ او هڅونې لپاره کار وشو او په دې برخه کې د سياليو امکانات برابر شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



روښندل خان په جوزجان کې هم اوږد وخت پاتې نه شو، خو په همدغه لږ وخت کې يې دومره رغاونيز کارونه وکړل، چې پاچا د شبرغان د ليدلو پر مهال داسې وويل:



د جوزجان يوازينی تفريحی بڼ چې د روښندل خان د خدمت د نخښې په توګه تر اوسه راپاتې دی؛ خو د اوسنيو خادمانو!! د خدمت په دوره کې خړ پړ او ځنګلي شوی دی.

((وا وا، نام خدا شهر شبرغان را اکنون در ميان شهرهای ديگر افغانستان په مثابه يک شهر کاملاً عصری ميبينم که به زحمات خسته گی ناپذير والی روښندل خان در سرزمين اين دشت، سبز

(c) ketabton.com: The Digital Library



شده است، واقعاً باور نه کردنیست چنین شهر زیبا که با چند سال قبل آن قابل مقایسه نیست.))

د روښندل خان کارونه او فعالیتونه پر چارواکو سربېره ولس هم ستایلي دي، سانجي یې په اړه لیکي:

(( حال باید مردم شهید پرور شبرغان انتظار زمانی را بکشند که تا مادر وطن گرامی شان چون قبل فرزندان دیگری به مانند سید آقاخان حاکم کلان، عبدالجبارخان حکمران، روشندل خان وردگ حاکم اعلی، انجینر احمد الله والی، عبدالرازق صاعد منشی و غیره خدمتگاران صدیق و دلسوز شبرغان دوست را تقدیم جامعه نماید، تا آنان به مثل اسلاف پیشین دولتمدار خویش بمنظور کار و خدمت به شبرغان بیایند و این شهرک خاک باد را آباد ویکبار دیگر از بیخ و بن ساخت و ساز نمایند.))

د روښندل خان او د هغه د کارونو انځورونه لا اوس هم د خلکو په سترګو کې اوړي راوړي. د شبرغان د لغمانیو د کوڅې مخامخ یو اوسېدونکی حاجي نبي خان هوتک یې په اړه وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library





په شبرغان ښار کې لغمانيو کوڅې ته مخامخ حاجي نبي خان هوتک

(( دا آبادۍ چې اوس دي، دغه نقشه د روشندل خان د وخت ده. دلته هيڅ شی نه وو، د اوسنۍ ښاروالۍ په ودانيو کې دوه خونې وې، ولايت هلته و، نور هيڅ شی نه وو. دغه چې اوس ورته قصر وايي دا د سرپل بندر هغه وخت و؛ خو نورې آبادۍ نه وې. دا نقشه هغه ويستې او هغه تطبيق کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د قانون په پلي کولو کې ډېر تکړه والي و، په ټولو يې قانون يو ډول پلی کاوۀ. غلام رسول پرماچ هم دلته ښه خدمت کړی، هغه په ميمنه کې هم والي و.

روشندل خان يو آرام سړی و، هر کس يې شعبې ته آزادانه ورتللای او خپله عريضه يې وړاندې کولای سوه. هغه وخت دلته خانان وو، بايان وو، ښه خلک وو، روشندل خان له ټولو سره ښه گوزاره کړې ده. که د شبرغان له کوچني هم پوښتنه وکړې زياتره يې پېژني.))

روشندل خان تر جوزجان وروسته غزني ته د والي په توگه ولېږل شو. وايي چې هغه غزني ته ورسېد؛ نو د جُمعې ورځ وه، هغه د جُمعې لمونځ د موی مبارک په جومات کې له خلکو سره ادا کړ؛ خو جومات ډېر تنگ و؛ نو هغه تر هر څه د مخه د غزني د جوماتونو د ودانولو او پراخولو کار پيل کړ. د جمع اولياء، شلگر دروازې، شمس بابا، شهرنو، بهلول دانا، حکيم سنايي، علي لالا، سلطان محمود غزنوي او خواجه بلغار ولي د جوماتونو د رغاونې کارونه يو په بل پسې پيل شول. بيا يې د غزني د جامع جومات ډبره هم کېښوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په غزني کې د جوماتونو پر رغولو سربېره د ولسونو تر منځ هم د يوځايوالي هڅې وکړې، اختلافات يې ختم او ولسونه يې سره متحد کړل. په قومي جرگو مرکو کې به يې په خپله هم گډون کاوۀ.

له غزني څخه د ۱۳۴۳ل کال د زمري په ۱۵ مه ارزگان ولايت ته تبديل شو. د روشندل خان په دوره کې د ارزگان مرکزيت ترينکوټ ته رابدل شو. د نورو ولايتونو په څېر يې په ارزگان کې هم سرکونه وغځول، له سيندونو يې لويې ويالې رابېلې کړې، د کرنې سکتور ته يې وده ورکړه او قومي شخړې يې پای ته ورسولې.

له ارزگان څخه بدخشان ولايت ته تبديل شو. د والي په توگه يې په بدخشان کې څلور کاله دنده ترسره کړه. روشندل خان په بدخشان کې هم اخلاصمندانه او د يادونې وړ کارونه وکړل. هغه داسې ستونزمنو ځايونو ته سرکونه وغځول، چې تقريباً هلته يې غځونه ناشونې اټکل کېده. تر هغه د مخه په بدخشان کې سرکونه ډېر محدود وو او ډېرو ځايونو کې د کابل- بدخشان تر منځ سرک هم ستونزې درلودې. هغه په بدخشان کې ډېر پلونه هم جوړ کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له بدخشان څخه د ۱۳۵۰ل کال د وري په ۱۳مه نېټه یو ځل بیا غزني ته د والي په توګه ولېږل شو. په غزني کې تر یو کال تېرولو وروسته پکتیا ته تبدیل شو او څلور کاله یې د پکتیا د والي په توګه دنده تر سره کړه. تقریباً د دۀ د ماموریت په وروستیو کې شاهي نظام په جمهوري بدل شو.

تر جمهوري نظام وروسته د ډیموکراټیک نظام پر مهال د ۱۳۵۷ د غوایي پر ۳۰ مه هغه ونیول او شل میاشتې بندي کړی شو.

هغه د قوي هوډ څښتن و، د بند پر مهال یې هم قلم وچ نه شو او هلته یې په زندان کې د(بیست ماه در زندان پلچرخی) په نامه کتاب وکېښ.

روښندل خان د هېواد پر فزیکي رغاونې سربېره فرهنګي رغاونې ته هم ژمن و، د یو خدمتګار چارواکي تر څنګ یو فرهنګپال چارواکی هم و. هغه یو شمېر کتابونه هم کښلي دي. په ۱۵۴۸مخونو کې یې د خاطراتو د دفتر په نامه د خپل ژوندانه خاطرات کښلي دي، چې د افغانستان د شاوخوا یوې پېړۍ تولنې سیاسي او اقتصادي کورنۍ او بهرنۍ پېښې یې په کې خوندي کړې دي. د هغو پنځه ولایتونو (خوست، ګرشک، شبرغان، غزني او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارزگان) په نامه يې کتابونه کښلي، چې دندې يې په کې اجرا کړې وې. د پښتونستان د تاريخ او جغرافيې او د بلوچستان په اړه يې هم ځانګړي کتابونه ليکلي دي.

پر ليکوالۍ سربېره هغه د شاعرانو په کتار کې هم راځي، چې شعري ټولګې يې شته دي.

روشندل خان په ۱۳۳۹ل کې د صدراعظم محمدداؤدخان له خوا په درېيمه درجه ستاينليک نازول شوی دی. په ۱۳۴۱ل کې د شاهي فرمان پر بنسټ د ستوري درېيمه درجه نښان ورکړی شوی. په۱۳۴۱ل کې د شاهي فرمان له مخې د مينه پال درېيمه درجه نښان ورکړی شوی.

په ۱۳۴۳ل کې د شاهي فرمان پر بنسټ د کرنې نښان ورکړی شوی دی. په ۱۳۴۶ل کې د شاهي فرمان پر بنسټ د ستوري دويمه درجه نښان ورکړل شو. په ۱۳۵۵ل کې د جمهوري فرمان پر بنسټ د جمهوريت نښان ورکړی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځانګړې کارنامې:**

- د والي په توګه یې خپل ګران هېواد ته تر ټولو زیات خدمت کړی دی.
- په هر ولایت کې یې داسې خدمتونه کړي، چې تر اوسه یې لا نخښې پر ځای پاتې دي.
- د دولتي قوانینو تر څنګ په ولسي قوانینو هم ښه پوهېده او په ولسي جرګو یې ډېرې ستونزې حلولې.
- لا هماغه مهال د عامه ساعتتېرۍ او تفریح ځایونو د جوړولو پر اهمیت پوه و، ځکه یې د شبرغان د شمال لوېدیځ په اوه کیلومترۍ کې په ۴۰۰ جریبه ځمکه کې د ځنګل باغ په نامه بڼ جوړ کړ.

***

***

(c) ketabton.com: The Digital Library





خدایه څه شو هغه ښکلي ښکلي خلق
په ظاهر په باطن سپین سپېڅلي خلق

کمیني، مؤدبتیا، منورتیا، زړه سواندي، رښتینولي او خدمت یې په خټه کې اخښل شوي وو. همدا ورته د خپل بادیانته او سپېڅلي پلار څخه په میراث پاتې وو. پلار یې هم د سیمې یو مشهور روحاني او مخور شخصیت و، چې لا تر اوسه یې نوم د ډېرو سپین ږیرو پر خولو دی.

هغه له ټیټو دولتي دندو تر لوړو دولتي دندو خورا اوږد وخت هېواد او هېوادوالو ته خدمتونه وکړل؛ خو په خپله سپینه روحاني لمنه یې هیڅ ډول تور داغونه ونه لګول. دا هغه څه وو، چې دی یې د هېوادوالو په زړونو کې ځای کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا شخص **عبدالهادي خليلزی،** د مولوي فقيرالله(په صاحب الحق مشهور) زوی، د مولوي صابرالله لمسی او د مديح الله کړوسی دی.

خليلزی پر کال ۱۳۱۳ل د کونړ ولايت د څوکۍ د دېوه ګل درې د چمبېل کلي په يوه عالمه او روحانی کورنۍ کې زېږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې يې له خپل پلار او د کورنۍ له نورو غړو څخه کړي دي. په کال ۱۳۳۳ل کې د کانکور ازموينې له لارې د کابل په عربي دارالعلوم کې شامل او په۱۳۴۰ل کې ترې په عالي درجه فارغ شوی دی.

تر فراغت وروسته په کال ۱۳۴۱ل کې د مطبوعاتو د مستقل رياست د کورنيو خپرونو په لوی مديريت کې د مسلکی غړي په توګه وګومارل شو. تر يو کال ماموريت وروسته د نجات يا اوسنۍ اماني لېسې ښوونکی شو. درې نيم کاله په نوموړې لېسه کې د هېواد د بچيانو پر روزنه بوخت و، بيا يې د کونړ د اسعدآباد په عمراخان منځني ښونځي کې د ښوونکي او سرښوونکي په توګه دنده اجرا کړه. کله چې شهيد ميوندوال د خپل صدارت په وخت کې کونړ ته راغی؛ نو د عمراخان د منځني ښونځي د ترآنې ټيم د ارواښاد خليلزي له خوا ويل شوې ترانه وويله. د وخت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



صدراعظم له خوا د اروابناد خلیلزي کارونه وستایل شول او خلیلزي په غوښتنه د عمراخان منځنی ښوونځی لېسې ته لوړ کړای شو.

یو څه موده وروسته خلیلزی د نرنگ د منځني ښوونځي د آمر په توګه وګمارل شو. دا ښوونځی هم د خلیلزي په هلوځلو لېسې ته پورته شو. خلیلزی پر۱۳۴۹ل په لویه څارنوالۍ کې د څارنوال په توګه وګومارل شو. وروسته یې د چاردهي ولسوالۍ د څارنوال او بیا یې د کونړ، میدان- وردګو، لغمان، کندوز او ننګرهار ولایتونو د څارنوالۍ د رئیس په توګه دندنې ترسره کړې دي. له۱۳۶۵ـ ۱۳۶۹ل پورې یې د افغانستان د لویې څارنوالۍ د لومړي مرستیال په توګه دنده ترسره کړه. د مرستیالۍ ترڅنګ د افغانستان د اساسي قانون د شورا غړی هم و.

د ډاکټر نجیب الله د حکومت تر راپرځېدو وروسته په پېښور کې د آریانا پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استاد شو. اروابناد عبدالهادي خلیلزی په ۱۳۹۰ل کې د کابلبانک قضیې د تصفیې د مدیر په توګه د افغانستان بانک او نړیوال بانک له خوا وګومارل شو. تر ۸ میاشتو دندې وروسته د ځینې سیاسي فشارونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



له امله له دندې ګوښه کړی شو. په دې تصفیه کې د ارواښاد خلیلزي فعالیتونه د ځانګړې ستاینې وړ دي، چې ځینې یې د ۱۳۹۱ل د تلې په ۲۷ مه د یوه رپوټ په ترڅ کې د جمهوري ریاست مقام ته وړاندې کړي وو او یوه کاپي یې د خبریالانو په واک کې هم ورکړې وه.



ارواښاد خلیلزی د ارواښاد نصیرالله مومند په یادغونډه کې

د کوز کونړ ولسوالۍ یو سپین ږیری شیخ محمدحسن د خلیلزي په اړه وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library





شیخ محمد حسن له سید امرالله امېد سره د مرکې پرمهال

((د خلیلزي په ختمه کې کرم، شجاعت، مینه او پاکوالی اخښل شوي وو. د غریبانو او مظلومانو مګرتیا یې کوله او ظالم ته یې تل په بد نظر کتل. د عدالت او انصاف پر مهال یې د خپل او پردي هیڅ پروا نه ساتله. خلیلزی ځیرې پښتون، عالم، قومي مشر او جرګه مار انسان و. خبرو به یې پر خلکو ډېر اثر درلود. د چا د زور او زر تر تاثیر لاندې نه راتهٔ. د خپلوۍ په پاللو کې بې مثله و.))

عبدالهادي خلیلزي ته درې مطبوعاتي جایزې ورکړل شوي، د افتخار دوه مډالونه، د خپلواکۍ د شپېتمې کلیزې نښان او د غازی

(c) ketabton.com: The Digital Library



امان الله خان د ستوري لوړ دولتي نښان يې هم تر لاسه کړی دی. پر درېيمو درجو څلورو ستاينليکونو هم نازول شوی دی. څو ځله پر نقدي مکافاتو اخيستو هم برياليی شوی دی.

دا لومړني ښوونځي د اروابناد خليلزي په هلوځلو تأسيس شوي دي: د دېوه گل د چلس، د اسعدآباد د هډوال، د چنار، د برگمټال د آپسي، د نورگل د اربېت، د غازي آباد، شوماش، اسعدآباد او د څپري لومړي ښوونځي. لېسو ته د عمراخان او نرنگ د منځنيو ښوونځيو ارتقا هم د خليلزي د هلو ځلو محصول دی.

اروابناد خليلزي د لويې څارنوالۍ په استقلاليت، د ستاژ د کورس په تأسيس، د کريمنال تخنيک ادارې په تأسيس او د څارنوالۍ اداري او مسلکي تشکيلاتو په لوړولو کې هم د يادولو وړ هڅې کړې دي.

خليلزي د ايران، عراق، کوېټ او روسيې هېوادونو ته رسمي سفرونه کړي دي. سعودي عربستان ته يې هم د حج د فريضې ادا کولو په موخه د يوه ۲۵۰ کسيز پلاوي په ډله کې د حاجيانو د خدمت او لارښوونې لپاره د ځمکې له لارې سفر کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالهادي خليلزي تر لنډمهاله اداري وروسته د لومړي ځل لپاره د جمهوري رياست ځوکۍ لپاره ځان نوماند کړ.

خليلزی په علمي- سياسي شخصيت سربېره يو ليکوال او شاعر هم و، چې دا آثار يې چاپ او افغاني ټولنې ته وړاندې شوي دي:

۱ـ څارنوال: په دې اثر کې د څارنوالۍ تشکيلات، د څارنوال دندې او په افغانستان او نورو هېوادونو کې د څارنوال موقف په پرتليز ډول څېړل شوی دی.

۲- ښځه په اسلام کې: د دې اثر موضوعات د ښځو په شرعي حقوقو راڅرخي او هره موضوع يې په قرآني آيتونو او نبوي احاديثو روښانه شوې ده.

۳- پوډريان او زموږ مسووليتونه: په دې اثر کې د نېشې په لاملونو، زيانونو او د مخنيوي په لارو چارو يې ښه څېړنه شوې ده.

۴- قرآن حکيم او نني پرمختگونه: په دې اثر کې اوسمهاله پرمختگونه په قرآني آيتونو کې څېړل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵- په افغانستان کې حقوقي نظام ته یو لنډه کتنه: په دې اثر کې د نورمحمد تره کي له حکومت څخه د برهان الدین رباني تر حکومت پورې په حقوقي نظام کې پر تغییراتو بحث شوی دی.

۶- په افغانستان کې بهرنۍ لاسوهنې: په دې اثر کې د امیر امان الله خان له واکمنۍ څخه د حامد کرزي تر واکمنۍ پورې سیاسي مسایل تحلیل شوي او د بهرنیو هېوادونو لاسوهنې یې څېړلې دي.

۷ـ د خلیلو قبیله: په دې کتاب کې یې د خلیل قبیلې شجره په منظم او مسلسل ډول راوړې ده.

۸- نجم الاولیاء: دا د محمدګلاب ننګرهاري او اروابناد خلیلزي ګډ اثر دی، چې منځپانګه یې د نجم الدین اخونزاده پر ژوندانه او جهادي هڅو راڅرخي.

۹- د افغانستان د لومړیو ولسمشریزو ټاکنو بهیر: په دې اثر کې لیکوال د وروستي ټاکنیز بهیر نیمګړتیاوې په ګوته کړې دي.

۱۰- صاحب الحق ( مثنوي): په دې منظوم اثر کې خلیلزي د خپل پلار فقیرالله (صاحب الحق) ژوند او اصلاحی هڅې په نظم کې بیان کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زړۀ داغونـه مـې کـم نـۀ دي د يعقـوب د زړۀ نـه
هغه ورک کړی و خپل زوی زما نه پلار ورک شـو

۱۱- ځولۍ: دا د ارواښاد خليلزي شعري ټولګه ده. خليلزی په شعر و شاعرۍ کې ځان د ننګرهار د چپرهار د للمې د غلام رحمان (جرار) شاګرد بولي.

۱۲- حضرت انسان ۱۳ـ په اسلامي قانون کې د اعدام شرايط ۱۴ـ يادونه ۱۵ـ غزل ۱۶ـ ګلپاڼې ۱۷ـ وطن۱۸ او ارمان يې نور آثار دي.

د ارواښاد خليلزی ځينې ناچاپ آثار هم لري، چې دا دي:

۱ـ اسلامي لارښوونې ۲ـ د اسلام حقوقي بنيادونه۳ـ اخلاق۴ـ د خود اراديت حق (خپلواکي)۵ـ جهاد او هجرت ۶ـ هندوستان ۷ـ باجوړ ۸ـ د ميينو راز (شعري غونډ)۹ـ پاربدلی احساس( شعري غونډ) ۱۰ـ يهوديت او نصرانيت په قرآن کې ۱۱ـ د شپې يادونه (د کيسو مجموعه) ۱۲ـ ليلی مجنون (مثنوی) ۱۳ـ زما ژوند ليک او ۱۴ـ ترمې اوښکې (شعري غونډ).

دا هم د ارواښاد خليلزي د نثر يوه بېلګه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د علامه مولانا کاموي علمي مقام**

په پښتو کې یوه لنډۍ ده، چې وایي:

ستا د ښایست گلونه ډېر دي
ځولۍ مې تنگه زه به کوم کوم ټولومه

هر کور، هره سیمه، هر قوم او هره قبیله ځانگړې ویاړونه او یادونه لري او راتلونکي نسلونه ورباندې فخر کوي، یاد یې تازه ساتي او حساب ورباندې کوي او دا د هر چا حق دی. بې له شکه زموږ په گران هېواد افغانستان کې د لوی ننگرهار په باب هم خاص امتیازات وجود لري او ویاړونه یې له چا پټ نه دي.

د سکندر غاښونه په اسمار کې وتلي دي، چې د کونړ په ولایت کې یوه ولسوالي ده، برابېږن د ننگرهار د ولایت په لاره په طورخم باندې په یو نېکر کې وتلی، مغلو په همدې لاره کې ماتې خوړلې ده. روسانو د کونړ په ولایت کې سر خوړلی دی او داسې نورې ډېرې ورې غټې شته، چې پرې ویاړو.

زموږ د لوی ننگرهار په ولایت کې که کونړ په خاص ډول د سیدجمال الدین افغان ټاټوبی دی، خو د کامې ولسوالي که له یوې خوا زرخیزه او حاصل خیزه ده؛ نو په خاص ډول د دیني علماءو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرکز هم دی، ځکه چې ډېر جید علماء په کې تېر شوي دي، چې په مجموع کې د لوی ننگرهار لپاره ویاړ دی او خلک وربانديي نازېږي. که زه په هر یوه باندې څه وایم نو بې له شکه او مبالغې چې حق به یې ادا نه شم کړای، ځکه چې زه اوس پوره روغتیا نه لرم او له بله پلوه په تفصیلي توگه د دغې سیمې د علماءو په باب کافي معلومات راغونډول ضروري دي، چې دا دواړه عوامل د دې سبب دي، چې په ځانگړې توگه یې په دې لنډ تنگ وخت کې د بري تر لاسه کول ناشونی کار گڼم؛ نو ځکه خو یوازې په دې لیکنه کې د مرحوم علامه مولانا غلام نبي کاموي رحمة الله علیه په باب یو څه لیکل وکړم. خدای دې له ما سره مرسته وکړي، چې په نسبي ډول مې د دوی حق ادا کړی وي.

ارواښاد عبدالهادي خلیلزی د وریښې ناروغۍ له امله د ۱۳۹۴ل کال د چنگاښ پر شلمه د روژې د مبارکې میاشت په ۲۴ مه نېټه د پېښور په یوه روغتون کې له دې نړۍ سترگې پټې کړې او د کونړ د څوکۍ ولسوالۍ په فقیرکوټ کې د جلال آباد- اسعدآباد د عمومي سړک تر څنگ په خپله پلرنۍ هدیره کې خاورو ته وسپارل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- امین، دیانتدار، مؤدب او سپېڅلی افغان و.
- د حق په ویلو کې یې د هیچا پروا نه کوله، خپل پردی او مقام نامقام ورته په دې ډګر کې یو ډول وو.
- اوږد وخت یې د پوهنې په ډګر کې هېوادوالو ته صادقانه خدمتونه وکړل.
- که ځارنوال و؛ نو تر څنګ یې ښه لیکوال، شاعر او ادیب او فرهنګپال شخص هم و.

***

***

(c) ketabton.com: The Digital Library





که له زلمونه پوره نه شوه
گرانه وطنه جینکۍ به دې ساتینه

یوازې اوسمهال نه ده، چې دلته او هلته د ژوندانه او هېوادني خدمت په هر ډگر کې د ټولنې د مهربانه پوړ استازې تر سترگو کېږي؛ بلکې له ډېر پخوا راهیسې دې مهربانه او زړه سواندي پوړ له ښوونکیتابه تر نوابیو او پاچاهیو پورې درنې درنې او له مسوولیته ډکې دندې ترسره او د هېواد او هېوادوالو د خدمتونو ویاړمنې جوغې ورپه سر شوې دي. دا پوړ په ټولنه کې ډېر مهم او ډېر حساس دریځ لري. په هره ټولنه کې باید دا پوړ وپالل شي، مرسته او ملگرتیا یې وشي، حقونه یې ورکړل شي او نظریاتو ته یې په درنښت وکتل شي؛ ځکه د بشري تاریخ په اوږدو کې همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوړ په خپله نرمه غېږه کې پیغمبران، امپراتوران، واکمنان، نوابغ، عالمان او د ټولنې هر پوړ روزلی دی. ښځینه پوړ ته که د روزنیز بهیر د مخکښ ویاړ ورپه برخه دی؛ نو غوره او سالمې مشاورې هم پاتې شوې دي. ښې معقولې او ګټورې مشورې یې هم ورکړې او مشورو یې رغنده او سالمه ګټه هم درلودلې ده.

په افغاني ټولنه کې تر اوسه دې پوړ ته هغسې پام نه دی شوی، لکه چې لازمه ده؛ خو له نېکه مرغه چې ښځې له پامه هم نه دی غورځول شوی. ځینو خو یې په خپل همت او مېړانه د هېوادني خدمت په بېلابېلو ډګرونو کې ځانونه داسې راځلولي چې هېواد او هېوادوال به پرې تل ویاړي. زموږ په ټولنه کې ځینې داسې ښځې هم شته چې د کورنیو چارو د سمبالښت تر څنګ یې په مهمو دولتي څوکیو هم کار کړی دی.

**جنرال خاټول** هم له دغو ښځمنو څخه یوه ده، چې د افغانستان د هوایي ځواکونو د پراشوټ په برخه کې د کار اوږده مخینه لري.

جنرال خاټول د رواني لمریزې پېړۍ د درېیمې لسیزې په وروستیو کې د کابل په زاړه ښار کې د سردار محمدعثمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمدزي کره نړۍ ته سترګې غړولي دي. لومړنۍ زده کړې یې په مستوره غوري او بي بي حليمه کې بشپړې او بیا په ۱۳۵۸ل کې د کابل له آریانا لیسې څخه فارغه شوې ده. بیا د حقوقو او سیاسي علومو په پوهنځي کې شامله شوه؛ خو دا پوهنځی یې همداسې په نیمه کې پرېښود او له خپلې لېوالتیا او خوښې سره سم یې د هوایي ځواکونو په پراشوټو کې د لسانس تر کچې زده کړې وکړې.

خاټول وايي: زه یوه ورزشکاره وم او په هغه وخت کې نورو مسلکونو زما دا تنده نه شوه خړوبولای؛ نو زما لپاره ښه مسلک همدا و.

خاټول په همدې ځانګه کې د ماسترۍ ډیپلوم هم تر لاسه کړی او په ۱۳۶۳ل کې یې د افغانستان په پوځ کې د پراشوټ په برخه کې پر کار پیل کړی دی. جنرال خاټول وايي:

په دې لاره کې مې ډېر کړاوونه ګاللي دي؛ خو ډېره بده خاطره مې داده چې د ډاکټر نجیب الله په دوره کې یوه ورځ زما پراشوټ چا قصداً جر کړی و، نه پوهېږم چې ولې خو که رقابت هم وي باید رقابت اخلاقي بڼه ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يوې مور په توګه وياړم، چې لږ تر لږه خو مې د خپل هېواد لپاره د يو پوځي شخص په توګه خدمت کړی دی؛ خو په دې دندې کې مې له خپلې مور سره ډېر ظلم کړی؛ ځکه کله چې به ما په پراشوټي تمرين کې ځان راغورځاوه، نو مور به مې بيمارو (بي بي مهرو) يا بلې تپي ته ختله چې ما وګوري چېرته رالوېږم او ژوندی پاتې کېږم که نه.

خاتول وايي: زما مور هم تعليميافته وه او کورنۍ مې هم ډېره روښانفکره وه؛ نو زما په روزلو او هڅولو کې مې د مور او کورنۍ ډېره ونډه وه.

خاتول وايي: زه نه غواړم ووايم چې د کوم ځای يم، ځکه پښتنه يم، افغانه يم، مسلمانه يم؛ نو دا کفايت کوي او هر چېرته چې يم، د هماغه ځای يم، افغانستان ګرده زما کور دی. زه پر خپله ژبه، پر خپل قوم، پر خپل ملي لباس او کولتور ډېر وياړم. په ملي لباس کې څو ځله په پراشوټ کې هم را کوزه شوې يم.

خاتول له خپل مسلک سره زښته زياته مينه لري او په دې برخه کې يې ځان ان تر نړيوالو سياليو رسولی دی، هغه وايي: په لسګونو مډالونه مې تر لاسه کړي دي او له نړيوالو اتلانو سره مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم دوستانه سیالۍ ترسره کړې. په لسګونو ستاینلیکونه او کپونه هم راکړی شوي دي.

جنرال خاتول په ۱۳۸۴ل کې د نړۍ د اتلې ښځې لقب هم ګټلی دی.

دا پوځي مېرمن له ټولو افغان ښځمنو غواړي، چې یوازې د کور چارو په سمبالښت بسنه ونه کړي، بلکې تر کور بهر د خپلو ورونو په څېر کار وکړي او ترڅنګ یې د خپلو کوچنیانو روزنې ته کلکه پاملرنه وکړي.

جنرال خاتول وایي:

د ګران هېواد راتلونکې به د همدغه پوړ په لاس کې وي او که خدای مه کړه سم ونه روزل شي؛ نو د هغه مهال افغانان به هم د جهل او ناسمې روزنې له امله زموږ په څېر په کړاونو او ناورینونو کې ښکېل وي.

خاتول د علم او پوهې او په ټوله کې د ترقۍ لوړ پوړ ته د نرینه و رسېدل هم د ښځمنو له برکته بولي، په دې اړه یې په ځانګړي دفتر کې دا لوړپیغامه شعار ځړېدلی دی:

مرد از دامن زن به معراج میرسد

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاټول یوه مدبره او د وخت له روا غوښتنو سره ځان عیاروونکې مېرمن ده. هغه د طالبانو پر مهال د نورو افغان ښځمنو په څېر پر سکوی او خیاطۍ بوخته وه؛ خو کله چې ورته بیا د خپلې مسلکي دندې لاره هواره شوه؛ نو بیا د افغانستان له اتل پوځ سره مله او تر اوسه پورې د هېواد پر ژغورنه او ساتنه بوخته ده.

جنرال خاټول وایي: کله چې له الوتکې په پراشوټ کې ځان راغورځوم؛ نو له یوه ځانګړي حالت سره مخامخېږم، ډېر خوند ترې اخلم او داسې محسوسوم لکه په اوبو کې چې لامبو وهم؛ خو ځمکې ته له رارسېدو د مخه ډېره ځیر اوسم او ټول حواس مې د بدن په تعادل ساتلو بوختوم، هسې نه چې کوم هډ مې مات شي.

د جنرال خاټول د شخصیت له یو بل اړخ سره زیاتره هېوادوال نااشنا دي؛ جنرال خاټول شاعره هم ده، ځینې شعرونه یې ورسره خوندي دي؛ خو ځینې یې بیا د پوځي بوخت ژوند له امله ورک کړي او یا یې د دې ډګر پاللو ډېر وخت نه دی موندلی.

خاټول د شعر پر هنر سربېره د یو بل هنر څښتنه هم ده. ځاني خطاطه هم ده او تر څه بریده میناتوره هم. لاندینی شعر چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ځانګړي وخت او حالت انځورنه په کې شوې ده؛ دا یې خپل دی، خو نه غواړي، چې د هغه حالت او ځای په اړه څه ووایي.




د پورتني شعر میناتوري او خطاطي یې د خپلو نریو؛ خو ځواکمنو ګوتو محصول دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځانګړې کارنامې:**

- د افغان کماندويي هوايي ځواکونو لومړۍ افسره ده.
- د افغان کماندويي هوايي ځواکونو لومړنۍ جنراله ده.
- زيارکښه او پر هېواد مېينه جنراله ده.

***

***

(c) ketabton.com: The Digital Library





افغانستان خورا ښه استعدادونه او شخصیتونه درلودل او لا لري يې؛ له بدمرغه چې نه ترې پخوا سمه او مناسبه ګټه واخيستل شوه او نه ورته اوس هغسې پاملرنه او لار هوارونه کېږي، چې بايد ورته وشي. ډېر داسې انګېري، چې افغانانو په وروستيو بدمرغيو کې ملتپالنه او وطندوستي بايللې ده؛ خو لا هم داسې مړونه شته چې هېوادنۍ مينه يې په رګونو کې غورځنګونه وهي. د خپل هېواد خړې دښتې او مېرې ورته د جنت باغونه ايسي او د نورو اساطيري ډوله ښارونه ترې هېروي. له همدغسې شخصيتونو څخه يو هم **حميد هلمندی** دی.

حميد هلمندی د عبدالاحدخان زوی او د اخترمحمد لمسی دی، چې له آره د هلمند د ناوې له بارکزيو څخه دی؛ خو هلمندی وايي، چې زه د ټول افغانستان يم، ټول افغانستان زما کور او وطن دی؛ دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د نیکه پلار مې له هلمنده کندهار ته له محمدایوب خان غازي سره راغلي و، چې په میوند کې یې انګریزانو ته ماتې ورکړه، له هماغه وخته په کندهار کې استوګن شو او نیکه مې په کندهار کې زېږېدلی؛ خو تر اوسه لا په کندهار کې په هلمندیو یادېږو؛ نو ځکه زه هم هلمندی تخلص کوم.

هلمندي لومړنۍ زده کړې د کندهار په مشرقي لېسه کې ترسره کړي او بیا د کندهار له احمدشاه بابا لېسې څخه فارغ شوی دی. لسانس یې په۱۹۷۹م کې د هندوستان له ډهلي سکول اف ایکنامیکس Delhi School of Economics څخه اخیستی دی. ماسټري یې هم له همدغه ځایه په بزنس منجمنټ کې ترلاسه کړې ده. بیا یې په امریکا کې د ښار جوړولو په څانګه کې زده کړې کړي دي او هلته یې د کلفورنیا په Simi Valley of California ښار کې کورونه جوړ کړي دي؛ نو ځکه خو یې د ښار جوړولو په ډګر کې زیاتې تجربې تر لاسه کړې دي. ده دا مینه او هیله درلوده که یو وخت ده ته لاره هوارېږي؛ نو دی به خپلې تجربې په خپل هېواد افغانستان کې تطبیقوي او هماغه لاره ورته هواره شوه، چې په پایله کې یې عینو مېنه رامنځ ته او هېواد پرې ښکلی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





عینو زموږ د هېواد یوه ننګیالۍ مېرمن وه، وایي چې یو مهال احمدشاه بابا د هندوستان په یوه سفر ووت، د عینو مېړه هم په هغو عسکرو کې و، چې له احمدشاه بابا سره تلل. احمدشاه بابا له سفره بېرته بریالی راوګرځېد. لښکر چې یې کندهار ته رانږدې شو، شپه رادبره شوه. هغه امر وکړ چې همدلته شپه تېره کړي او سبا د ورځې په ښه شان او شوکت ښار ته ننوځي. د مېرمن عینو مېړه د شپې له خوا له نور لښکر څخه پټ خپل کور ته لاړ، د کور دروازه یې وټکوله. مېرمن عینو دروازې ته ورغله، ویې پوښتل: څوک یاست؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپاهي ځان ورو پېژانده، هغې بیا وپوښتېده: څنګه راغلې؟ احمدشاه بابا څه سو؟ لښکر مو بریالی سو؟

مېړه یې وویل: که مو لښکر بریالی سوی نه وای؛ نو زه به هم تا ته ژوندی راغلی نه وای، د پښتنو لویه سوبه په برخه ده...

عینو بیا پوښتنه وکړه: نو تاسو ولې یوازې راغلي یاست؟ نور لښکر څه سو؟

مېړه یې ورته وویل: د بابا په امر لښکر ښار ته نږدې پروت دی، چې سبا د ورځې په رڼا کښې ښار ته ننوځي. زه ستا مینې ناکرار کړم او تر هغو د مخه راغلم، اوس ژر دروازه رابېرته کړه چې سره ووینو...

عینو ورته وویل: ته تر چا نازولی وې؟ چې ملګري دې پرېښوول او د بابا د امر پر خلاف راد مخه سوې، ما ته راغلې! آیا ستا نورو ملګرو ښځې نه درلودې؟ او که په سینو کې یې زړونه نه وو؟

دا ټول وو، خو هغو نه غوښتل د بابا د امر مخالفت وکړي...

مېرمن عینو ورته کړه: که سبا نورې پښتنې مېرمنې خبرې شي، ما ته به څه وايي؟! دا ډېر لوی پېغور دی، هیڅکله تا ته دروازه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېرته کوم، څه بېرته لاړ سه! تر هغه زما لیدل پر تا حرام دي، چې بېرته لاړ نه شې او سبا د احمدشاه بابا تر بېرغ لاندې له خپلو نورو ملګرو سره یو ځای را نه سې.

مېره د خپلې ننګیالۍ مېرمنې له پېغوره وشرمېده، بېرته لاړ خو خېمې ته نږدې څوکیدارانو ونیوه او سبا ته یې د احمدشاه بابا مخې ته وروست. څوکیدارانو عرض وکړ چې دا سپاهي له اجازې پرته د شپې کور ته تللی و.

احمدشاه بابا پوښتنه ځنې وکړه، سپاهي چې څه لیدلي او اورېدلي وو، ټول یې احمدشاه بابا ته وویل.

بابا د هغې مېرمنې پر پښتنواله او افغاني احساس باندې شاباسی ووایه. د هغې په درناوي یې د دې عسکر ګناه هم ورووبخښله، مېرمن عینو ته یې یو کارېز ورووباخښه چې تر اوسه د" عینو کارېز" په نامه مشهور دی. دا کارېز د کندهار ښار ختیځ ته د یو پړاو په واټن لیرې پروت دی.

نو شته دي، د هلمندي په څېر مېړني، چې د مېرمن عینو نوم ته یې نړیوال شهرت او تلپاتې بنه ورووبخښله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عينو مينې ښارګوټي، چې د افغانستان په نورو ولايتونو او ان سيمه کې يې سارى نه ليدل کېږي، د نړۍ د نورو پرمختللو هيوادونو د ښار جوړونې په ستنډرډ او معيارونو برابر ښارګوټى دى. که څوک د عينو مينې ښار ته لاړ شي نو هيڅ فکر نه شي کولاى، چې موږ دې په افغانستان کې داسې ښارګوټي ولرو. اوس سمدلاسه انسان ته دا فکر پيدا کېږي چې د دې ښارجوړونې تر شا هرو مرو د وطن يو فکر او يوه مينه شته دى او يو چا د دې ښار مفکوره له يو ځاى نه دلته راوړې ده.

د عينو مينې ښارګوټي چې د ښار جوړونې ټول نورمونه لکه د ژوندانه چاپېريال، کاناليزيسون، تفريحي ځايونه، ښکلي سړکونه، د غريبو، متوسطو او شتمنو کسانو لپاره بېلابېل استوګنيز کورونه يې په کې د افغانستان له شرايطو سره برابر په نظر کې نيولي دي؛ ښوونځي، روغتون، کلينيکونه، تجارتي ساحې، سوداګريز مرکزونه، د فضله موادو زېرمې، ډېر ښه امنيتي تدابير، د ځوانانو لپاره سپورتي او تفريحي کلپونه، ښکلي مېلمستونونه، هوټلونه، د هند د انډياګېټ په څېر ښکلې دروازه او داسې نورې اسانتياوې په کې هم په پام کې نيول شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د عینو مینې ښارګوټی، یوازې فزیکي پرمختیا نه ده بلکې دلته د یو فکري تحول لپاره لاره هواره شوې ده، چې هره ورځ په زرهاو ځوانان او کورنۍ دا ښارګوټی ګوري. کورنۍ له خپلو ماشومانو سره په امن او ډاډمنه فضا کې ګرځي او د یو ښاري کلتور تربیه زده کوي.

د عینو مینې ښارګوټی د افغانستان نورو سیمو ته د ښار جوړونې یو ډېر ښه ماډل کېدای شي؛ خو د مادي ستونزو ترڅنګ د افغانستان بیروکراسي او د افغانانو زیاتره منفي لرلید تل د دې وسیله ګرځي چې په افغانستان کې د دا ډول پرمختللیو پروژو مخه ونیول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغې پروژې کار ځنګه پیل شو او تر اوسه يې کوم کارونه سرته رسېدلي دي، موږ د دغې پروژې له اصلي طراح، حميد "هلمندي" سره ږغېږو، چې د دې پروژې په پلي کولو کې يې ډېرې ستونزې ګاللي دي.

هلمندی وايي:

((کله چې موږ په ۲۰۰۲م کې کندهار ته راغلو، د کندهار په ښار کې ډېر زيات درملتونونه وو. که مبالغه ونه شي؛ نو د هرو لسو کسو په سر يو درملتون موجود و.



موږ متوجه شو، چې وقايوي طب ته هيڅ توجه نشته او هم د کندهار سهيل خوا ته شنې ساحې ورځ تر بلې له منځه ځی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک پرې کورونه جوړوي؛ خو د کندهار ښار شمالي سیمه چې ډاګونه وو هسې بې استعماله پاتې وه. په دغه وخت کې محمود کرزي او ما غوښتل، چې د کندهار په ښار کې یو روغتون جوړ کړو. هغه بهرنی ټیم، چې له موږ سره راغلی و، هغه بهرنیان هم مریضان شول؛ نو موږ ته یې وویل، ښه به دا وي چې په وقایوي طب باندې کار وکړو نه په معالجوي طب باندې. ځکه مخکې له دې چې خلک مریضان شي باید د مریضۍ مخه ونیول شي.



ښاغلی هلمندی له شاه محمود میاخېل سره د مرکې پرمهال

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ورته وویل چې ښرنگه زه په ښارجوړونې کې تجربه لرم؛ نو په ښار جوړونې باید فکر وشي. په همدې ورځ د کندهار د ښاروالۍ یو انجینر چې کریم نومېده موږ ته یې وویل چې د داؤدخان په وخت د استرالیایانو په مرسته د کندهار لپاره یو ماسټرپلان جوړ شوی و او د ښار په شمال کې ځمکه د ښار د پراخوالي لپاره ځانگړې شوې وه، چې دغه سیمه د E زون په نامه یادېده. د سرک شمالي برخه استوگنیزه سیمه وه او سوېلي برخه یې د صنعتي پارک لپاره وه، چې شنه ساحه به له منځه نه ځي.

د کندهار والي گل اغا شېرزي په هماغه ماښام موږ مېلمانه کړي وو. موږ ورته د ښار د پراختیا په اړه معلومات ورکړل او هغه هم زموږ د دې پلان ملاتړ وکړ، چې کندهار ولایت باید ښاروالۍ ته صلاحیت ورکړي. وروسته د کندهار والي دا مسأله له مرکزي حکومت سره مطرح کړه او هغوی هم دا تایید کړه؛ خو دا پرېکړه یې وکړه چې د دې ښار جوړونه دې داوطلبۍ ته ورکړي او د ابادۍ پیسې دې د ځمکې د خرڅلاو له لارې لاسته راوړل شي. په هغه وخت کې زیاتې کمپنۍ نه وې، په داوطلبۍ کې زیاتره سیمه ییزو کمپنو تر درېو میاشتو پورې برخه واخیستله. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پروژې داوطلبي د "افکو" په نامه یوې کمپنۍ وګټله. موږ بیا د امریکا له مشهورې کمپني د Bowman Construction Company سره تماس ونیوه، چې په ښار جوړولو کې یې مهارت درلود. هلته یوې افغانې انجینرې " سهیلا" هم کار کاوۀ، له دې کمپنۍ سره مو قرارداد وکړ، چې د دوی لپاره د عینو مینې د ښار نقشه جوړه کړي. موږ ورته له دې ځایه معلومات او ډېټا (Data) لکه د سیمې توپوګرافي، د خاورې خاصیت، د ونو د ډولونو، د خلکو د اړتیاو او کولتور په اړه او GPS کواردینات برابرول. زیات وخت دوی په دې پلان کار وکړ، چې بالاخره په نهه میاشتو کې یې د عینو مېنې ماسټرپلان او بزنس پلان جوړ کړ.

همدارنګه موږ په کلفورنیا کې له یوه وړوکي بانک سره چې د OPEC په نامه یادېده د دریو میلیونو ډالرو لاین اف کریډټ یا د پور اخیستلو موافقه وکړه او له ما څخه یې د یو بل امریکایي ملګري په شمول، چې John Howell نومېده ضمانت واخیست؛ خو موږ یوازې ۱،۴ میلیونه ډالره له بانک نه پور واخیست او افغانستان ته مو راانتقال کړ. د نور پور اخیستلو اړتیا پیدا نه شوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه موږ دلته وکړای شول، چې د عینو مېني د ځمکې له خرڅلاو نه عاید ترلاسه او د عینو مېني ماسټر پلان تطبیق کړو.))

حمید هلمندی وايي:

(( چې هغه وخت د افغانستان حالات د داسې غټو پروژو د تطبیق لپاره برابر نه وو؛ نو موږ له زیاتو سیاسي او سیمه ییزو ستونزو سره مخامخ شو. لازم تعمیراتي مواد او مجرب کاریګر لکه ترکاڼ، بناء، رنګمال، پایپکار، انجینر او داسې نور هم نه وو، چې موږ د هغوی په واسطه دا ماسټر پلان تطبیق کړی وای؛ نو د یوه مېخ لپاره به مو هم پاکستان او نورو سیمو ته سفرونه کول، چې تعمیراتي مواد پیدا او کندهار ته یې راوړو.))

حمید هلمندی وايي:

زه یو وخت په کندهار کې له پښتنو سره څو ځلې کښېناستم چې یوه ګول ګیلماله جوړه کړي؛ خو هغه ونه شو کړای چې هغسې ګیلماله جوړه کړي؛ نو اړ شو چې هغسې ګیلماله له امریکا نه راوړي. په دې توګه زما ډېره انرژي لګېده، چې نور ځنګه تربیه کړم او موږ باتجربه کارګر ولرو. زه اړ وم چې هره ورځ کارګرو ته پلان جوړ کړم او بیا یې څارنه وکړم چې دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل پلان سم تطبیقوي که نه؟ ډېر زیات کار او نظارت ته اړتیا وه، ځکه په هغه وخت کې هیڅ نه وو او فني ظرفیت ډېر ټیټ و.

حمید هلمندی وایي:

چې پخوا له موږ سره تقریباً زرو کسو پاکستانیانو او ایرانیانو کار کاوۀ؛ خو اوس له موږ سره یوازې څلور کسه بهرنیان کار کوي او نور ټول کارگر افغانان دي.

دا به د افغانستان خلکو ته ډېره عجیبه ښکاري، چې د ښار ښه ډیزاین پر امنیت باندې خاص تاثیر لري. د عینو مېنه په همدې معیار جوړه شوې ده، که څه هم په سل گونو کسان له بهر نه د ښار لیدو ته راځي او یا دلته مېلې جوړوي او چکرې وهي؛ خو د عینو مېنې د ښار امنیت په اسانۍ سره خوندي وي.

عینو مېنه تر شل زره جرېبو زیاته ځمکه لري، چې پنځلس شپاړس زره جرېبه ځمکه یې د کورونو او بلډینگونو جوړولو لپاره ځانگړې شوې او نوره یې سړکونو، شنې ساحې او تفرېحي پارکونو ته ځانگړې شوې ده. که موږ لوړېوړې ودانۍ جوړې کړو؛ نو د عینو مینې ښار د دېرش زره کورونو جوړونې ظرفیت هم لري. اوس تقریباً پنځه زره کورونه هلته جوړ شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلمندی وايي چې د افغانستان د نورو ښاروونو ښاروالان او انجينران بايد دا سيمه له نږدې وگوري او هغه تجربې چې دوی دلته په کاميابه توگه تطبيق کړي دي، په خپلو سيمو کې تطبيق کړي. د بېلگې په توگه دوی يو جوړ شوی کور په شپږ زره امريکايي ډالرو له ځمکې سره غريبو کورنيو ته ورکړی دی. دا په خپله د دغو کورنيو د ماشومانو په روزنه هم تاثير لري، چې په يوه ښه سيمه کې لوی شي او د دغې سيمې له پرمختگ نه ښه روحيه واخلي.

په عينو مېنه کې اوس اته ښوونځي شته او نور هم په پلان کې دي. شخصي ښوونځي هم په کې شته او دولتي هم. د ملالۍ په نامه پوهنتون په کې شته، افغان ترک لېسه هم په کې ده. د افغان ترک د ښځو ښوونځی هم په کې فعال دی، چې په ټول افغانستان کې ساری نه لري. همدا رنگه د افغان امريکايي پوهنتون لپاره هم ځای جلا شوی دی. د عينو مېنې د ښار ترڅنگ د کندهار پوهنتون د وسعت لپاره هم ۱۴۰۰ جريبه ساحه لري، چې دا اوس يې په کې څه کار هم پيل کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حمید هلمندی وايي دومره نجونې چې د عینو مېنې په ښارګوټي کې ښوونځیو ته ځي که مبالغه ونه شي نو هومره د ټول کندهار نورو مکتبونو ته نه ځي.

ښاغلي هلمندی وايي چې د عینو مېنې په ساحه کې د اوبو تحفظ ته ځانګړې پاملرنه شوې، چې څنګه د باران اوبه راوګرځوي، تر ځمکې لاندې یې زېرمه او پاکې یې وساتي. په دې اړه د افغانستان په نورو ښارونو کې هیڅ پاملرنه نه ده شوې او نه د افغانستان په نورو ښارونو کې د Hydrostatic ټیسټ رواج لري، چې د اوبو د جاذبې د قوت یا Gravity ټیسټ وکړي او له انرژۍ لکه برق او ماشین پرته له اوبو څخه ګټه واخستل شي. موږ د عینو مېني ټولي ونې د همدې سیستم په ذریعه خړوبوو. که څه هم پر دې سیستم په لومړي سرکې یو څه لګښت شوی، چې زېرمه تونونه او د تصفیې سیستم مو جوړ کړی؛ خو وروسته دا کار لګښت نه لري او دوامداره بڼه لري چې ونې خړوبې کړي.

هلمندی وايي چې په افغانستان کې تل د انرژي د زیاتوالي لپاره غوښتنه ډېره ده؛ خو هیڅوک کار نه کوي چې د انرژۍ د استعمال غوښتنه راکمه کړي. دی وايي که تاسې عینو مېني ته وګورئ نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ ټولې ونې د ختیځ او لوېدیځ په امتداد کښېنولې دي، ځکه بادونه تل له جنوب څخه رالوځي او په دې توګه موږ د عینو مېنې په ښارګوټی کې د زیاتې تودوخې مخه نیولې ده. دا د دې معنی لري چې د زیاتې انرژۍ د لګښت مخه مو هم نیولې ده. که دا ونې نه وي ښایي یو کور لس ساعته ایرکنډېشن ته اړتیا ولري؛ خو د دغو ونو په کښېنولو سره دوی پنځه ساعته ایرکنډیشن ته اړتیا لري چې دا ډول ساده کارونه د انرژۍ په سپما کې ډېره ګټه لري.

همدا رنګه  هغه وایي چې د کورونو په ډیزاین کې هم هڅه شوې ده چې د زیاتي انرژۍ د لګښت مخه ونیسي.

دی وایي: دا نهایت ظلم او جنایت دی چې د کورونو د کموډونو او تشنابونو اوبه څوک د باران له اوبو سره ګډې کړي. موږ دغه اوبه د پورته سیستم په ذریعه تصفیه کوو او د هغو په واسطه بېرته ونې خړوبوو. همدا رنګه د دۀ په وینا د دنیا په مډرنو ښارونو کې دا نه شته چې د سرکونو په غاړه دې لښتي وي ځکه دا لښتي ډکېږي او تشول یې ګران کار دی. خلک یې لښتي ته ورغورځوي او ښاروالي یې ترې بېرته راغورځوي چې دا کار همداسې دوام مومي؛ نو د دې لپاره بله چاره هم شته چې تاسو یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



عملاً په عينو مېنه کې ليدلای شئ. هلته سرکونه څنډو ته هيڅ لښتي نه لري. که د عينو مېني ښارګوټي کې هر څومره باران وشي؛ نو هيڅ اوبه نه ضايع کېږي او ټولې اوبه په خپله د ځمکې له خوا جذبېږي او د هيچا لپاره مزاحمت نه کوي، ځکه موږ د سرکونو ترځنګ لښتي نه لرو او د ځمکې لاندې مو د باران د اوبو لپاره پايپونه غځولي دي.

حميد هلمندی وايي چې د افغانستان ښارونه ډېر لګښت والا جوړ شوي دي او د ښار جوړوني نورمونه يې هيڅ په پام کې نه دي نيولي. دی وايي چې د کابل ښار د اوبو سيستم ډېر خراب دی. موږ غواړو په عينو مينه کې داسي پايپونه ولګوو چې ونو ته هوا ورکړي، چې بدبويه امونيا له منځه يوسي او په نايټرېټ يې بدل کړي. د زراعت لپاره همدا اوبه ډېرې ښې دي. د دې لپاره موږ د پايپونو جوړولو فابريکه جوړه کړې ده.

موږ تر اوسه د عينو مېنې په ښار کې تقريباً درې سوه کيلومتره سرکونه پاخه کړي دي او تقريباً درې سوه کيلومتره نور سرکونه پخولو ته اړتيا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلي هلمندي له ښار جوړونې پرته په نورو ډګرونو کې هم کار کړی دی. دی ښه پوهه او پراخه تجربه لري او ورسره يې متمدنه نړۍ هم ښه مطالعه کړې ده. هلمندی وايي کله چې زه په لومړي سر کې افغانستان ته راغلم؛ نو د کندهار د انګورو بڼونه ډېر خراب وو، زياتره يې چپه شوي وو، له کرغېړنو جنګونو وروسته وچکاليو هم خورا سخت ځپلي وو او هيڅ صادرات يې نه درلودل. ما په دې برخه کې په کار پيل وکړ، شپاړس ډوله د انګورو تاکونه مې له امريکې نه راوړل، چې پوست يې سخت و او د ساتلو ښه وړتيا او مقاومت يې درلود. هغو ته مې رشد ورکړ، چې اوس يې هم شپږ اوه ډوله مروج دي. دا د دې لپاره چې د نورو هېوادونو لکه چيلي، برازيل او امريکا له انګورو سره د دوبۍ په مارکېټ کې رقابت وکړی شي.

زما تر کار د مخه په کندهار کې بڼونه يوازې د انګورو د توليد لپاره وو، د حيواناتو واښه او خپله خوراکه به يې له نورو ليرې ځايونو څخه واردوله. ما خلکو ته دا وښودله چې څرنګه د انګورو د تاکونو په منځ کې شپيشتې، لوبيا او ساييبن وکري چې هم خپلو کورنيو ته پروټين او خوراکه برابره کړي او هم د خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځارویو لپاره د وښو خوراکه. یعني د Intercropping یا په یوه وخت کې د څو نباتاتو کرلو، نوې طریقې مې دوی ته وښودلې، چې ښه نتیجه یې ورکړې ده.

هلمندی وایي چې د عینو مینه اوس په ځان بسیا ده، بهرنیانو ته زیاته اړتیا نه لري او افغانان کولای شي چې دا پروژه په مخ بوځي.

زه اوس غواړم خلک په دې پوه کړم، چې له وچو او شاړو ځمکو څخه ښنگه گټه واخلي. د بېلگې په توگه موږ تحقیقات وکړل چې پسته او زیتون په وچو ځمکو کې ښه نتیجه ورکوي؛ نو موږ غواړو چې د دې پروژو د پراختیا لپاره کار وکړو. پروسږکال مې د پستې ۱۱۵ بڼونه جوړ کړل. ښوون یا زیتون هم ښه نتیجه ورکړې ده، ځکه په کال کې یوازې دوه درې ځله اوبو ته اړتیا لري او د انگورو په څېر نازدانه نه دي.

ما په نورو مېوه جاتو هم کار کړی دی، املوک مې له لغمانه راوړل چې ښه نتیجه یې ورکړې ده. ناک مې له فراه څخه راوړل، چې د هغو نتیجه هم ښه ده. اوس غواړم، چې په حیواني او انساني غذاو باندې کار وکړم او هغو ته پراختیا ورکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلی هلمندی وايي:

له ټولو ستونزو سره سره د عینو مېنې پروژه یوه ښه بېلګه ده، که دولت داسې پروژې په نورو ښارونو کې عملي کړي؛ نو د دولت لپاره به ډېره سودمنه تمامه شي. د بېلګې په توګه زه وایم چې د عینو مینې په ښار کې ښاروالۍ او یا بریښنا ریاست هیڅ لګښت نه دی کړی؛ خو دوی ته له دغې پروژې نه عاید راځي. همدا ډول د فواید عامې او پوهنې ریاستونو هلته یوه افغانۍ هم نه ده لګولې؛ خو په عینو مېنه کې ښوونځي او سرکونه جوړ شوي دي، چې هم خلکو ته کار پیدا شو او هم د میلیونونو ډالرو پانګې د فرار مخه ونیول شوه.

د کندهار په نورو سیمو کې امنیت خراب دی خو په عینو مېنه کې امنیت له ډېر کم پرسونل سره هم ښه دی. چې امنیت ښه دی یوازینی علت یې د ښار د ډیزاین مسأله ده، ځکه د عینو مېنې نه د وتلو او عینو مېنې ته د راننوتلو لارې لږې دي.

حمید هلمندی وایي: افغانستان ډېر زیات ظرفیت لري، چې پر ځان بسیا شي، د دې پر ځای چې افغانان نورو هیوادونو ته لاړ شي او هلته درانه او ستونزمن کارونه وکړي؛ ان د نورو هېوادونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کسان کولای شي، دلته کار وکړي. دی وايي چې د یو هېواد په انکشاف کې پوهه ډېره مهمه ده. په ځانګړي ډول د کرنې په برخه کې خودکفايي زیاتې پوهې ته اړتیا لري، چې موږ څنګه له خپلو ځمکو، اوبو او بشري منابعو څخه مؤثره ګټه واخلو.

دی وايي چې افغانستان ته تراکتور تقریباً شپېته کاله پخوا راغلی دی؛ خو د افغانستان بزګران اوس هم په سمه توګه د تراکتور په استعمال نه پوهېږي.

هلمندی وايي که څه هم زه د عینو مېني په ښار کې دېرش سلنه سهم لرم؛ خو یوه روپۍ مې هم بېرته بهر ته نه ده وړې او خپله برخه ټول عاید مې بېرته د عینو مېني په ښار جوړولو کې لګولی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- یو نوښتګر، فعال او وړ افغان شخص دی.
- لومړنی شخص دی، چې په هېواد کې یې په نړیوال ستنډرډ برابر یو ښارګوټی طرح او ډیزاین کړ.
- تر جنګونو وروسته یې د کرنې په برخه کې په کندهار کې نوښتګرانه فعالیتونه وکړل.
- د عینو مېنې له درکه لاس ته ورتلونکې خپله ونډه توله پانګه په هېواد کې ساتي، چې دا یې د ملي مفکورې او وطنپالنې غوره بېلګه ده.

***

***

(c) ketabton.com: The Digital Library





پیاوړې اراده، لوړې او ملي موخې، روا حقونه او تر څنګ یې خلوص هغه څه دي، چې د انسان برى تضمینوي، څکه خو د داؤدخان دا مقوله ډېره مشهوره شوې، چې:

تصمیم د بري لومړی شرط دی

هر ستونزمن کار د اسانېدو شتونتیا لري، خو قوي هوډ لرل او ستونزو ته اوږه ورکول یې بنسټیز شرط دی. وایي چې یوه سوبمن د یو ځای په نیولو کې له ماتې سره مخامخ و، څو ځله یې زور وازمایه خو بری یې نه شو په برخه. د سوچ او فکر پر مهال یې یو مېږی ولیدۀ، چې په لسګونو ځله یې د خپلې توښې یو توکی لوړ ځای ته خېژاوه؛ خو زور یې نه رسېده، تر څه ځایه ورپورته کولو وروسته به بېرته ترې رالوېده. مېږي قوي هوډ لارۀ، بیا بیا یې هماغه کار کاوۀ، چې په ترسره کولو نه بریالی کېدۀ. مېږي تر ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



زيار او پرلپسې هڅو وروسته وکړی شول، چې هغه خوراکي توکی خپل زېرمه تون ته ورپورته او خوندي کړي.

سوبمن چې کله دا حال وليدۀ، له دې يې يو مثبت الهام واخيست، خپلو هڅو ته يې دوام ورکړ او په پای کې يې د هغه په پام کې ځای ونيوۀ.

د قوي هوډ ښځنبتان ماتې نه مني او چې څوک ماتې نه مني؛ نو تل بريالي کېږي؛ **حليمه خزان** هم د دغسې هوډ ښځنبتنه مېرمن ده. دغسې هوډ د بريا تر منزله رسولې او د خپلې ټولنې لپاره يوه بېلګه يې مېرمن ګرځېدلې ده. يوازې ښځمنې نه بلکې نرينه يې هم په نامه وياړي او د هغې په نيولې لارې نورو ښځمنو ته د تګ سپارښتنه کوي.

د پکتيا يو مدني فعال ډاکټر عبدالهادي "حماس" د خزان په اړه وايي:

(( حليمه خزان د پکتيا د نجونو په تاريخ کې لومړنۍ نجلۍ ده، چې ښوونې او روزنې ته يې مخه وکړه او نورو نجونو او د

(c) ketabton.com: The Digital Library





ښاغلی ډاکټر حماس له امان الله امان سره د مرکې پر مهال

هغو پلرونو ته يې دا ذهنيت ورکړ، چې خپلې لوڼې ښوونځيو او زده کړو کولو ته پرېږدي. که چېرې خزان دا جرأت نه وای کړی، چې ښوونځي ته لاړه شي او ان د نرينه و تر څنګ زده کړو ته دوام ورکړي؛ نو نن به په پکتيا کې د ښځينه ښوونځي نوم نه و. دا د خزان برکت و، چې د پکتيا غونډې دودپال ولايت نن د نجونو زيات ښوونځي لري. په مرکز ګرديز، احمدآباد، سيدکرم او څمکنيو ولسواليو کې اوسمهال ښځينه ليسې شته او هر کال ترې ډلې ډلې نجونې فارغېږي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر حماس وايي:

((حليمه خزان لومړنۍ مېرمن ده، چې په پکتيا کې يې د ښځو چارو د رياست دنده پر غاړه واخيسته. همدا رنګه له ښځو سره د خزان د ناستو پاستو او هڅو پايله وه، چې په پکتيا کې د ښځو شوراګانې رامنځ ته شوې. نن همدغه ښځې کولای شي، چې د هېواد او هېوادوالو لپاره په هره برخه کې کار وکړي او خپل نظرونه له نورو سره شريک کړي. خزان د پکتيا نالوستي او کره ښځې لاسي صنايعو ته وهڅولې، چې د خپل لاس په زيار پر ځان بسيا شي. زه خزان په پکتيا کې د ښځينه زده کړو بنسټ اېښودونکې ګڼم. دا هم د هغې يو وياړ دی، چې ټول عمر يې په زده کړو او د زده کړو په عاملو کې تېر کړ. هغه يو وخت د ولسي جرګې ټاکنو ته هم نوماندې شوې وه. دا فعاليتونه د هغې سياسي حرکتونه هم ګڼلای شو.))

د پکتيا يو بل مخور شخص استاد احمدجان" فيضي" د خزان په اړه داسې وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library





استاد احمدجان فیضی له امان الله امان سره د مرکې پر مهال

(( فکر کوم چې ۱۳۴۴، ۴۵ یا ۴۶ کال و، چې زموږ شاګرده وه او له نهم ټولګي فارغه شوه. یوه بله خور یې هم ورسره وه، سلیمه نومېده، هغه هم فارغه شوه. خزان ډېره صادقه او رښتینې ښځه ده، ډېره پیاوړې ښځه ده. دوی اصلاً د درې اوسېدونکي دي، خو خزان په ګردېز کې پیدا شوې ده. پلار یې هم یو مطبوعاتي او روشنفکر سړی و. خزان یو سیاسي ښځه هم ګڼلای شو، چې په دې وروستیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې عملاً د سیاست ډګر ته راووته. دا هم ډېر ښه کار دی او د خزان حق و، چې یوه لېسه د هغې په نامه شوه.

حلیمه خزان د محمدخزان لور په (۱۳۳۱ل) کې زېږېدلې ده. په ۱۳۳۸ل کې په ښوونځي کې شامله او په ۱۳۴۷ل کې له نهم ټولګي څخه فارغه شوې ده. هغه وخت په ګردېز کې له نهم ټولګي څخه پورته د ښځینه و د زده کړې لپاره کومې مؤسسې نه وې؛ نو حلیمې خزان مجبوراً د عبدالحی ګردېزي په نرینه لېسه کې له هلکانو سره یو ځای تر دولسم ټولګي پورې زده کړې وکړې. بیا یې وروسته په دارالمعلمین کې دوه کاله پښتو ادبیات ولوستل. له۱۳۴۸- ۱۳۵۷ل پورې په "وړانګه" جریدې کې د ښځو د برخې چلوونکې وه.

له ۱۳۴۸- ۱۳۸۴ل پورې یې د ښوونې او روزنې په ډګر کې خپلې ټولنې ته خدمت کړی دی. په ۱۳۸۱ل کې د ښځو چارو رئیسه وګومارل شوه؛ خو د پوهنې ریاست د موافقې له مخې یې د ګردېز د ښځینه لېسې د مدیرې په توګه تر ۱۳۸۴ل پورې دنده ترسره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پوهنې په ډګر کې د خزان د زياتو او ارزښتناکو خدمتونو له امله د هغې په ژوندانه، په۱۳۸۲ل کې د سلواغې په ۲۷د ګردېز د ښځينه و ښوونځی رسماً د هغې په نامه ونومول شو.




په ۱۳۸۳ل کې له افغانستان څخه د لسو ښځو په ډله کې د نوبل جايزې ته هم نومانده وه. په ۱۳۵۲ل کې يې د ممتازې ښوونکې په نامه لومړی درجه ستاينليک تر لاسه کړی دی.

په ۱۳۸۲ل کې يې يو ځل بيا د غوره مديرې په توګه لومړی درجه ستاينليک تر لاسه کړ. د ښو خدمتونو له امله ورته د دولت له خوا د عمرې لګښتونه او د سفر اسانتياوې هم برابرې شوې او په۱۳۸۴ل کې يې د حج مبارکه فريضه ادا کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library





حلیمه خزان د خپلو ګلالیو ښځینه شاګردانو په منځ کې

د مالېزیا هېواد ته یې په یوه پوهنیز پروګرام کې د ګډون لپاره هم سفر کړی دی.

خزان تر ۱۳۹۲ل پورې په پکتیا کې د ښځو چارو رئیسه وه. په دې دوره کې یې د دولت، نړیوالې ټولنې او مرستندویه مؤسسو په مرسته د ښځو د اقتصادي وضعیت د ښو کولو، د روغتیایي ستونزو د لیرې کولو، د کاري ورتیاو د لوړولو او د بېسوادۍ د لمنځه وړولو لپاره د پام وړ اغېزناک کارونه ترسره کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- د پکتیا په څېر په دودیزه پښتنې ټولنه کې د ښځینه زده کړو د مخکښې او لار خلاصوونکي ویاړ ور په برخه دی.
- د هغې په هڅو په پکتیا کې ښځینه شوراګانې رامنځ ته او ښځینه یې د لاسي صنایعو ودې ته وهڅولې.
- ټول عمر یې د پوهنې په خدمت او په ځانګړي ډول د ښځو په ښوونه او روزنه کې تېر کړی دی.
- په پوهنیز ډګر کې د غوره خدمتونو له امله، د هغې پر ژوندانه یو ښوونځی د هغې په نامه نومول شوی دی.

***

***

(c) ketabton.com: The Digital Library





که یې د افغانستان کشمیر وبلو؛ نو لا به مو هم کمیني کړې وي؛ ځکه وايي هر چا ته خپل وطن کشمیر دی؛ خو رښتیا چې د افغانستان تر ټولو ښېرازه او ښکلې غرنۍ دره ده. مست ردودنه، رنې چینې، ګڼ ګور ځنګلونه اوښېرازه طبیعي منظرې یې له انسانه زړه تروړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



ځپانده راسا يې پر سينه د ښامار په څېر په غورځنګونو راروان دی او له ډېرې مستۍ له خولې سپين ځګونه بادوي. د هسکو غرونو له څوکو يې لوړالوته مرغان د خپلواکۍ سندرې زمزمه کوي؛ نو طبيعي ده چې داسې سيمه به داسې څېرې زېږوي، چې ښتني شال شي او چې هر پېغله ترې ورلاندې وځي نو **مستوره** شي.



د شال د کلي ژمنۍ منظره چې له ډېر ليرې يې انځور اخيستل شوی دی

مېرمن مستوره شال د سيدعبدالرزاق لورپه ۱۳۰۹ل کال کې د کونړ د اسمار په شال کلي کې زېږېدلې ده. په شپږ کلنۍ کې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیک لوست پیل او د هماغه وخت دودیزې زده کړې یې وکړې. مستورې شال د مروجو دیني او ادبي علومو ډېر کتابونه له خپل پلار څخه لوستلي وو. مېرمن مستوره شال له ۱۳۴۰ل کال را وروسته یې په کابل راډیو کې د ویاندې په توګه دنده درلوده. د هنر او ادبیاتو په څانګه کې د دندې پرمهال یې د پښتو او دري ژبو له ادبیاتو سره ښه اشنایي پیدا شوه؛ نو خپل استعداد یې په ادبي نثري ټوټو کې د ادب مینه والو ته هم وښوده. په وطن کې د کورنی جنګ جګړو د شروع کېدو سره سم پېښور ته مهاجره شوه. په پېښور کې به یې په ادبي او علمي غونډو کې ګډون کاوه. مستوره شال ښه شاعره هم وه، "پوړنی" یې چاپ شوې شعري ټولګه ده. نور اشعار یې هم د هېواد په مطبوعاتو کې دلته او هلته خپاره شوي دي. د شعر یوه بېلګه یې دا ده:

**روښانه شپه**

خیالونو د اسمان نه مې ګلونه را وربېږي
غوټۍ د تبسم دي چې زما لور ته غوړېږي
دا شپه ده د شبقدر چې جهان رڼا رڼا دی
که ستا د مخ څراغ مې د زړهٔ خونه کې بلېږي
ای شمعې ژړا پرېږده په خندا زما سره شه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پتنګه غورځه پرځه بې تابي مې دې خوښېږي
نن مسته صراحي شوه د ساقي لوري ته خاندي
شراب چې دي د میني ښکلو سترګو کې چورلېږي
ای غمه لرې لرې ځه له مانه لرې لرې
نن خوښه هم خندانه ټول جهان راته مسکېږي
زه ځار شمه له تانه له ځانه راته ګرانه
راځه راځه چې خاندو دا وختونه نه ټالېږي

***

سوز او ساز د سُر په خمخانه کې د شراب لرې که نه؟
د خوارو په حال سوې زړه کباب لرې که نه؟
سرګمه لالهانده ته د هجر په تیارو کې؟
رڼا د یار و لوري ته شهاب لرې که نه؟
ټناکې زړه دپاره چې له یوسره پولۍ وي
د رباب په عاطفې کې زړه حباب لرې که نه
چې ګرځي اواره په سم غر او بیدیا کې
د عشق لېونو ته کوم تناب لرې که نه؟
چې ورکه دې خودي کړي بېخودۍ کې خودنما شي
منم دې وایه داسې پېچ و تاب لرې که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



سجده د احترام چې شي تکرار و ملکو ته
اې خدایه وایه بل هسې تراب لرې که نه
میخوره او مدهوشه په خوبونو د غفلت کې
را پاڅېږه بیدار شه څه حساب لرې که نه
اواز د بقا خېژي د فرهاد د تېشی غږ نه
په عشق کې د شېرینې هسې تاب لرې که نه
چې درس د سوز او ساز وي مستورې په راز و نیاز کې
پتنګ د ښکلې شمعې ته کتاب لرې که نه؟

❊❊❊

**د افغان دښمن ته**

افغان هیڅکله بې غیرته یادېدلی نه شي
هر څه مني خو بې ننګي هیڅ وخت منلی نه شي
د خپل وطن او د ناموس او آزادۍ دپاره
سرور کوي خو بې پتۍ کې ژوند کولی نه شي
په قوي عزم چې افغان کله میدان ته تللی
لکه زمری په مخه ځي ځوک یې نیولی نه شي
واوره غلیمه ای غداره د افغان دښمنه!
ګیدړان هیڅ وخت په زمرو حملې کولی نه شي
ته به ترڅو په هغه، دغه افغانان غولوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک اوس پوه دي څوک په دروغو غولېدلی نه شي
که دې په توره شپه کې هر څه غلا کول له موږه
په رڼا ورځ کې غلې نور چا نه پټېدلی نه شي
هلته او دلته لوی ټبر د لوی افغان اوسېږي
د لوی افغان پوښتنې هیڅ رنګه ماتېدلی نه شي
د پښتنو او تاجکانو سره یو میدان کې
افغانان یو ځای قربانېږي په شاتللی نه شي
زموږ د ننګ، د وروروولۍ او د غیرت لاسونه
سره مضبوط دي په هیڅ شان جدا کېدلی نه شي
یا به افغان په خپله خاوره کې خپلواکه اوسي
یا به شي مړ خو باداري د چا منلی نه شي
افغانۍ خویندې افغاني ورونو پګړو ته کله
د چا د بد او ټیټ نظر کتل زغملی نه شي
د ننګ ناموس کار کې شریکې افغانۍ مېرمنې
ځي به جهاد ته کور کې نورې کېناستلی نه شي
زما پتمنو پښتنو، تاجکو ورونو واورئ
د مستورې د ننګ نغمې، چې چوپېدلی نه شي

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



مستوره شال يوازې ښه ويانده او شاعره نه، بلکې ښه نثرليکونکې هم وه. د نثر يوه بېلګه يې دا ده:

## د خدای شمع

په توره تروږمۍ کې چې هيڅ نه ښکاره کېدل او ما د کټ يو ګوټ او بل ګوټ لټاوۀ او ډېره ناآرامه وه، ستا له خوا راته په ډېر خوږ آهنګ کې داسې وويل شو:

"اې د زمانې په تورو پردو کې نغښتې او ورکه موجوده! يو وار د خدای شمعې ته وګوره ". د دې آواز په اورېدو ماستا و لور ته په غيرارادي ډول وکتل؛ خو د يوې مختصرې نګاه نه زيات زما سترګو د هاغه تېزو زرينو وړانګو دليدو تاب رانۀ وړ، وبرېښېدلې او زر يو بله کښېښودلی شوې چې تا بيا په خپله ملکوتي لهجه غږ وکړ:

"آه! آه! د خدای شمعې، د خدای شمعې، دې خوا، دې خوا، زر وګوره ".

تا زما سترګې لړې غوندې د خپلې رڼا سره آشنا کړې او په نيم خلاص طور مې ستا و لورته وکتلی شو. ومې ليدل چې ستا له هرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوا ښخه داسې لمبې پورته کېدلې، چې له سوځوونکي اور سره يې ډېر فرق درلود او له تاڅخه سر تر پايه د نور ښندنه شروع وه. ما ستا نوراني مخ په خپل کم طاقته نظر په هغو تېزو شعلو کې يو وار يو نظر وليدۀ او... ته څومره ښايسته وې چې زه دې ځان له توصيفه عاجزه وينمه او فقط دومره قدرې ويلی شم:

" ای د خدای شمعې! ستا رڼا، ستا جلوه، ستا جمال او ښايست او ستا هر صفت د انسان له تصوره هسک او پور ته دی، ځکه چې ته د خدای شمع يې او زما ژبه ستا له وصفه عاجزه وه. هو! ما وليدلې چې تا دواړه ښکلې سترګې چې له هيڅ شي سره يې تشبيه نه شي کېدلای، زما و لور ته نيولې او په ډېر عميقانه طور دې راته کتل او ما ځان ستا په رڼا کې بل راز ليدۀ، چې ناڅاپه تا خپل زرين او لرزان ورزونه خواره کړل او په داسې حال کې دې چې زما ښخه ځان ورک، محوه او زه بې حسه ومه راباندي وغوړول او خپلې پر حرارته منګولې دې زما په سينه کې ښخې کړې، زما سينه دې دوه پلې او څيرې کړه او هلته د زړه په تخت کښېناستې او دا ځکه چې تۀ د خدای شمع وې او زما زړۀ هم د خدای تخت و، زه دې وښوروله او ودې ويل: " زه د خدای شمع يم! د حقيقت د پلټنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



روڼا، د شعر ملکه، تهٔ په رڼا د عالم هره ذره کې د خدای عظمت ووينه، د خدای د قدرت کور زما په رڼا ليدل کېږي، څه! زما په رڼا د خدای کور ته ځان ورسوه...! ".

مېرمن مستوره شال د ۱۳۷۷ل کال د وږي پر نهمه په پېښور کې وفات شوه او په کونړ کې خاورو ته وسپارله شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځانګړې کارنامې:**

- هغه د افغانستان د راډیو په تاریخ کې لومړنۍ ښځینه پښتو ویانده وه.
- هغه یوازې ویانده نه وه، بلکې هغه شاعره او لیکواله هم وه.
- پر هېواد، پښتنو او پښتو مینه مېرمن وه، چې دا ورته د میراث په توګه راپاتې وو.

***

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ماخذونه


۱. اندړه، ښېړنیاره راضیه، د سیدبهاؤالدین مجروح ژوند، افکار او آثارو ته کتنه، د ښېړندوی علمي رتبې ته د ترفیع لپاره، ناچاپ، ۱۳۸۸ل. بېلابېل مخونه.

۲. آریانا دایرة المعارف، د دایرة المعارف ریاست، د افغانستان د علومو اکاډمي، دویم ټوک ۱۳۸۷ل، ۲۲۹- ۲۳۰مخونه.

۳. آریانا دایرة المعارف، د دایرة المعارف ریاست، د افغانستان د علومو اکاډمي، څلورم ټوک ۱۳۹۰ل، ۷۵۴-۷۵۵مخونه.

٤. آریانا دایرة المعارف، د دایرة المعارف ریاست، د افغانستان د علومو اکاډمي، پنځم ټوک ۱۳۹۲ل، ۱۲مخ.

٥. بېنوا، عبدالرؤف، اوسني لیکوال(بشپړ متن) علامه رشاد خپرندویه ټولنه، کندهار، ترتیب او زیاتونې مطیع الله روهیال، ۱۳۸۸ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦. پښتو، اتم ټولګي، دويمه ژبه، د پوهنې وزارت، د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تألیف لوی رياست، ۱۳۸۹ل، ۷۷-۷۹ مخونه.
۷. د افغانستان کالنۍ، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، د نشراتو رياست، له ۱۳۱۵- ۱۳۵۷ل پورې بېلابېلې ګڼې.
۸. د سولې اتلان، توانمندي، د نويو تعليماتو پرمختيايي مؤسسه، ۱۳۹۳منی، له ۴۶- ۵۰ مخ پورې.
۹. دريځ، امين الله، افغانستان در قرن بيستم، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۷۸ش.
۱۰.رفيع، حبيب الله، هغوی چې بيا نه راځي، راټولوونکی محمدنبي تدبير، مومند خپرندويه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۴ل.
۱۱.شمشاد مجله، د ۱۳۷۷ ش کال ۱-۲ ګڼه. ۱۶۵مخ.
۱۲.طنين، ظاهر افغانستان در قرن بيستم، تهران، چاپ اول ۱۳۸۴ش.
۱۳.غبار، مير غلام محمد، افغانستان در مسير تاريخ. چاپ دوم، پيام مهاجر، ايران، قم،اسد ۱۳۵۹ش. ص ۸۲۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱٤.غمخور، عبدالله، د غمخور کلیات، د افغانستان د کلتوري خدمتونو اداره، ملت پریس لاهور، ۱۳۸۰ل.

۱۵.کاموي، قضاوتپوه دوکتور عبدالمالک، شخصیت و میراث علمی و فرهنگی علامه مولوی غلام نبی کاموی، انتشارات نعمانی، ۱۳۹۴ش.

۱٦.مظهري ملورو، کبرا، پښتنې لیکوالې او شاعرانې، لومړی ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي، ددولتي مطبعه، ۱۳۶۶ل.

۱۷.مولایي، میراحمد، خاطرات و تاریخ(افغانستان ۱۳۴۴-۱۳۰۲هـ.ش) انتشارات هوای رضا، تهران، ۱۳۸۰هـ.ش.

۱۸.http://www.khorshed.org

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مرکې:**

۱. جلالي، علي احمد، د غلام جیلاني جلالي زوی، ۷۶ کلن، د کورنیو چارو پخوانی وزیر، ۲۰ دسمبر ۲۰۱۶م کال کابل.
۲. ځل، جنرال سید نور الله، د پولیسو اکاډمۍ پخوانی قوماندان، ۶۷ کلن، ننگرهار، رودات، ۱۳۹۵، سرطان ۲۵ مه.
۳. حاجي شیخ محمد حسن د عبدالحسین زوی د ننگرهار ولایت د کوز کنړ د شگي د قریه اوسېدنکي.
٤. حاجي نبي هوتک، نالوستی د شبرغان ښار اوسېدونکی، ۸۲ کلن. حمید هلمندی، مرکه ۱۳۹۵د تلې ۱۶مه، کابل، افغانستان.
٥. حماس، ډاکټر عبدالهادي د غلام سرور زوی د پکتیا ولایت د احمدآبا ولسوالۍ د سلام خېلو کلي اوسېدونکی، ۴۰ کلن.
٦. خاتول، جنرال خاتول، سردار محمدعثمان محمدزي لور، شاوخوا ۵۷ کلنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷. رفیع، څېړنوال حبیب الله د نصرالله زوی د میدان وردګو ولایت د سید آباد ولسوالۍ د آبدرې کلي اوسېدونکی، ۷۱ کلن.

۸. غلجی د محمدجان زوی، د کونړ پخواني اسمار د بارګام اوسېدونکی، ۷۵ کلن، نالوستی.

۹. فیضي، استاد احمدجان، د فیض محمد زوی د پکتیا ولایت د مرکز اړوند د ملک خېلو کلي اوسېدونکی، ۷۱ کلن.

۱۰. قاضي، ولید غوث الدین د عبدالقادر قاضي زوی، ۴۵ کلن، ۲۰۱۶م نومبر ۳۰مه، کابل.

۱۱. معلم عبدالهادي د عبدالرؤف زوی د لغمان اوسېدونکی، ۶۸ کلن.

۱۲. میا سیداحمدشاه د میانواب شاه زوی، ننګرهار سور رود، د ننګرهار ولایت اداري کارمند، ۷۹ کلن.

۱۳. نعیم، نادر د سردار عزیزنعیم زوی، ۴۲کلن، ۱۳۹۵لړم۱۲، چارشنبې، کلوله پشته، برج برق سیمه، کابل افغانستان.

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library